# ماته سیپی

Ketabton.com

لیکواله عارفه عمرلور

کال 1383

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړني:

|||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: ماته سیپۍ

لیکواله :: عارفه عمرلور

چاپکال :: 1383ل کال

چاپشمیر :: (500) ټوکه

خپروونکې :: په خپله لیکواله

چاپځای :: دانش خپرندویه ټولنه، پېښور

کمپیوټرکار :: لطف الله جاهد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څــپرکـــی

په بخارۍ کې د ډېرو سکرو څلور ګردې، ګردې لوټې په سرو سکروټو بدلې شوې وې، خو د کوټې هوا لا سړه وه. که څه هم دغو سکروټو هڅه کوله، چې د کوټې هوا توده کړي، خو د کړکۍ د زړو پلاستیکونو له شلېدلو درزونو نه راننوتونکې د سړو څپو د سکروټو هڅې ورشنډولې .

هغه د بخارۍ تر څنګ ناسته وه، په خپل غېږ کې پروت ښکلي ماشوم پر تورو او نرمو وېښتو يې خپلې نرمې او سپينې ګوتې راښکلې. که څه هم دوه سترګې يې د سکرو پر سکروټو نښتې وې، خو په ذهن يې د سلطان خبرو ورو، ورو چکونه لګول.

واوره ښه په خلاصو غوړېو واوره، يا به له څرکه تېرېږي او يا به له زمان سره...

دا غونډله يې له ذهنه، لکه د اور سيخ څو، څو ځله تېره شو، خو په هر ځل به نيمګړې پاتې شوه. برېښنا په ځان کې د دغې غونډلې د بشپړولو ځواک نه ليده، خو دغې نيمګړې غونډلې به هم د برېښنا په مغزو کې د اور لمبې بلې کړې. په دې منځ کې برېښنا هڅه کوله، چې د خپلې مور کيسې ته غوږ شي، هغې ته به يې د سترګو لاندې وکتل. دا دی يو کال او څو مياشتې اوښتې وې، خو د امنې په غوښين مخ او ښکلو غوښينو شونډېو کې خندا سر لا نه ښکاره کاوه. د امنې وېرژلې بنې به د برېښنا پر ذهن او زړه د غم لړمان ورخوشې کړل، دا ځکه خو يې ترې سترګې واړولې او خپلو زورونکو خيالونو ته يې له ډېرې نهيلۍ پنا يووړه، امنې په دې ورځو کې برېښنا ته زښتې ډېرې اوږدې او پخوانۍ کيسې راپيلې کړې وې؛ د کوټ د متين کيسه، د ننګرهار د شاغاسي کيسه، د کنړ د غلام محمد کيسه. ښايي هغې غوښتل چې په دغو کيسو کې خپلې لور برېښنا ته اروايي بوختيا پيدا کړي او يا يې غوښتل، په دې کيسو کې برېښنا ته يو څه ووايي. امنې د ارواپوهنې په څانګه کې خپلې زده کړې کړې وې، ښايي يوه وجه يې هم همدا د هغې زده کړې تجربه وه، خو امنې ګومان کاوه چې برېښنا يې کيسو ته غوږ ده، ځکه خو به يې سمدواره يوه بله کيسه ورراپيله کړه. مګر له دغو ټولو او ډېرو کيسو څخه برېښنا يوه غونډله هم بشپړه نه وه اورېدلې او ان کله، کله به يې لا دې ته هم پام نه و، چې مور يې ورته کيسه کوي .

امنې اوس هم ورته د کوټ د متين کيسه راخيستې وه، همدا چې مور يې په نرم غږ دا ناره وويله :

د متين مورې، زما تروري، نه به متين راشي، نه به ما کړي کور دننه .

برېښنا وواهه او پرته له دې چې خپلې مور ته لږ پام وکړي، په تراټ له کوټې ووته. خو همدا چې په انګړ کې د سړو سړې څپې يې پر مخ ګوزار وکړ، نو ايله يې په خپله غيږ کې ويده دوه کلن ماشوم ته پام شو، بېرته کوټې ته رادننه شوه. په خپلې خور ګلالۍ پسې يې سترګې وګرځولې. شپاړس کلنه ګلالۍ د کوټې په کونج کې راټوله ناسته وه، څه يې لوستل، دې د هغې غېږې ته ماشوم ورګوزار کړ، ګلالۍ ورته هيښ، هيښ وکتل، خو برېښنا ترې مخ واړاوه، په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه تُند حرکت ووته. یوه شېبه یې د خاورینې چوترې پرنې خاورې ته ورکتل، چې ورو، ورو یې د سلیمان خندانه بڼه، لکه برېښنا له ذهنه تېره شوه. د هغه د غني خان شعرونه زښت ډېر خوښېدل، چې چا به هر کار وکړ، نو ده به ورته د غني خان یو شعر وواېه او بیا خپله د برېښنا د ذهن پرده د غني د ابیت راونیوله

دا د پښولاندې خاورې چې ګورې

دي د چا شونډې سرې، سترګې تورې

دا یرې معشوقې وې چې تلې په خندا

ورته مه کړه ژړا ورته مه کړه ژړا

د دغه شعر په رایادولو، لکه ځورېدلې وي، داسې په چټکو ګامونو د کوهي پر غاړه ولاړې د منې وچې ونې په لور وخوځېده او همدا چې د وچې منې پر وچې تنې یې منګوله ولګېده، نو سرِنی پسرلی یې پر زړه راواورېده. سږ پسرلی دغې ونې، زښت ډېر بار ونیوه، ټولو ویل دې منې هېڅکله هم دونه بار نه نیوه، د امنې سترګې به چې پر منې ولګېدې، نو سمدلاسه به یې وویل :

دې منې هېڅکله هم دونه بار نه نیوه، خو هغه مهال برېښنا ته د ونې په بار کې هېڅ توپیر نه ښکاریده او ان دا ځل لاورته منې پیکه، رنګه ښکاریدې او بیا ورو، ورو هغه مهال یې پر زړه راواورېده، چې د سلیمان دوی کور ته د تګ لپاره یې یوه، یوه ورځ ګڼله. دا باید د لیندۍ په میاشت، د سلیمان دوی کورته تللې وای او هغه ورځ هم راورسېده، خو دا مهال د منې ونه مخ په وچېدو وه. ټولې مېوې یې رژېدلې وې. یوه، یوه دانه پاته یې، لکه غرغره سوې، داسې مړاوې، مړاوې راځړېده .

که څه هم ټولو ویل چې منه له نظره شوه، سږ کال یې زښت ډېر بار نیولی و، خو برېښنا ته دا خبرې بې ارزښته وې، هغې ځان منې ته په یوه هېښونکي ډول نژدې احساساوه، ځکه خو د سلیمان دوی کور ته له تګ دمخه یې پرټولو دا دین کېښود، چې د منې ونه به نه وهي او کله چې د سلیمان دوی کور ته روانېده، نود منې ونې ته دومره په ځنډ ودرېده، چې د ټولو پرې د لېونۍ ګومان راغی. دا ورځ د لیندۍ شلمه وه، ایله په دې ټول کال کې د لومړي ځل لپاره، د کابل پر ښار سپینه واوره په ګډا، ګډا اورېده. ایله، ایله د مارغانو له سترګو د افشارو، څلورمې کارتې، میوند واټ، زړو مکروریانو، رحمان مېنې او د ټول کابل کنډوالې واورو پټې کړې وې، ایله په دې تیرو څو کلونو کې کابل یو رنګ موندلی و، چې برېښنا د خپلې شتمنې خسرګنۍ په بدرګه کې، د خسر کور ته ولاړه .

د برېښنا پر ذهن هغه شېبه راواورېده، چې لا خو پر ځای به سمه نه وه ناسته، چې سلما ورته په ورغوي کې

کونجي کېښوده، دې زر زیرې کونجۍ ته وکتل، په دې کې سلما وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریندارې! دا ستا خپل امانت دی، داسې مې درته سلامت ساتلی، چې د چا هغه بد نظر هم پرې نه دی لګیدلی او بیا یې پر شونډو یوه شیطاني موسکا وځغلېده. برېښنا یوه شېبه کونجۍ ته کتل، چې د تودو اوښو یې ورته اننګې ښکل کړه، کونجۍ یې په منګولو کې داسې راټیټه کړه، لکه ناستو کور بنوته د اور په ګوته کوي، چې دا کونجۍ په رښتیا هم یواځې د دې امانت دی. عقیدې مور ته یې د سترګو لاندې وکتل، هغه له بنې قهرژلې برېښېده، خو حاجي صیب سره په لوړ غږ خبرو باندې یې هڅه کوله، د نورو له سترګو قهرژلي حالت کړې.

برېښنا د هغې دا حالت ښه محسوس کړ، مګر په خوله یې څه ونه ویل، تر څنګ پر نیولې پروت، خوبولي څرک ته یې وکتل. بیا ورو له ځایه جګه شوه، پرته له دې چې ناستو کور بنوته څه ووایي، د هغوی د هېښو نظرونو په بدرګه کې له کوټې ووته .

د غټ ګردي دهلېز په ها بل پلو کې هماغه کوټه وه، کومې چې همدا اوس یې کونجۍ د برېښنا په منګولو کې پټه وه. برېښنا په اوچتو ګامونو د دهلېز د لوکس فرنیچر له کړو وړو لارو نه تېره شوه، خوهمدا چې د ښکلي ګردي مېز له څنګه تېرېده، مېز سره د ټکر له وجې د مېز پرسر ایښې بلورینه ګلدانۍ پر ځمکه راپرېوته او زرې زرې شوه. د ګلدانۍ له ماتېدو سره جوخت، برېښنا پښه ونیوله او تر شا یې وکتل، د ګلدانۍ ګلان تیت پراته وو .

ورېنداري خیر دی، د دوه روپیو ګلدانۍ وه، څه د سرې سر خو نه و !

د غږ په لور یې وکتل، سلما په موسو شونډو د ناستې کوټې په درشایي کې ولاړه وه، خو برېښنا ترې په چوپتیا مخ واړاوه .

د ګلدانۍ ماتېدو د برېښنا په ذهن کې یوعجیب شور ماشور جوړ کړی و، خو سره له دې هم د کوټې پر لور روانه شوه. کوټې ته چې ورسېده، د کوټې د وره پر کونډې یې ګوته راوښکله. پرکونډې دومره ګردونه پراته وو، چې د دې د ګوتو خاپ پرې اوچت پاتې شو. دا ویوهېده چې د دې له تګه وروسته چا دا دروازه نه ده پرانیستې، نو په ارامۍ یې کولپ ته کونجي ننه ایسته او په کې ویې څرخوله، له یوه نرم ټک سره کلپ پرانیستل شو. د دروازې په پرانیستلو کې زړه نا زړه وه، رښتیا دا ده، چې د دروازې له پرانیستلو ډارېده، ورو یې دروازه ټېله کړه، لکه دروازې هم هسې پلمه غوښته، د دې له وړې ډکې سره سم پرانیستل شوه. برېښنا هماغسې په درشایې کې ولاړه وه، پر دننه کوټه کې یې خپل سکین نظر وځغلاوه، بلورین قندیل هماغسې غلی او بې خوځښته ځوړند و. د کړکۍ په تاخ کې جریبن او ګلپاڼ ګلان وچ شوي وو، د سینګار مېز په سر ایښې د عاجو ناوکۍ، د لاس په پیاله کې د خوب ښکلي څراغ داسې مړوو، لکه بیا چا نه وي روښانه کړی. خو پرهر څه د دوړو نرۍ پرده ښکاریده.

څولوېشته ها خوا یې سترګې د واده پر پلاز ولګېدې، د پلاز پر سر خورې سرپلازۍ نه، داسې ښکارېدل، چې له هغې ورځې نه بیا تر دې دمه چا ګوتې نه دې وروړې او لا خو د سلیمان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پڅۍ نقش پرې داسې اوچت ښکارېده، لکه همدا نن ګهیځ ترې سلیمان پاڅېدلی وي .

ورمنډه یې کړه، پر پلاز پرمخې پرېوته، په های های یې وژړل، ډېرې شېبې پر پلاز پرته وه، له دوو ښکلو شونډو یې ورې سلګۍ، لکه ورې مرغۍ الوتې. د شپېو په تېرېدو یې سلګۍ ورو او بیا کرارې شوې. له ځایه پاڅېده، د خپل ناوېتوب پلاز ته یې بیا وکتل، داسې لکه د دغه پلاز په ننداره، چې نه مړېده، هسې یې ترې د سترګو اړولو زړه نه کاوه .

بیا یې پر کوټې ځغلنده نظر واچاوه، هر څه د یو کال پخوا په شان وو، ان د غني خان کتاب لا پرهماغه ځای پروت و، چې کله سلیمان له وتو څخه دمخه ترې یو ښکلی شعر برېښنا ته واوراوه. ورو یې د کالیو د الماری پر لور وکتل، وړاندې ورغله، په الماری کې د سلیمان کالي لا هماغه شان خوندي ځړېدل، هماغه شان د سلیمان توره کورتۍ له نورو کالیو جلا ځړېده. پر کورتۍ یې ورو، ورو ګوتې راوښکلې، بیا یې ورو، ورو د کورتۍ جېبونو ته منګولې ورښکته کړې، داسې لکه کله به یې چې ساړه وشوه، نو نژدې به ورغله. په همدغو جېبونو کې به یې لاسونه دننه کړل او سلیمان به هم تر هغې ورته ولاړ و اود دې د ښکلو تورو سترګو ننداره به یې کوله، تر څوچې دې به په خپله خوښه، د هغه له جېبونو منګولې راوښکلې، خو بیا به نووار د سلیمان و، چې د دې د ورېو او نرۍ پڅۍ په تودوښه د خپلو ځواکمنو رګونو ساړه وشړي.

هماغه کورتۍ، دا دی په کوټېند ځړېده او دې هم د تشې کورتۍ په جېبونو کې د تودېدو په هیله لاسونه ننه ایستې وو او ورو یې کورتۍ مخې ته ورنژدې کړه. دې کورتۍ د سلیمان د بدن خوږ ورږم ښه خوندي ساتلی و. د دې لپاره چې دا ورږم ډېر بوی کړي، په کورتۍ کې یې خپل مخ ښه پټ کړه، له دې سره نو نن اوښکو ښه کلک تړون کړی و، ځکه خو یې د اوښکو نیز لا څپڅپانده کېده. کورتۍ یې له کوټېند سره په غېږ کې ونیوله، خدای زده، چې هغې به څومره موده پر کورتۍ د خپلو تبجنو اوښکو باران اوراوه، چې یو مهال نوره نو پر ځان ونه پوهېده .

ښځې سمه کیسه وکړه، له کیسې نه دې ژړا ډېره ده !

د پلار له غږ سره برېښنا شڼ وواهه، ایله پر ځان وپوهېده، چې د پلار په کور کې ناسته ده.

د کوټې په لور یې ترشا وکتل، د کوټې کړکۍ تړلې وې، خو د مور او پلار شور ماشور یې ښه اوچت اورېدل کېده او په دې منځ کې یې د مور د ژړا غږونه خورا اوچت وو، چې ویل یې:

سړیه زه یې له نورو نه ډارېږم، خو چې زلمی مو ځوان وای، نو د برېښنا د ګټلو به هم څوک و، د حاجې دې به هم رانه سترګه سوځېده. ما ته خو دا خلک سیالان نه ښکاري، نه چې بل پسات ونه کې.

د سراج قهر ژلی غږ پر انګړ چوپتیا لاسبرې کړه،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې د ډار پکشې راته مه خوشې کوه، زه نر وينم چې زمونږ برېښنا ته پاس کدرې هم وګوري، مګر دا سر په دې تنې نه وي نو او بل تاسې ښځې د وېرې غول ياستئ غول.......

له دې سره جوخت د کوټې د دروازې پرانيستل کېدو او بيا بندېدو غږ راغی، ورپسې په ټول کور کې چوپيتا خوره شوه او په دې وژونکې چوپتيا کې برېښنا د وچې منې ترڅنګ، لکه بت هسې غلې ولاړه وه، خپل لاس کې د سليمان د لاس سرو زرو ګړی ته يې وکتل، د ګړی طلايي ستن، د مازديګر پرڅلورو بجو ولاړه وه.

په زړه کې خوښه شوه، دا ځکه چې دا ده، دا څلورمه ورځ هم په خير او بې له څه خبرو تېره شوه. دا چې سبا به څه کېدل، برېښنا يې له انګېرلو هم ډارېده. لوړ يې وکتل، ژمنی لمر پريوتو و، له ډېرې خوښۍ په يخنۍ نه پوهېده، د دې ورځې تېرېدل ورته داسې ښکاره شوه، لکه چا يې چې له اوږو او زړه نه کوم درونډ او لوی پېټی ښکته کړی وي، داسې په خوښۍ د وچې منې له څنګه وخوځېده .

  

د دو زړو پردو له منځه دسباني لمرسپينووړانګو يوه سپينه ليکه دکړکۍ نه دکوټې تر منځه داسې غزيدلې وه، چې د کوټې پرغولې د خور ټغر سورۍ ، سورۍ پڙۍ يې د سترګو ننداړې ته ايښې وه. بيا يې نرمه سپينه ليکه د برېښنا د شنو او پړسېدلو شونډو او اننګو له پاسه ښويېدله او بيا د څرک پر ګلابي شونډو راپرېوته. څرک د کمکيوالې رنګين خوب زنګاوه، برېښنا يې تر څنګه په ټوکلي، ټوکلي بدن او پړسېدلي مخ داسې ډوبه خوبولې پرته وه، لکه هغه مهال چې لا ناوې وه او سباني خوب به داسې کلکه په غېږ کې راونيوله، چې لمونځ او د سبا ناری به ترې پاتې شو ...

ګلالۍ ايله د انګړ له جارو کولو لاسونه مينځلي وو، چې لويه دړه په قهر څو، څو ځله وټکېده، د دروازې له ټکېدوسره برېښنا شټ وواهه، سمدلاسه له خوبه پاڅېده، زړه يې شديد ټکان وکړ، پر زړه يې لاس کېښود، خو په منډه يې د دروازې له سره قران شريف راواخيست، څو، څوځله يې ښکل کړ، بيا يې په غېږ کې کلک ونيو، چې ايله يې د زړه درزا کراره شوه، خو پر ژبه يې لا هماغه دعا څرخېده.

_خدايه خير کې، پاکه خدايه ته مې بېوسۍ ته وګورې، يا ربه خير کې .

دې لا قران شريف په غېږ کې کلک نيولی و او لا له دعاګانو نه وه خلاصه، چې د سلطان غږ يې په غوږونو لکه تندر راپرېوت. سلطان په دهلېز کې ولاړ و او چيغې يې وهلې، څه يې ويل، د سراج غږ به هم کله، کله ورسره ټکر کاوه .

دې هڅه وکړه چې يو څه واوري، غوږونه يې د دهلېز پرخواوربوڅ کړل، د سلطان غږ يې پر غوږو ولګېد، چې په چيغو يې نارې وهلې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوهېدي! یوه ستر‌گه به یې ژاړي، یو به یې خاندي. هغه شینګړه مجبوره ده، چې کورته لاړه شي او لکه مرداره هلته واوسېږي .

ورپسې د سراج چې د برېښنا پلار و، قهر ژلي غږ برېښنا ولړزوله :

ما د حاجي په کور کې نر نه دی لیدلی، ته بیا کوم ګیدړ یې، چې برېښنا له ځانه سره وړې .

ای سراجیه! له ټغر سره دې سمې پښې غزوه، داسې به یې درنه یوسم، چې له حیرانۍ دې خوله تر پښوځیرې شي وهېدې!؟

د امنې له زاریو ډک غږ جګ شو :

زویه نور نو زما پر لور حق نه لرئ، د هغې کمبختې همدایو غم بس دی، تاسې زما د دې خوارې لور نه څه غواړئ؟

_مرګ غواړو مرګ، وپوهېدلې؟ تاسې زما د لور نه څه غواړئ؟ شینګړې لور ته دې لړه حیا ورزده کړه، چې پر ځای کېني او در نه شي .

د برېښنا نو نور زړه کرار ونه موند، ورپسې ووته. که ګوري چې پلار یې له سلطان سره لاس او ګرېوان دی، د سلطان په ځوانو او ځواکمنو متو کې کمزری اونیستې وهلی سراج داسې ښکارېده، لکه د دیو په متو کې چې کومه پریښته بنده وي. برېښنا پر خپل ځای دربدلې پاتې شوه او په راوتلو هېښو سترګو یې د خپل پلار او سلطان د جګړې ننداري ته کتل، خو شېبه به لا نه وه تیره، چې له انګړه زلموټې زلمې او پیغلوټې ګلالۍ سوټې په لاس راپیداشول؛ دوۍ دواړو په ګډه مخ پرسلطان ورمنډې کړې، خلک خو هسې په تشه نه وایې، چې په یوه نفر چې دوه شې، رڼا ورځ پرې توره شپه شي. امنې هم په سلطان ګوزارونه پیل کړه، خو سلطان د دوی له ټولو ګوزارونوسره، سره ځان خلاص کړ او مخ په دروازې یې منډه کړه. سراج همدا چې د سلطان له متو خلاص شو، د خپل عدت سره سم یې یوې خوا ته لاړې تو کړې، بیا یې خپل وزرونه وځنډل، د برېښنا پر خوا یې تر سترګو لاندې وکتل، سمدلاسه یې لویې دروازې ته مخ کړ او په چیغو، چیغو یې وویل :

ولاکه پرې ښاد شې، مګر زه نه یم دوسانو.

خو په همدې شېبه کې بیا د انګړ دروازه پرانیستل شوه، سلطان بیا راښکاره شو، خو کور ته رادننه نه شو، همالته په ولاړه یې برېښنا ته په چیغو او قهرژلې ژبه وویل:

شینګړې زه به ستا او ستا د دې دیدو پلار مذهب په لاس درکړم .

سراج ورپسې وګرځېده .

_څه، څه لاس دې څلورو خواوو ته خلاص، د حاجي زو، زه وګورم چې نر څوک دی او ښځه څوک ده؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـډېر مه غرتېږه، داسې کانې به دربانديې وکړم، چې له لور دې د کوڅې سپيمه ډېره قدرداره وي.

ـدکوڅو سپيمه خو ستاسې په کور کې ده، هغه عقيده مور جانه دې ښيم، د کارمل ښځه .

ـوايم خوله دې پرځای خوځوه، که نه زما د کړوخولو سمول ډېر ښه زده دي، د هجړا پرکټيه .

ـځنګه ميره دې يو وخت د کارمل او برياليې بې نکاح ښځه نه وه، د ښځو د سازمان مشره، د ښځو د حقوقو مدافع، پلار ته دې ښځه نه پيداکېده، نو ځکه د کوڅو په ټول کال سپيمې واوښت .

د سراج په دې خبرو سلطان يوه شېبه غلی شو.

خو سمه د واره يې په داسې حال کې چې غاښونه يې چيچل، وويل:

سراجيه قسم دی چې که مې د اسمان ستوري دربانديې شمار نه کړه، نو زه به رښتيا ښځه يم او ته به نر او بل ای شينګړی د تېښتې د وخت يار دې د مزو نه پس په لاره مرداره پرېښووې، مزداره شپه يې تېره کړه.

ـسلطانيه زما د لور نوم په مرداره خوله مه اخله، دا ستامېره نه ده، چې په هره ناولې خوله يې نوم وګرځي .

له دې سره يې په سلطان پسې ورمنډه کړه، خو سلطان سمدلاسه پښې سپکې کړې او د سترګو په رپ کې بيا نه و .

د سلطان له تلو سره د سراج په وړوکي ختين او خوار کور کې يو ځل بيا کراري او چوپتيا خوره شوه. په کوټه کې ټول غلي کېناستل، امنې به کله، کله سراج او بيا به يې برېښنا ته وکتل، برېښنا راټوله ناسته وه، سر يې ښکته نيولی و. سراج د تسبو دانې ژر، ژر اړولې، خو ګلالۍ او زلمی يو د بل تر ځنګ داسې په غرور ناست وو، لکه دوی ته چې ښيي :

که مونږ دواړه نه وو، له تاسې يې کوفتې جوړولې .

ـامنې په کرارۍ برېښناته مخ واړاوه لورې! شکر ځوانه يې، بې سياله ښايسته يې، که بل واده ته زړه ښه کې، خدای به درته کال داوخت غونډې مونډې ښايسته لکه ګل زوی درکړي، له دې زويه ورته تيره شه، نه چې بل پسات دربانديې وکړي، زه خو له همدې خبرې ډارېږم، دا رنګه خلک زويه ډير عقيدې وي، ته په دې خبرو نه پوهېږې .

خوسمدلاسه سراج پرې له قهره راغږم وهل :

داچټيات دې بس کړه، ملامته نه يې ښځه يې د ډار ګوډې.

ـدا ته يې د غيرت او تورې بنګړی، ووايه څه کولی شې؟

ـای بې عقلې ښځې! د دغو بې علمه ملايانو امير فرمان صادرکړی، چې څو په ...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــهو! بس، بس زه پوهېږم، په دې ټولو خبرو خبره يم، دا ټولې هسې د خولې دوړې دي، د بازي لور ګلمينۍ خسرګنو څنګه په زور يووړه، اوس يې يوه پټکي څوارلس کلن هلکي ته کېنولې ده .

ــښځې ښه واوره هغه بازی و، زه سراج يم، ودې پېژندم؟

ــد وخته مې پېژندلی يې، چې شپږ خط لپاره په جېب کې يوه انه هم نه لرې .

او! بيا دواړو وخندل، سراج په خندا کې وويل :

ــڅه خير، بيا به درمعلوم شم، د تش جېب پيغور مه راکوه، زما ژوند خو تا ته معلوم دی، اوس خو خدای داسې راوستې ده، ښايي ازمويي به مو .

برېښنا ته د مور او پلار خندا هېښوونکې وه، خو څه يې ونه ويل، د سترګو لاندې يې وچې منې ته وکتل، چې سهارني باد يې وچ ښاخونه يو بل سره غاړه غړې کول او د هېوکو د لګېدو غږ يې تر دې ځايه رسېده، خو نرۍ وچه ملا يې لا نېغه پاتې وه.

▯▯▯

له هغې ورځې چې سلطان په برېښنا پسې راغلی و، يوه اوونۍ تېره شوه، خو حاجي دوی سره او سپين نه ښکارېدل، سراج دوی هم ډېر خوښ وو، په تېره سراج ډېرخوښ ښکارېده، هغه ګومان کاوه، چې په خپل قهر يې سلطان دوی ډارولي دي، ځکه خو به يې په وار، وار وويل :

حميد بابا رښتيا وايي چې: چېرته ډب هلته ادب، کنه اوس به مو د حاجي دوی کارونه ليدلي وو. خو د امنې زړه ته داخبره نه لوېده، هغې سراج ته وويل: ګومان کوم چې مار دې مړ نه کړ، لنډی دې کړ.

برېښنا هم د خپل پلار په شان خوښه وه، هغې هم انګېرل چې حاجي دوی ډارېدلي دي، که نه هغوی د خوشې کولو خلک نه دي، د پلار او د سلطان تر منځ د جګړې اتم ګهيځ وو، برېښنا له پخوا نه په خوښۍ له خوبه راپاڅېده، زر، زر يې خپل لمونځ وکړ، هغې خو هسې هم د پلار په کور کې جارو نه کوله، داځکه چې په وار، وار يې ورته مورنۍ نياويلې وه، چې خورلڼه (واده کړې نجلۍ) بايد د پلار او پلرګنۍ کورونه جارو نه کړي، بيا يې پلرګنۍ نېستمنه کېږي، نو بې له جارو يې د کور نورې ټولې چارې ژر، ژر تر سره کړې، څرک يې ومينځه. هغه نو اوس نوی په خبرو راغلی و او لکه ښارو يې يوه، يوه نيمګړې خبره کوله، همداسې يې د هغه خبرو ته غوږ نيولی او ډوډۍ يې ورکوله. د څرک تورې اوږدې، اوږدې غټې سترګې، تکه سپينه بڼه، اوږده، اوږده باڼو ګان او تک تور زيږه وېښتان يې د مور په شان وو، خو ښايسته شونډې او نرې اوږده لاسونه يې د سليمان په شان وو، خو وړې پښې يې د برېښنا غونډې وې، ټولو به همداويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرک نیم مور ده، نیم پلار .

دې خبرې ته يو نيم کال وړاندې برېښنا زښته ډېره خوښېده، دې غوښتل چې دا خبره له چا او هرې خولې نه واورې، مګر اوس پر برېښنا دا خبرې دومره بدې لګېدې، چې سمدلاسه به يې هغه ځای پرېښوده، هغې غوښتل چې ټول ووايي :

ځرک ټول مور، مور دی .

برېښنا چې به کله ځرک ته جامې وراغوستلې، نو دې خبرې ته به يې پام شو، چې رښتيا هم ځرک نيم مور و، نيم پلار. په زړه کې به يې ويل:

د خدای څه لوی ذات دی .

دا ځل يې د ډوډۍ پر مهال بيا ځرک سر تر پښو له سترګو تېرکړ، مګر د څه مجال يې په دهلېز کې د شور ماشور له وجې پيدانه کړ. سراج په منډه دهلېز ته ووت. ورپسې زلمی، بيا امنه ووتله. برېښنا په دهلېز کې خبرو ته غوږونه بوڅ کړل، د خلکو په زوږ کې يې د خپل پلار غږ اوچت اورېده، چې په لوړ غږ يې ويل: ملا صيب! شکردی الحمدالله، مسلمانان ياستئ، يومسلمان د بل مسلمان کور ته داسې بې ستره نه ننوځي .

د يوه تن لوړ غږ ټول غږونه غلي کړه :

وايم چپ شه د کمونيست زويه! ته بيا له کومې مسلمان شوې، څه شوه هغه غله؟

او شېبه وروسته کوټې ته يو له ونې دنګ څښور ښکلی سړی له ماشينګنې سره يوځای راننوت، د هغه په ليدو برېښنا پر سر ټيکری زر، زر جوړکړ، سړي وخندل:

اوس پوړونی پرسروئ اه، پخوا دې خدای نه و په ياد، دا ښه دی چې موږ يو، که نه تاسي لاچکو به بازاراونه درلودل.

خو برېښنا څه ونه ويل، همداسې يې ځرک نور هم په غېږ کې کلک کړ، هغه هېښه وه، چې څه خبره ده؟

څو څښور طالبان په کوټه کې د کوم څه په لټولو بوخت شول، داسې ښکارېده چې په دوه نورو کوټو کې هم همداسې پلټنه روانه ده، بېرته يې ژر څښور سړي ته وکتل، دغه ټوپکوال سړي ورته په قهر ژلوسترګو داسې کتل، چې په سترګو کې يې کرکه له ورايه ځرګندېده. د څښور سړي تر شا امنه په لوڅ او ببر سر راننوته، سمدلاسه يې د برېښنا په لور ورمنډه کړه، هغه يې له ځرک سره په غېږ کې راونيوله، په داسې حال کې چې د برېښنا له وړې او نری ملا نه يې د خپلو لاسونو کړۍ نوره هم تنګوله، څښور طالب ته يې په ترهېدلو سترګو کتل، شونډې يې رپېدلې، لکه غوښتل يې چې څه ووايي، خو ژبه يې په خبرو نه ځرخېده،خوله يې وچه وه، د څښور وهم دومره ډېر و، چې امنې نه غوښتل، د هغې رېږدېدا څښور ووينې، نه چې يې لور، يا دې ته څه ووايي. امنې په داسې حال کې چې څښور دنګ ټوپکوال ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې کتل، کله، کله به يې سترګرو لاندې دهلېز ته هم وروکتل. په دهلېز کې سراج او زلمی د ټوپکونو او خيرنو څنډو په کلابندۍ کې تښتېدلي رنګونه ولاړ وو. د سراج لاسونه دوو څنډرو طالبانو تر شا کلک نيولي وو. سراج مخامخ په کوټه کې دننه کتل، خو د کتلو ټکی يې نه ښکارېده، خو زلموټي زلمي چې لا څوارلس کاله يې له تنکي ژونده تېرشوي وو، کنځلې کولې، ګواښونه يې کول، چې کله ځوان شي، نو دوی سره به ضرور ګوري. يوه طالب ورته ښه کلکه څپېړه ورکړه، خو دې څپېړې زلمی قهر ژلی کړ:

د سپي زويه، بې غيرته، ډارنه، که نر يې لاسونه راته خلاص کړه، چې درسره معلومه يې کړم، په تړلو لاسونو مېړی هم وارکولی شي .

د زلمي پر دې خبرو ناڅاپه طالب، چې پر زلمي يې وارکړی و، تک سور واوښت، سترګې يې له قهره داسې راووتې، چې نژدې و له کاسو ولوېږي، نابېره يې خپل ټوپک خپل ملګري ته وروسپاره په لوړ غږ يې چيغه کړه:

ـــآه، مولوي صاحب! دی يې راسره معلوموي، ته دې کار پرېږده، راسه چې له ده سره يې معلومه کړم او بيا يې په قهر زلمي ته مخ کړ :

ـــچاړه دې چېرې ده؟

زلمي هېښ، هېښ وروکتل، خو طالب پرې چيغه کړه :

راسره معلوموې يې نه؟ نوولې دې د ښځو په شان رنګ ژېړ سو، وام چاړه دې چېرې ده؟

په دې منځ کې سراج نژدې و، چې کرېکه کړي، هغه په دې پوهېده، چې د کندهاريانو يو بل سره معلومول، د روسي دويل يوډول دی، چې يو د بل ورنونه تر هغو په چړو سره وهي، تر څو چې يو يې له پښو ولوېږي، بيا سهابل تن مجبوروي، چې بېهوښه تن تر روغتونه ورسوي. سراج دارنګه پېښې هغه وخت چې په هلمند کې يې دنده تر سره کوله، زښتې ډېرې ليدلې وې. ده زښت ډېر تنکي ګلالي ځوانان ليدلي وو، چې يو بل سره د معلوملو په ليونتوب کې سوري، سوري شوي وو، نو ځکه خو زلمي طالب ته په زاريو شو :

ـــملا صيب دی خوار د معلوملو په سر بر نه پوهېږي، دی خو ماشوم دی کنه، هسې بد يې وکړه ته يې وبښه .

ـــچې سره معلومه يې نه کړو، نه يې پرېږدم، ده ما ته بې غيرته وويل، خپله شرمېږي نه خورې...

ـــګوره زويه ده بد وکړه او ته يې هم توريالی، ما ومنلې چې ته توريالی يې، نور يې نو پرېږده .

په دې وخت کې له کوټې د دنګ مولوي غږ لوړ شو .

اه، نورکه څه له کو شنيانو سره مبنتي يې، بس يې که نو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دي غږ سره طالب غلی شو، ورو یې په خپل لاس کې رااېستلې چاړه په بېړه ووهله او ایله ورته د سراج هم پام شو، چې طالب چاړه هم راویستلې وه، نو له ډاره یې اندامونه زیړه شول، خو سمدلاسه یې په زړه کې شکر وایست، چې بلا وه، برکت یې نه و. بیا یې ورو شانې کوټې ته وکتل؛ په کوټه کې دنګ څڼور طالب هڅه کوله نورو ته داسې وښیي، ګوا کې نه غواړي، چې ښځو ته وګوري، نو ځکه یې په یوه دروند نظر برېښنا ته وکتل، یوه شېبه یې د برېښنا پر مخ نظر تم شو، خو سمدلاسه یې ترې سترګې واړولې. که څه هم سر یې په ږیرې، برېتونو او وېښتو پټ و، خو بیا هم د نظر څرنګوالی یې محسوسېده، پر شونډو یې یوه ناڅرګنده موسکا راڅرګنده شوه، د برېښنا پر خوا یې یو قدم وړاندې واخیست، بیا یې په نرمۍ ترې سترګې د امنې پر لور واړولې او په ټیټ غږ یې وویل :

ــ ښه اجانۍ، نو هغه غله برېښنا همدا ده، کواره خو یې هماغه رنګ ده .

بیا یې برېښنا ته په داسې قهر ژلي نظر، چې امنه او برېښنا دواړې یې ولړزولې، وروکتل، سمدواره یې چیغه کړه :

ــ اه غني! اه طلامامده! وایم الکو دلې راسئ.

بیا یې امنې ته په قهر ژلې ژبه وویل .

ـ اجانۍ ایله یې که نو .

خو امنه په برېښنا پسې نوره هم ونښته، دوه زلمکي طالبان، په دې وخت کې کوټې ته راننوتل، له ښځو نه لرې په درناوي ودرېدل، دنګ څڼور ښکلی طالب چې ټولو ورته مولوي ساب، ناري وهلې، د دغې څڼورې او ځوانې ډلې قومندان ښکارېده. دنګ مولوي دوه زلمکیو طالبانو ته په نرمه ژبه وویل :

ــ الوکانو دېخوا سئ او بیا یې خپله د برېښنا په لور یو بل ګام هم واخیست، په داسې حال کې برېښنا ته نژدې کېده، په امنې یې سترګې ګنډلې وې، خو کله، کله به یې برېښنا ته یو غلچکی نظر هم اچاوه .

مولوي د امنې مخامخ ودرېده، په ترخه ژبه یې وویل :

وام اجانۍ! په خبره سر خلاص کړه او دوري سه که نه راڅه خوابدې کېږې .

لکه امنې چې څه نه وي اورېدلي، داسې یې برېښنا نوره هم غېږې ته نژدې کړه، چې دنګ مولوي پرې چیغه کړه:

اجانۍ نور مو نوپه عذابوې او له دې سره یې امنې ته لاس واچاوه؛ له متې یې ونیوله او په ځواک یې خپلې خوا ته راکش کړه، په داسې حال کې چې په هماغه ځواک یې پر دېواله وویشتله، په چیغه یې وویل:

تاسې لاچکې بازارۍ په یوه خبره نه پوېږئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنه له دېواله سره لګېدو نه وروسته پر ځمکه راولوېده، د هغې له رالوېدو سره جوخت په کور کې شور ماشور جوړشو، سراج څه ویل زلمي په کنځلو، کنځلو د ځان د خلاصون هڅه کوله، ګلالۍ کړیکې وهلې، خو برېښنا په دې منځ کې په داسې حال کې چې له څرکه یې خپلې دواړې متې کړې، کړې وې، غلې ولاړه وه او په یوه ناڅرګند نظر یې خپلې مور ته کتل، چې مورئې له لوېدوسره جوخت په څلور شوه او د څښور مولوي په لور یې په خاړپوسو منډې کړې.

امنه همدا چې د طالب پښو ته ورسېده، د هغه له پښو یې خپل لاسونه کړې کړه، هغې په چیغو،چغیو د خپلې لور د ګناه سپیناوی وغوښت. دا ځل دنګ طالب په نرمه ژبه وویل :

اجانۍ زما څه په وسه دي، اخر لور دې د خسر له کوره غلا کړې ده، هغه ده غلا یې هم معلومه سوه .

ــزما لور غله نه ده، هغه ما په پاکو شیدو لویه کړې ده، هغه ما غله نه ده لویه کړې، ما داسې شیدې نه دي ورکړي ...

طالب یوه شېبه غلی شو، داسې غلی شو، چې د ټولو ګومان پرې راغی، چې ګنې د امنې زاریو نرم کړ، خو طالب په نرمۍ د خپلو پښو خلاصولو په هڅه پیل وکه او لږ په ډېرې نرمۍ، چې د هغه د بڼې او څښو سره نه ښایېدله وویل :

ګوره موره کې! ما ته امر سوی دی او بیا موږ په هغه څه پسې چې راغلي وو، پیداکړه، تا خپله ولیدل، زه نوڅه کولای سم؟

ــزویه داچا کسداً دلته ایښې وه، کنه زمونږ په کور کې خو یوه ټنګه هم نه پیداکېږي، دا اخر کوم چال دی، ما خو دا نه وې لیدلې .

ــ اوس مې پرېږده او له دې سره مولوي په یوه شدید ټکان سره خپلې پښې خلاصې کړې، سمدلاسه یې برېښنا ته مخ کړ :

ــ ژر کوه تیاره سه، چې ښځې دې ناوخته کړ!

له دې سره امنه په کړیکو له ځایه جګه شوه او لا یې ملا کړوپه نیولې وه، چې مخ په برېښنا یې منډه کړه، یو ځل بیا یې برېښنا په غېږ کې ونیوله .

ــ د خدای لپاره بس دی، چې لور مې له نصیبه خواره ده، بس دی چې ښه ورځ یې نشته، هغه د خدای په دې دونه لویه خدایي کې څه لري، چې تاسې به یې ترې واخلئ، هېڅ به ترې وانه خلئ، لور مې هېڅ نه لري، هېڅ به ترې وانه خلئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې په داسې حال کې چې مورنیو تبجنو اوښکو ورته اننګي لانده کول، په قهر یې د برېښنا له غبېږې نه څرک راکش کړ، ورسره یې برېښنا د طالب په لور ټېل وهله، په تنده ژبه یې وویل :

ــ درسره یو یې سئ، یو یې سئ، هسې هم زما دې خوارې لور ته خدای څه نه دي ورکړي، بس دغه یو په کې نه وو .

د امنې دا خبرې نه وې، لکه په کور کې چې د ژړا او کړیکو چاودنه وي، داسې ژړاوې او کړیکې وچاودېدې. امنې ملالۍ او زلمي په کړیکو او ژړا خولې پرانیستلې، د دوی له ژړا اوکړیکو سره د څرك، ژړا او د خپلې ولچک شوې مور خوا ته لاسونواو پښو وراولو هم ملګرتیا کوله، په دې منځ کې سراج سر ښکته او غلی ولاړ و. مګر پر مخ یې یوي، یوي اوښکې په سستۍ ځان راښکاره کاوه او برېښنا نو نور هېڅا ته نه کتل، د مور په غېږ کې یې دڅرک پر مخ، لاسونو، پښو، ګیډې، سر او سترګو د ښکلولو باران واوراوه، داسې یې غېږې ته نژدې نیولې و، چې نژدې و، د هلک سا وباسي. امنې ترې هلک واخیست، ګلالۍ ته یې وسپاره، چې چېرې یې پټ کړي. برېښنا د تلو پر مهال تر شا د منېې وچې ونې ته وکتل، چې د کوهي پر غاړه، لکه د دې په شان غلې او بې غږ و غوږه ولاړه وه.

☒☒☒

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم څپرکی

شا و خوا یې وکتل، دغې ورې کوټې کړکی نه درلوده، چت یې ډېر لوړ و، د چت له څیگره یو تک تور نری تار راځړېده، په تار پورې داسې ځراغ ځړېده، چې د مچانو په ډېرو گندگیو یې تک تور رنگ غوره کړی و، لکه د چا مخ یې چې په کومه گناه تور کړی وي. بیا یې په دار ځړولی وي او د دې لپاره چې خلک ترې د عبرت درس واخلي، دا دی د ډېرې مودې لپاره یې نو په دار ننداري ته ایښی دی. د دغې دوه متره کوټې که څومره دېوالونه لوړ وو، هماغومره یې دره ورې د کړکۍ په شانې وه. دا چې برېښنا یې څرنگه او پر کومه لاره دلته راوستله، هغه هډو نه پوهېده، ان په دې هم نه پوهېده، چې دا کومه سیمه ده، دا ځکه چې په تورې ښیښې وال په پردو پټ موټر کې یې یوازې ډرېور، چې کله، کله به یې د موټر په هینداره کې پر دې د زړه سوي یو لنډ نظر واچاوه او ډرېور تر څنگ یو تورکی ډنگروکی زلمی هلک نه پرته نور څه نه لیدل. د ډنگروکي زلمي څېره چې دنگ مولوي ورته غني، غني نارې وهلې د دې په دوه سترگو کې یې ولاړ و، د هغه متفکر حالت د هغه پټه خوله، د هغه درانه کړه وړه عجیبه وو، که دې طالبان نه وای لیدلي، خو ها خوا دېخوا یې ورته کیسې ډېرې اوریدلې وې، گنې قهرجن خلک دي، بېرحمه دي، د ښځو درناوی نه ساتي، له تورنو خلکو سره د سپوچلند کوي او داسې نور چې وحشیان دي، د درناوي نوم یې هم نه دی اوریدلی، دا ځکه چې ډېره کې یې پښتانه دي، خو په دغه طالب کې چې لا به یې یوڅو پسرلي لیدلي وه او لا به یې څلور ځلې روژې نیولې وې، دا هر څه نه وو. غني په موټر کې داسې غلی ناست و، چې له تیږې سوړ خاته، خو له دغه په بڼه تک تور نه سوړ نه خته، د برېښنا په یاد شو، چې یو ځل پرې ډرېور غږ وکړ :

_جانانه داسې نو نه کېږي، ته لا اوس راغلی یې، پر دې شیانوخوا مه بدوه، پرې اموخته به سې! د غني له خپل عمره غټ غږ لا د دې په غوږونو کې ازانگې کولې، چې د ډېور په ځواب کې یې ویلي وو:

زه نو سپی نه یم، چې پر د امردارو کارونو اموخته سم او بیا یې ورو په هینداره کې د برېښنا په لور یو درونډ نظر واچاوه. یو مهال برېښنا یې یوه غټ انگړ کې ښکته کړه او بیاد هماغه دنگ مولوي په لارښونه غني برېښنا تر دې کوټې راوستله او دلته یې کلپه کړه .

په کوټه کې پرته له غنو چې پر دېوالونو او چت هره خوا خپل جالونه غوړولي وو، د غنیې که څه هم واړه ښکارېدل، خو د جالونو په نویو تارونو پسې یې مچان ځای، ځای داسې نښتي وو، لکه غنو چې دغه مچان په کومه کبیره گناه نیولي او سمدواره یې غر غره کړي وي. برېښنا لاندې د کوټو غولي ته وکتل، د سگرویټو فلترونو، د سگرېټو کوټیانو او د اورلگیت سوځوېدلي خلیو ټوله کوټه نیولې وه، لکه چا چې کسداً دا وړه او تشه کوټه په دغو څیزونو ډکه کړې وي. د خلو فلترونو او کوټیانو په منځ کې یوه یو نیم متره کمپله هم غوړېدلې وه، د کمپلې له پاسه یوه ناولې او خیرنه نیولۍ او یوه ډېره ناولې سرویږده هم پرته وه، خو پر نیولۍ سرویږدې او کمپلې ځای، ځای شنه وچ شوي نسوارو د دې گواهي ورکوله، چې همدا نن له دې کوټې نه څوک وتلی دی. سمدلاسه برېښنا په خپلې غلطۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوهېده، اخر جمعه خو پرون وه او نندارې خو د جمعې په ورځ کېدې. د غازي سټډيوم خو يوازې د جمعو په ورځو کې د خلکو او مجرمانو پر مخ پرانيستل کېده، نو ضرور د دې کوټې بندي يې پرون له دې کوټې نه ايستلی و. دا چې اوس به يې ترې سرغوڅ کړی وي، که مری له دې نه نو خدای خبر دي، پر کوټې يو زړخن بوی خور و، لومړی خو دغه زړخن بوی بربښنا زوروله، خو ورو، ورو ورسره روږدې شوه، ان تر دې چې نور يې نو د بوی احساس نه کاوه، لمړی به دزړخن بوی له وجې په پړوني به يې خپل پوز پټ کړ، مگراوس نوهغه بوی نه و. که څه هم وخت ورو، ورو تېرېده، مگر دې وړې کوټې چې يوه وړه بنديخانه وه، خپله ډارونکې څېره لا خوندي ساتله، په کوټه کې يوه ډارونکې چوپتيا هر خوا خپل وزرونه خواره کړي وو، خو په دې چوپتيا کې يوازې غنې وه، چې په خپلو منډو يې يو محسوس شور زېږاوه، پوره يوه ورځ هېڅا د دې وړې کوټې وړه کړکۍ ډوله دړه ونه ټکوله او نه يې پرانيستله. که څه هم بربښنا ټوله ورځ ډوډۍ نه وه خوړلې، خو بيا هم وږې نه وه، مگر غوښتل يې چې څوک ورته راشي، څوک ترې څه وپوښتي، تر څو دا هم د خبرې په سر او بر وپوهېږي. که څه هم په کوټه کې د کړکيو د نشوالي او ټوله ورځ دځراغ د روښاوالي له وجې ورته ورځ او شپه نه ښکارېده، خو د لاس په گړۍ کې وپوهېده، چې شپه لا د وخته بره شوې ده، په همدې ترڅ کې يې غوږونو ته د پښو ښکالو راغله او بيا ورو، ورو په لرې کېدو شوه، په داسې حال کې چې غوږونه يې دوره تر شا د بوټونو لرې کېدونکې ښکالو ته بوڅ کړي، ورو يې خپل ټيکری پرڅان راهوار کړ، غوښتل يې چې وغزېږي، نوسرويږدی ته يې وکتل، پر سرويږدې دوه خرامانو سپږو چې په ناز، ناز راروانې وې، له ځايه وارغوچوله، يوه وړه کړيکه يې له خولې ووته، خو سمدواره پر ځان وقهرېده، زړه يې راډک شو، غوښتل يې چې په چيغو، چيغو وژاړي، مگر د دې پر ځای چې چيغې او کړيکې وکړي، څو مړې سړې اوښکې يې پر اننگو راوښويېدې، چې همدا شېبه دروازه هم چا پرانيستله، په دې وړې کوټې کې يې اوس نو دا دی درې څلور ورځې تېرېږي. اوس نو ورته دا سپږنه سرويږده ناولې نه ښکارېده، اوس يې نو ټولې سپږې پېژندې، په هرې يوې يې جلا، جلا نوم ايښی و، ان کله به چې يوه يې له شمېرې لږه راووته، نو دا به اندېښمنه شوه، د سرويږې گوټ، گوټ به يې لټاوه، نور نو ورته د سگرېټو فلترونه او کوتيان د اورلگيتو سوځېدلي ډکي او ځای، ځای وچ شوي نسوارو زړه بدوونکې نه وه، همدا څيزونه وه چې دا يې دا څو شپې او څو ورځې بوخته ساتلې وه. دې سره يې غم شريکي کړې وه، له دې سره ښه ډېر گړېدلي وه، اوس نو غنې مچان سپږې غوماشې دا ټول يې ښه ملگري شوي وو، خو په دې منځ کې زلمي غني به هم کله، کله په خپلې يوې نيمې پوښتنې له دې سره خپله خواخوږي ښوده .

د ډوډۍ راوړلو او وړلو پرمهال به يې نيمه پوښتنه له دې وکړه، ورسره به يې ډاډينه هم ورکړه، خو هغه به په تلو کې ضرور ويل :

ــ وارخطا کېږه مه، طالبان بنديان ډېر په بند کې نه ساتي، ستا به هم هر څه ژر معلوم سي، نه گورې چې ته يې له کوماندانۍ دباندې نه يې ايستلې. که څه هم بربښنا غني تش په نوم پېژانده، خو له گړېدو يې پوهېده، چې غني هلمندوال دی، د هغه په تورو سترگو کې به يې کله، کله خپلوي او کله هم پرديواله احساسوله. که څه هم غني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب و او برېښنا تورنه وه، خو له دې ټولو سره به غني ورسره په نرمه او خوږه ژبه غږېده، په داسې خوږه ژبه، چې برېښنا به يې د خپلو پښو د ښکالو اورېدو لپاره لېواله ساتله .

اوس يې هم شا و خوا وکتل، بيا يې د پښو رانژدې کېدونکې ورو ښکالو ته غوږونه بوخ کړل، خو داځل د پښو ښکالو د يوه تن نه وه، د دو تنو وه او دا ښکالو داسې رانژدې کېده، چې په کوټه کې دننه د مچانو، مياشو او غېو شور په کې ورو، ورو سکين کېده. ژر پر ځای کېناسته، ځان يې په خپل پړوني کې ښه راونغاړه او له ډاره يې په راوتلو سترګو دروازې ته کتل، چې ور په نرمۍ پرانيستل شو، لومړی ترې هماغه تورکی غني رادننه شو، ورپسې دنګ او ښکلی مولوي ملا ټيټه کړه او کوټې ته راننوت. د مولوي په ښکلې بڼه کې د ملنډو موسکا اوچته ښکارېده، خو سترګو يې په يوه خواږه او ترې انداز برېښنا ته کتل. د هغه د دې بڼې په ليدو د غني تندی له قهره راوځړېده، په داسې حال کې چې خپله لاندېنۍ شونډه يې د غاښو په پنجو کې نيولې وه، غلی او بې خوځښته داسې چې په مولوي يې سترګې ونه لګېږي، په ډډه ودرېده، خو دنګ ځښور مولوي په ورې کوټې کې ها خوا دېخوا شو، د متيازو د بوی له وجې يې پوزه مونجه کړه، يوې خوا ته يې لاړې تو کړې، بيا يې په خندانه ژبه وويل :

ــ ياني چې ښځه هم غلا کولې سي، اه، توبه، توبه دې وي، زماخدايه استغفرالله .

غني ناکراره شان شا و خوا وکتل، عجيبه وه، په دې سره ژمي کې دا کوټه د دومره حيواناتو ډکه وه، لکه سور اوړی چې وي. پر دېوالونو غنې، په هوا کې مچان او پر ځمکه مياشې نسوار او د نويو پيدا شويو مېږيانو دوې توري، تورې ليکې ښکارېدې، برېښنا ته يې وکتل، هغه پرېنولۍ راټوله او غلې ناسته وه، چې په دې ترڅ کې دنګ مولوي د هغې پر لور يو بل قدم واخيست. مولوي نن د سپينې پاچ لونګۍ او سپينوجامو پر ځای د کندهاريانو ښکلې توره لونګۍ او تورې جامې اغوستې وې. که څه هم مولوي کندهاری نه و، خو ټولو ګومان کاوه، چې هغه به کندهاری وي، دا ځکه چې د هغه بڼه د کندهاريانو په شان وه، هېچا هم نه ويل، چې له کومې سيمې دی. ده هڅه کوله چې د کندهاريانو پېښې وکړي. د مولوي په ليدو د هر چا په زړه کې دا خبره ضرور راګرځېده، چې هسې خو کندهاريانو خپلو کندهاريو پښتنو، ښکلو بڼو لپاره تورې چاچې او تورې لونګۍ نه دي غوره کړي. هغه جامې، دغه رنګ جامې په لومړي ځل غوره کړې وې، لکه په دې چې ښه پوهېده، چې پښتنه نارينې څېره څرنګه د ښکلا عرج ته رسېدلی شي او نن دنګ مولوي همدا شان راغلی و، خو نن يې د نظر خواږه او د ژبې ترخه ډېر وو، نن يې تندی رڼ و، خوځېدنه يې نرم وه، خو خندا يې له ملنډو ډکه وه، په نرمه د برېښنا مخې ته کېناست، په داسې حال کې چې له ښکلو لاجوردي تسبو سره په تورو وېښتو، پټوسپينو لاسونو يې لوبې کولې، په نرمۍ يې وويل :

ــ قاضي صاحبان تا ته منتظر دي، الله دې وکړي چې رښتيا ووايې .

بيايې په ډېر غرور له ځايه پاڅېد، په وتوکې يې وويل :

ــ که رښتيا ونه وايې، نو زما د خولو خلاصول ډېر ښه زده دي، بيا به پښېمانه يې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شېبه یې برېښنا ته کتل، بیا یې په نرمۍ وویل :

ــ زه به تا ته ډېر وخت درکړم، وګورم چې ته څونې اوښیاره یې، کواره خو دې د اوښارو خلکو ده.

له دې خبرو سره د وره په لور وخوځېد، د وتو پر مهال یې پر غني غږ وکړ:

ــ الکه غني درسره بو یې ځه زما دفتر ته.

غني په هېښتیا د مولوي پر لور وکتل او له ځانه سره یې وویل:

ــ دده دفتر ته نو د چیش لپاره؟

برېښنا ته یې سترګې واړولې، د هغې پر مخ اوښکو دوې نرۍ او لمدې لیکې جوړولې، د ښي لاس څټ یې په غاښونو کې کلک نیولی و، د هغې د اوښکو په لیدو غني ورسره د زړه سوي او ډېر نژدېوالي احساس وکړ؛ په زړه سوي یې ورته وویل :

ــ پر الله پاک باور ولره، هغه ذات حقیقي دی، درځه چې ځو، مولوي ساب منتظر دی.

خو بر ښښنا هماغه شان پر خپل ځای ناسته وه، سترګې یې ښکته نیولې وې او اوښکو یې ورته خوار اننګي لمدول، چې غني بیا ورته وویل :

ــ زما یوه خور ده، د ایغې نوم ام برېښنا ده، رښتیا درته وایم، د ایغې نو ام برېښنا ده، مورکه خو مې داسې وایي .

له دې سره برېښنا د غني تورو سترګو ته چې تل به په کې سرو لیکو د ده سترګو ته د نشو رنګ ورکړی و، خپلې سترګې ورجګې کړې، په دغو تکو توروسترګو کې یو زړه راښکونکی شان نژدېوالي او خوږوالي څرک واهه. غني په بڼه ښه ډېر تک تور و، ببخي تور لونګ و، مګر د خلکو خبره پوله او پتې یې دومره ښکلی و، چې دغه تورواله لا ورسره ښه ایسېده، هسې یو ناځاپه د برېښنا په زړه کې سلیمان راوګرځېد، هغه هم له رنګه تور و، مګر د برېښنا مور به تل ویل :

هلک چې تور شي شاهزاده شي نجلۍ چې توره شي بنګړي دې خرڅوينه.

بیا یې د سلیمان خبرې پر زړه راواوربدې، چې یوه ورځ یې دې ته په ټوکو کې ویلي وو :

ــ برېښنا! کله چې یې ته راکړې، نو ستاسې خپلوانو به په زړونو کې ویل چې .

دا هلک تور دی نجلۍ سپینه لکه کارغه چې جلغوزی په خوله کې وړینه

ــخور درځه چې ځو !

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غني په دې خبره برېښنا شنډ وواهه، لکه چا چې ناڅاپه له خوبه راپاڅولې وي، په ترهېدلي نظر یې شا و خوا وکتل. غني بیاوویل:

ــ درځه چې ځو، باره به ناوخته سي خور!

عجیبه وه، یوه طالب ورته خور وویل، هغه هم په یوه بندیخانه کې. دا ورته ډېره هېښېده، اخر خلکو داسې نه ویل، چې طالب به دومره نرمه ژبه ولري، دا خبره ډېره هېښنده وه، دومره هېښنده، چې برېښنا یې پر خپل ځای د څو شېبو لپاره مېخ کړه. په داسې حال کې چې هڅه یې کوله، تر څو غني د دې په ناکرارۍ ونه پوهېږي، ذهن یې له دې غونډلي ډک و :

(درځه چې ځو، باره ناوخته سي خور!، باره په ناوخته سي خور!). همدې خبرې یې ذهن داسې راډک کړ، چې هر څه ترې هېر شول، هغه په ځان نه پوهېده، چې څنګه راپاڅېده، څنګه له کوټې راووته او اوس چېرې روانه ده، خو د طالب له خولې د خور کلیمه پرې دومره خوږه او درنه پرېوتې وه، چې له غني سره په ښه زړه وخوځېده، چې کله به ورته غني وویل: خور داسې ځو .

خدای پوهېږي چې برېښنا به ولې سمدلاسه هماغه خوا ته وخوځېده. له څو دهلېزونو تېره شوه، د یوه دهلېز په وروستۍ برخه کې یې یوې کوټې ته راوبلله، د کوټې د دروازې پر سر لوحې ته یې وکتل؛ پر لوحې په تورو کرښوغټ لیکل شوي وو :

(د مولوي عتیق الله طالب اطاق). دواړه لوڅې پښې د مولوي عتیق الله طالب دفتر ته ننوتل، خو دفتر ته په ننوتو یې سمدواره سترګې پر دنګ مولوي ولګیدې، چې کران شریف یې طلاوت کاوه، د دوی په ننوتو مولوي هېڅ له ځایه ونه خوځېد، هماغه شان د پاک کلام په طلاوت بوخت و. غني د دروازې تر څنګ برېښنا ته، چې په بورقه کې سر تر پښو پټه وه، د کېناستو وویل. برېښنا د غني په لارښوونه د دروازې په خوله کې کېناسته، بیا یې د نظر نیلی د مولوي عتیق الله طالب پر دفتر وځغلاوه، دفتر د کور د ناستې د کوټې په شان و؛ څلورو دېوالونو ته نرۍ، نرۍ نیولۍ غوړېدلې وې، د کوټې پر غولي څلور، پنځه د نسوارو ایر نکونه ایښې وو، د کوټې په یوه کونج کې دنګ مولوي ته مخامخ دوه ماشینګنې ولاړې وې. پر دې دفتر خو د برېښنا د کوټې ګومان راغی، هغه هم د یوې کورنۍ د ناستې کوټې ګومان. دفتر خو ورته هېڅ نه ښکارېده، خو همداچې د نظر نیلی یې پر دنګ مولوي پرېوت، سمدلاسه یې د کوټې لوحه د ذهن له پردې تېره شوه، چې پرې لیکل شوي وو:

(د مولوي عتیق الله طالب اطاق). ایله اوس وپوهېده، چې دنګ مولوي عتیق الله نومېږي، همدا چې مولوي عیتق الله د قران کریم له تلاوته وزګار شو، دوی ته یې مخ راواړاوه او غني ته یې د لاس په اشاره د وتوویل. غني هم سمدلاسه له کوټې ووت، خو دباندې د وره ترڅنګ جوخت ودرېد، تر څو د مولوي عتیق الله خبرې واوري. مګر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي په دومره ټيټ غږ غږېده، چې د غني غوږونو ته لا ايله د هغه د خبرو يو، يوتوری رارسېده. دا ځل يې غوږونه د دروازې د کونجې پر سوري ورسريښ کړل، چې ايله يې دومره واوريدل :

ــ گوره لېونۍ کېږه مه، ستاپه پايدي يې وايم !

برېښنا څه وويل خو غني وانهورېدل، چې بيا د مولوي غږ جگ شو :

ــ اوس لا سرې وخت دی، پام دې اوسه چې زه بيا هر څه کولای سم .

د برېښنا بنگې راغی، مگر غني يې په خبرو ونه پوهېده، په دې وخت کې مولوي په لږ لوړ غږ وويل :

ــ ته نو په هېڅ نه پوهېږې، سمه خره يې .

بيا يې په ښه لوړ غږ نارې کړې :

ــ اه غني، وام څه سوې راسه دا فاحشه درسره بوځه، څه چې په کېږي، کيږي به نو .

له دې خبرې سره سم غني کوټې ته ننوت، دنگ مولوي د قران کريم پر لور روان و او برېښنا داسې په دېواله پسې په پټ مخ نښتې ولاړه وه، لکه چا چې پر دېواله سريښ کړې وي، د هغې د بدن رېږدېدا له بورقې هم اوچته ښکارېده، داسې ښکارېده چې برېښنا ځان نه شي نيولای او هسې يې د دېواله په تکيه يې ځان ولاړ ساتلی دی، که نه لوېږي. غني په هېښتيا ورکتل، چې مولوي عتيق الله پرې غږ وکړ :

ــ چيش ته ولاړ يې، دا غله درسره بوځه د دې سر...

دواړه وخوځېدل، غني د سترگو لاندې برېښنا ته وکتل، هغه داسې روانه وه، لکه څوک چې يې ټېل وهي. غني غوښتل هغه وازمايي، ځکه يې ورته وويل :

ــ درځه خور چې داسې ځو !

برېښنا په پټه خوله هماغه لور ته وخوځېده، غني بيا ترې ويوښتل :

ــ مولوي ساب څه درته وويل؟

دا چې د برېښنا ستونی ژړا نيولی و، نو د غني د ځواب پر ځای يې دوه رڼې اوښکې پر مخ راوښويېدې، مگر اوښکې غني ځکه ونه ليدلې، چې د برېښنا پر مخ بورقه خوره وه. نور نو غني هم ترې څه ونه پوښتل، همداسې په پټه خوله ورسره روان شو، داسې يې سر ټيټ نيولې و، لکه تر شا روانې برېښنا نه شرمېږي، د گناهگارو په شان يې سترگې ښکته نيولې وې، بنه يې ورو، ورو اندېښمنه کېده، غني په رښتيا طالب و، لږه موده کېده، چې د کوټې له يوې ديني مدرسې نه کابل ته د جهاد لپاره راغلی و، د هغه له اوږدو پراخو بارخڅکدارو جامو اوچت ښکارېده، چې لويديځوال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون دی، په زغرده خبرې یې کندهاریانو ته پاتېدې، خو د خوی نرمي او خوږ والی یې د هلمندیانو و. د غني خواره او ډنگروکې پژی د لویدیځوالو پښتنو په پراخو جامو کې ببخې ورکېده، انجره توره لنگۍ یې نیمه پر سر او نیمه پر اوږو خوره وره پرته وه. بډوهلی پرتوگ او چوټو یې د برېښنا په ذهن کې د وړوکي غازي انځور راژوندی کاوه. تور کی غني نن له پخوا نه اندېښمن ښکارېده، نن یې تنکی ذهن د برېښنا له نومه ډک و، خپله برېښنا خور یې پر زړه اورېده، له هغه مهاله چې زکوم خان برېښنا له تور ټانکه مختار ته په واده یووړه، بیا نوده ونه لیده، ان د هغې څېره یې هم هېره شوې وه، خو یوازې به یې کله، کله مور ورته ویل :

ــ زویکه زموږ برېښنا خورا ډېره ښایسته ده، داسې نازکه ده، لکه گل. د زکوم دې خونه خرابه سي، نه یې راپرېږدي، زما او ستا به څه وس وي .

کله چې د برېښنا دوی په کورکې د غني ځوانې سترگې پر برېښنا ولگېدې، خدازده چې ولې یې خپله برېښنا خور پر زړه لکه باران راواورېده او بیا یې د مور خبرې له ذهنه تېرې شوې :

ــ زویکه زموږ برېښنا خورا ډېره ښایسته ده، داسې نازکه ده لکه گل.

له دې سره یې ناڅاپه په زړه کې دا خبره تېره شوه:

ــ ټولې برېښناوې ښایستې دي، خورا ښایستې دي .

له هماغې اولې شېبې یې د برېښنا پر گرمتیا شک درلود. که څه هم هر څه یې په خپلو سترگو لیدلي او موندلي وو او د شک هېڅ خبره نه وه پاتې، خو بیا هم غني په دوو لارو کې پاتې و، هغه به له ځانه سره په کلکه ویل :

ــ هېڅ یوه برېښنا هم گناهگاره نه ده، هېڅ یوه یې گناهگاره نه ده. له دې غونډلې سره به یې خپله مور راپه زړه شوه، چې کله به د برېښنا دوی له کوره په سرو سترگو راغله او کله چې به ده د ژړاسپیناوی وغوښت، هغې به بس دومره وویل :

ــ زویکه نن یې بیا وهلې وه .

بیا به یې د برېښنا د گناه کیسه وکړه، د برېښنا گناه به تل له خوبه ناوخت پاڅېدل وو، ځکه خو به ده یوځل بیا په کلکه له ځان سره وویل :

ــ هېڅ یوه برېښنا گناهگاره نه ده. غني به تل د برېښنا په لیدلو د خپل خور خیالونو راچاپېراوه .

هغه د دواړو برېښناوو تر منځ یو عجیب ورته والی لیده، هغه به چې هر وخت له ځانه سره دا حکم صادرکړ، چې نه، هېڅ برېښنا گناهگاره نه ده، نو شېټ به یې وواهه او د خیالونو له نړۍ نه به رابهر شو او دا ځل یې هم شېټ واه، ژر یې تر شا وکتل، برېښنایې تر شا ولاړه وه، هېښ شو، په هېښتیا یې ځان او شا و خوا وکتل، که گوري چې د دهلېز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې دواړه ولاړ دي او د مولوي خانو له دفتره ډېر، ډېر لرې تللي دي، ځانته په غوسه شو، بېرته وګرځېد. برېښنا هم په هېښتيا ورپسې وګرځېده، د برېښنا په نظر دا پراخ دهلېز ډېر تنګ او ډېر اوږد راغی. برېښنا داسې په تيندکو روانه وه، لکه څوک چې يې په زوره ټېلوهي او يا لکه د بل چا په پښو چې روانه وي، همدا چې د دهلېز په منځ کې خيرنې دروازې ته ورسېدل، غني پرځای ودرېد، برېښنا ته يې د درېدو وويل او خپله کوټې ته ننوت، شېبه به لا نه وه تېره، چې غني له کوټې نه راووت برېښنا يې کوټې ته وروبلله، برېښنا په لړزنده قدمونو کوټې ته ننوته،خو همدا چې کوټې ته ننوته، د يوه تن امرانه غږ ولړزوله :

له مخه چادرې لرې کړه، له مونږ دې ستر نه کېږي !

برېښنا په ناباورۍ د غږ پر لور وکتل، مګر د غږ ويونکی يې ونه پيژانده. بيا يې ورو خپل مخ لوڅ کړ، په کوټه کې يې د ډېرې روښنايۍ له وجې لومړی پر سترګو تياره خوره شوه، خو ورو، ورو يې د سترګو توره پرده لرې شوه، چې ايله يې په کوټه کې ناست خلک وليدل؛ درې د سپينو جامو وال مخامخ ناست وو، درې سپين کالي وال ښي لاس ته او پنځه سپينو جامو وال کيڼ لاس ته ناست وو. د دوی ټولو جامې، لونګۍ او پټوان، دا هر څه سپين وو، دوی د جامو د رنګ څه عجيب کلک ترون درلود، د ټولو ږيرې اوږدې، اوږدې نژدې ټولو يوه بڼه غوره کړې وه، د دوی يو ډول بڼو کوټې ته ډارونکې فضا ورکړې وه. برېښنا بيا د غږ پر لور، چې دې ته يې د چادرې پورته کولو ويلي وو، بيا وکتل، هغه تن ولاړ و، خو په ليدو يې له ډېرې وېرې د برېښنا اندامونه زيږه شول، په تېره د هغه د لاس په ليدو خو سمه لړزه پرې راغله، د هغه په لاس کې پړی شوی کېبل، لکه برېښنده توره داسې غوځوونکی ښکارېده. برېښنا بيا د درېيو مخامخ ناستوکسانو پر لور وکتل، هغوی نو له نورو ډېر درانه ناست وو. په دوی کې برېښنا يوازې مولوي خانو وپېژانده، چې مخامخ په درېيو تنوکې منځنی و. مولوي خانو يوځل د دې ليدو ته د دې وړې بنديخانې ته ورغلی و، له دې څخه يې د دې د ژوند په اړه ډېر څه پوښتلي وو. هغه په رنګ سپين و، خو د وېښتانو او ږيرې له پلنوالي څخه اوچت ښکارېده، چې يا به اورزګانی وي او يا به کندهاری. د مولوي خانو ښي اړخ ته يو پرېړ تن ناست و، چې له غټ تندي، تنګو سترګو وړې پوزې او سرو شونډو څخه پښتون نه ښکارېده، ښايي بدخشی، يا تخاری به و. د خانو کيڼ اړخ ته يو بل ډنګر سړی چې ډېره نری او تېره پوزه يې وه، لکه د مار په شان تنګې، تنګې او اوږدې، اوږدې سترګې يې وې او نرې لکه تار برېتونه يې وو، ناست و او اوږې جګې نيولې وې. برېښنا داسې ګومان وکړ چې دی به نورستانی وي او که نه پښه يې خو ضرورده. اخر د هغه ناسته، د هغه اوږې پورته نيول او د هغه په ټيټ سر لوړ کتل بېخي د پشيانو لوښو ته پاتېدل. د دغو درېيو تنوپه ليدو، لکه چا چې د برېښنا په ستوني کې سا بنده کړې وي، داسې يې د سا بندۍ احساس وکړ، يوعجيب ډار پسې واخيسته، يو قدم تر شا راغله، لکه غوښتل يې چې وتښتي، چې چا پرې غږ وکړ :

ــ د ټولوخدای يودی، پر هغه باور ولره !

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښنا ترشا وکتل، غني يې شا ته لږ نژدې ولاړ و، غني داسې چې خپله خبره د برېښنا غوږ ته ايله ورسوي، وويل :

ــ رښتيا ووايه، په رښتيا کښې تاوان نسته .

لکه د غني خبرو چې برېښنا ته نامريي يې ارواييي ځواک ورکړی وي، داسې يې له زړه ډار په تښتېدو شو او په برندو سترګو يې بيا پر ناستو ملايانو او مولويانو سترګې وګرځولې. ډېرو يې داسې د زړه له زوره سرونه ښکته نيولي وو، لکه چې نورو ته وايي: وينې ما څنګه خپل شيطان قابو کړی دی؟

په دې منځ کې يوازې مولوي خانو برېښنا ته په نرم انداز کتل او له ټولو نه لومړی هم مولوي خانو په خبرو پيل وکړ، له څه لنډو خبرو نه وروسته يې څه ورو او په پام وويل :

ــ ښه اوس نو دا ووايه چې چيش ته دې غلا کوله؟

برېښنا د دې پوښتنې په اورېدو سمدلاسه غني ته تر شا په داسې حال کې چې ستونی يې ورته ګروم بندکړی و، په هېښتيا وويل:

ــ دوی ... دوی څه وايي ما غلا... ما غلا کړې؟ غني دوی ته ووايه ما د چا غلا نه ده کړې! مولوي صيب ما خو تا ته کيسه کړې نه؟

کېبل وال رېرور طالب، چې له ژبې اوچت ښکارېده، پښتون نه دی، پر برېښنا رابرچ وهل :

ــ غلې ... دېخوا ګوره... هغه دې شوهر دی، چې په هره خبره ورته مخ الوې .

خو برېښنا د کېبل والا خبرې وانه ورېدې، بيا يې ناست مولوي ته په زاريو وويل :

ــ مولوي صيب! ما د چا... ما د چا غلا نه ده کړې... چا... چا... چا به پر ما تور لګولی وي، زه اقرار کوم چې د خسر له کوره تښتېدلې يم، د پلار کور ته راغلې يم، په دې کې ګناه نه ده، خو په خدای قسم، زما د څرک په سر قسم، که ما د چا غلا کړې وي، که تاسې ما مړه هم کئ، زه به همدا وايم چې ما د چا غلا نه ده کړې، اخر د څه لپاره بايد زه غلاوکړم، څه ضرورت دی...

او نور نو برېښنا د خبرو نه وه، په لوړ غږ يې ژړا پيل کړه، ټولو مولويانو او ملايانو سرونه ښکته اچولي وو، خو خانو هماغه شان ناست و او په کراری يې د برېښنا د اوښلنو سترګو ننداره کوله. بدخشي مولوي چې ټولو ورته مولوي حسين، مولوي حيسن ناري وهلې، حق په جانبه بڼه يې ونيوه، په داسې حال کې چې هڅه يې کوله، ځان سوله ييز وښيي، په نرمۍ يې خپلې مخې ته له بخملي صندوقچې څخه يوه د سرو زرو وړه غاړکۍ وښکله، غاړکۍ يې د برېښنا مخې ته ونيوه او په ارامه يې مولوي عتيق الله ته وويل:

ــ مولوي صيب! دا دې چېرې پيداکړې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ددوی په کور کښې، ټولو ولیدله .

بیا یې برېښنا ته مخ کړ او په روانه پښتو یې وویل :

ــ اوس هم وایې چې غلا دې نه ده کړې؟

دغاړکې په لیدو برېښنا یو ناڅاپه غلې شوه، داسې غلې شوه، چې ناستو ملایانو او مولویانو ګومان وکړ، چې خبره یې وربانديې زبات کړه، ډېرو یې چوپتیا په پټه خوله اقرار وګاڼه، خو مولوي خانو دا خبره ونه منله او په کلکه یې وویل چې: د حدود جاري کېدو لپاره اقرار بلسان یو اهمه اړتیا ده، خو د بدخشي مولوي حسین خبرې، که څه هم نرمې وې، مګر داسې په زهرو لړلې وې، چې نور یې نو د برېښنا زغم پای ته ورساوه، په لوړ قهر ژلي غږ یې چیغه کړه: مولوي صیب ته وایې زه اقرار وکړم، د څه شي اقرار؟ د دې چې د خپل مېړه د لاس امانت مې ساتلی او کور ته مې راوړی؟

مولوی حسین په نرمۍ وویل :

ــ خو که دا داسې وي، نو هغه پیسې څنګه؟

ــ کومې پیسې ؟

ــ دغه پیسې چې مو ستاسې په کور کې پیدا کړې .

بیا یې د کلدارو د زرګیزو یو بنډل پیسې د برېښنا مخې ته ونیوې، په بریمنه ژبه یې وویل :

ــ دا پیسې خو دې وپېژندې؟ دا مو ستاسي په کور کې پیداکړې دي .

برېښنا د پیسو په لیدو هېښه پېښه شوه، اوس یې نو تر شا غنې ته هم نه شوکتلای، یوه شېبه یې په هېښتیا پیسو ته کتل، دوی په رښتیا هم همدا پیسې د دوی په کور کې پیدا کړې وې. د سترګو لاندې یې مولوي عتیق الله، چې د دې کینې خوا ته ناست و، وکتل. مولوي عتیق الله سر ټیټ نیولی و، یو عجیبې هېښتیا او نهیلۍ په مخه کړې وه، په داسې حال کې چې د ژبې لاندې یې اوښکو ورته هره کلیمه مالګینه کوله، وویل :

ــ زه نه پوهیږم، نوره په هېڅ نه یمه خبره، خو ما د چا غلا نه ده کړې، بس یوازې همدومره پوهېږم .

ــ په دې خو ښه خبره یې چې دا دېرش زره کلدارې مو ستاسي په کور کې پیدا کړې؟

برېښنا د سر په خوځولو وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ هو! په دې ښه خبره یم، مګر ما دا پیسې له چا نه دي غلا کړي او نه مې کله هم د پلار په کور کې دونه پیسې لیدلې دي، دا ما نه دي غلا کړي. پر خپل ځای ناکراره شان وښوریده، لکه د ترورو په شان یې په کوټه کې ناستو یو، یو تن ته وکتل چې یو ناڅاپه یې چیغه کړه :

ــ ما دا پیسې نه دي غلا کړي او نه مې پلار دونه پیسې لري .

ــنو څه خبره ده؟

برېښنا لږ په کرارۍ وویل :

ــ دا راته ضرور چا چل جوړکړی دی، زه دونه پوهېږم، چې ما غلا نه ده کړې، نور چې څه، څه خبره ده، په دې نه پوهیږم .

په دې منځ کې د تېرې پوزې وال مولوي غږ ایله پورته شو :

ــ اګه تا دا پیسې نه دي غلا کړي، نو د په لار کور ته بیا ولې وتښتېدې، اګه هغه کار دې نه دی کړی، اګه دا کار دې ولې وکو.

برېښنا مولوي خانو ته چې تر دې دمه یې سونې هم نه و ختلی او لکه سا ختلی داسې یې د برېښنا او مولوي حسین خبرو ته غوږ نیولی و، مخ کړ :

ــ مولوي صیب! زما کیسه اورئ؟

مولوي خانو چې نژدې له نیولۍ نه ښویېدلی و، پر نیولۍ نیم کېناست، په خپله ارامه ژبه یې وویل :

ـــ هو! ووایه .

مولوي حسین خپلې تنګې سترګې لا پسې تنګې کړې، د مولوي خانو غوږونو ته یې خوله ورنژدې کړه، مګر په لوړ غږ یې وویل :

ــ په دې شرط چې رښتیا ووایې .

مولوي شېرولي هماغه د تېرې پوزې وال مولوي په خندانه ژبه وویل:

ــ اګه ما چې ثونه بازاري ښځ لیدلې، رښتیا نه وایې .

خو مولوي خانو ځان له دواړو نه، چې د ده خوا ته راکاږه شوي وو، راټول کړل، په کرارۍ یې وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ هغه که رښتیا وایي، که درواغ، موږ مجبور یو چې کیسه یې واورو. بیا یې برېښنا ته د کیسې ویلو وویل. برېښنا هم خپله کیسه له سره پیل کړه، چې ځنګه یې یو نیم کال وړاندې خاوند (سیلمان) د موټر په ټکر کې ووژل شو او چې یو کال وروسته د خسرکور ته ولاړه، غوښتل یې یوازېنی زوی یې (څرک) په خپل ابو نمک لوی شي، خو لا به اوونۍ نه وه تیره، چې مشر لېوره سلطان ورسره ستونزه پیل کړه .

دایې د سکه ورور کونډه ده او د سکه ورور میراث سکه ورور ته رسېږي، نو دا مجبوره ده، چې له هغه سره واده وکړي، مولوي خانو د دې لپاره چې خبره نوره هم روښانه شي،

وپوښتل :

ــ ولې دې له سلطان سره واده ونه کړ؟

ــ هغه ښځه لرله، بل پوډري او شرابي دی، پر ها بلې ښځې یې ورځ و شپه نه ده معلومه، سبا او بېګا یې ډبوي، ما ویل چې زما خو به له هغې نه هم حال بدتره وي، هغه خوار کې خو ورته حوصله کوي، خو زما بیا دونه حوصله نه ده زده .

ــښه بیا څه وسوه؟

ــبیا نو له دې بلا نه لا خلاصه نه وم، چې میرنۍ خواښې مې راته پایځې بډوهلې، هغې ویل چې ما خپل لېوني زوی زماني ته کېنوی. زه خو تیاره مړې وم او د هغې زوی ته خو چا ښځه څه چې سپۍ هم نه ورکوله، هغه خو بېړا دی، لاړې یې پرواښکیو رارواني وي، زه یې هغه ته کېنولم، یوې خوا ته راته پړانګ و، بلې خوا ته پاڼ و، حیرانه وم چې څه وکم. یوه شپه مې راته لېوره لاس واچاوه، ښه وچې زما یو د بلې میرنۍ خواښې لور ده، سلما نومېږي، هغه وه، که نه څه نه وو راپاتې.

د دې شپې په سبا ما دا کیسه ټولو ته وکړه، ما ویل ګنې خسر به مې خبره سپینه کړي، د دغه یوه له شره خو به خلاصه شم، خو زه خبره نه وم، چې دا خبره به راته بلا جوړېږي. اغې نه پس مې خواښې لېوره او یور سره لاسونه یو کړل، یور ته مې یې څه بد نه وو رسیدلي، هسې یې راپسې رااخسیتې وو، بس درې واړو راپسې پایځې بډوهلې، چې ما به ضرور لېوني زماني ته کینوي او یا به ورته له څرکه تېرېږم، نور نو خدای سلطان ته ورکړه، سبا او بېګا یې په یوه او بله پلمه وهلم. مولوي خانو بیا وپوښتل:

ــ ولې یې نو وهلې؟

ــما ورسره دا یوه خبره هم نه منله، چې اخر یې سر دې ته ووت، چې په ما به په زوره له زماني سره نکاح وتړي. هغه شپه یې زما نکاح تړله چې زه ترې وتښتېدم، ما یوه روپۍ هم له ځان سره نه ده وړې، دا غاړه کې مې د مېړه په ځلوېښتي کې له ځان سره د پلار کور ته وړې وه، دا هغه راته د لاس نښه پرې ایښې، دا مې خپله ګاڼه ده، ما یوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ هم نه ده ورېي، زه قسم خورم، ما یوه روپۍ هم نه ده ورېي، بس یوه روپۍ مې هم نه ده ورېي. ما... او نور یې نو د ژړا له توسنه څه ونه شو ویلای او نه یې هم نوره نو د ژړا مخه نیولی شوه .

ناست کسان له یو بل سره بونګېدل او بیا به یې خپله خبره مولوي خانو ته وکړه. دوی به برېښنا ته په ګوته اشارې کولې او څه به یې ویل. مولوي شېرولي ډېر ګرېده، چې د هغه له نیمګړې پښتو سره هېڅ نه ښایېدل. مولوي عتیق الله به هم کله، کله د وار او ګوزار خبره د اقرار لپاره وریادوله. ټولو ناستو مولویانو له برېښنا بیا پوښتنې پیل کړې، خو د دوی ټولې پوښتنې پر دې ټکي څرخېدې، چې ولې دې غلا وکړه. برېښنا به کله په زاریو او کله په چیغو او کړیکو ځواب ورکاوه، چې غلا مې نه ده کړې، خو هغوی به بیا ترې وپوښتل :

نو ولې دې غلا کوله؟

اصلاً دوی د تحقیق او پوښتنو په راز نه پوهېدل، لکه له اره چې له تحقیق سره روږدي نه وي او کله یې هم د څېړنې او ارزونې په اړه څه نه وي لیدلي، یا اوریدلي. د دوی تر منځ د نظرونواختلاف موجود و. مولوي حسین پر قران شریف د قسم یادونه کوله، مولوي شېرولي بیا اقرار البلسان غوره ګاڼه، ولوکه د زور او جبر له لارې هم وي. د مولوي شېرولي له دغه وړاندیز سره مولوي عتیق الله هم سر خوځاوه، خو مولوي خانو بیا درې شاهدان د شریعت غوره لار ګڼله. اخر مولوي خانو باور درلود، چې هېڅوک د درواغو لپاره پر سپین او پاک قران لاس نه ږدي.

نژدې وو د دغو درېیو تنو تر منځ په دې سکالو جګړه راشي، د دوی خبرې اترې ډېرې اوږدې شوې، خو پایله یې څرګنده نه شوه. برېښنا یې تر سبانۍ غونډې رخصته کړه. کله چې برېښنا له کوټې نه ووته او د خپلې ورې بندیخانې پر لور روانه شوه، یو ډول د خوښۍ احساس په غېږ کې نیولې وه، غوښتل یې خپله خوښي له غني سره، چې له دې دمخه روان و، شریکه کړي. هغه ته په چیغو، چیغو ووایي چې مولویانو ته یې قناعت ورکړ اخر هغوی هم انسانان دي او دا درکولای شي، داسې ېېښې به یې هم ځکه ډېرې لیدلې وي، چې هغوی هم افغانان دي، په همدې ټولنه کې یې ژوندکړی دی او بله دا چې دې ورته رښتیا وویل، رښتیا هرڅوک درکولای شي. د رښتیاوو رنګ سپین وي او دا خو سپینه، سپینه غږېده. برېښنا ته دغه ناست مولویان څه عجیب ډول ګران شوي وو، د هغې هغه ټولې انګېرنې له منځه تللې وې، چې دې ګومان کاوه، طالبان د ځناورو چلندلري، په تېره ښځې او هغه هم مجرمې او تورنې ښځې خو څه چې سیورې یې هم په ټوپک ولي. هغوی ته ښځې له سره انسانانې نه ښکاري، نا، داسې نه وه، مولوي خانو هم طالب و او غني هم طالب دی، دوی خو داسې خویونه لري، لکه د دې پلار، لکه سلیمان او لکه ظریف هوا لکه ظریف.

د برېښنا په بڼه کې ایله خوښي راڅرګندېده، خو غني اندېښمن ښکارېده، هغه په ټوله لار کې برېښنا ته یوه خبره هم ونه کړه، تندی یې تریو نیولی و، کله، کله به لکه د سودایانو په شان له ځانه سره وبونګېده او کله، کله به یې تندی په پنجه کې ونیو، یوازې کله چې په برېښنا پسې یې دروازه کلپوله، نو یوه شېبه د دروازې په خوله کې ولاړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شو، برېښنا ته یې نبغ وکتل، دا ځل برېښنا نه یوازې دا چې د غني په سترګو کې یو ډول خوږوالی و، یو ډول اندېښنه، یو ډول باور ولید. اوس یې د ده په ځوانو سترګو کې یو ډول نژدېوالی او خپلوي هم احساس کړه، خو غني تر ډېره ونه درېده، په کرارۍ یې وویل:

ــ پرخدای ( ج ) باور وکړه، رب العزت ته حق او ناحق دواړه معلوم دي، هېڅوک ترې نه پټېږي، هغه خورا ډېر مهربانه دی او بیا یې له یوې ماښجنې موسکا سره په برېښنا پسې دروازه کلپ کړه.

غني دې خبرې ته اندېښمن و چې څه به کېږي او دوی ولې د مولوي صیب خانو، چې تر دوی ټولو ډېر پوهېږي، خبره نه مني او شاهدان نه راغواړي. که څه هم غني هغه پیسې او هغه غاړګۍ لیدلې وه، چې د برېښنا دوی له کوره یې پیدا کړې، خو بیا هم د برېښنا پر اوښکو یې یو عجیب شان باور درلود، هغه ګومان کاوه چې هر څوک درواغ ویلی شي، خو اوښکې ځکه درواغ نه شي ویلی، خو تل به یې د خپلې مور اوښکې سترګو ته نېغې ولاړې وې، چې کله به د برېښنا دوی کور نه راغله، نو پرته له دې چې څه ووایې، رڼو او تبجنو اوښکو به یې هر څه سپین، سپین وویل، نور نو د مور کیسې ته به یې اړتیا نه وه پاتې او د تحقیق پر مهال برېښنا ښه ډېرې اوښکې تویې کړې وې، ځکه یې د غني په زړه کې یو ډول باور او یو ډول احساس پیدا کړی و. سره له دې هم غني هغې غاړکۍ، هغو پیسو ته هېښ پېښ پاتې و، له یوې خوا د برېښنا معصومه څېره، د هغې بې وسي، د هغې ساده ګی، د هغې له زاریو او نںواتو ډکې په ژړه غوني اواز خبرې او بیا د هغې اوښکې او له بلې خوا غني هر څه په خپلو سترګو لیدلي او په خپلو لاسونو یې موندلي وو، هېښ و چې څرنګه فیصله وکړي، دې ته هم هېښ و، چې مولویان ولې د برېښنا موضوع اوږدوي، اخر هېڅکله هم دلته دومره یو قضایي سکالونه ده اوږده شوې. دې کار دلته ساری نه درلود، نن به یې مجرم راووړ، دوه ورځې وروسته به ترې تحقیق پیل شو، د تحقیق په پای کې به یوه ورځ پټه محمکه دایره شوه او په راتلونکې جمعې کې به ترې یا لاس، او یا پښې غوڅې شوې، یا به ترې سر غوڅ شو، یا به تر یوه دېواله لاندې شو، یا به یې دُرو ملا ورماته کړه او یا به د دارکړۍ ورته ستونې راووړ کړ او څوک به د تیږو تر ډېرۍ لاندې ورک شو.

غني داسې ډېرې پېښې لیدلې، ځکه خو برېښنا او د هغې برخلیک ته اندېښنې وړی و، په دې ورځو کې یو عجیبه ناڅرګنده احساس د برېښنا خوا ته ورکشاوه، ځان یې په ناغوښتې ډول هغې ته نژدې، ان خپل ګاڼه. په نه زړه یې جامې بدلې کړې، دا ځل یې د خورې ورې انجرې لونګۍ پر ځای سپینه ننګرهارۍ ټوپۍ پر سر کېښوده، له لمانځه وروسته یې قران شریف پرانیست، درې ځله یې یاسین شریف تلاوت کړ، بیا یې د رحمن سوره درې ځله تلاوت کړه، ورپسې یې قران کریم څو، څو ځله ښکل کړ، بیا یې یوه اوږده ډېره اوږده دعا وویله، عجیبه وه، د دې لپاره چې ځانته دعا وکړي، ټوله دعا یې برېښنا ته وکړه .

بیا له ځایه جګ شو، وړوکی جیبي یاسین شریف یې له تاخه راواخیست، په ښې جېب کې یې کېښود، پرته له دې چې په کوټه کې نورو ناستو انډیوالانو ته، چې ټولو ورته په هېښو نظرونو کتل، څه ووایي، له کوټې ووت. پر لاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندېښمن روان و، د مولوي عتيق الله تر دفتر يې له چا سره، ان تش سلام عليک هم ونه کړ. عتيق الله ورته ټاکلي ځای ته د برېښنا د رسولو وويل، خو ده په قهر ترې وپوښتل:

ــ ولې مو د برېښنا ټول کارونه زما پر اوږو اچولي؟

پکت دلې بې له ما بل څوک نسته.

غني دا خبره په ناخبرۍ کې په ناغوښتې توګه وکړه،ان د ويلو پر مهال هېڅ په دې نه پوهېده، چې څه وايي، خو خبره يې وکړه، مولوي عتيق الله ورته يوه شېبه غلی، غلی او هېښ، هېښ وکتل، بيا يې ورو، ورو پر شونډو يوه د ملنډو ډکه موسکا راڅرګنده شوه :

ــ الکه غني ته ښه هلک يې، پر دا نورو مې باور نسته، ته داسې يې لکه ملايکه .

غني ورته په هېښونکي نظر کتل، چې مولوي بيا وويل:

ــ څه په نورو خبرو پسې سر مه ګرځوه، ته مې دې کار ته خوښ يې، نور يې نو څه غواړې؟

غني پرته له دې چې مولوي ته څه ووايي، له مولوي نه يې د برېښنا د بنديخانې د کلپ کونجۍ راواخيسته او په هغه لور وخوځېد. برېښنا په کوټه کې غلې او بې خوځښته ناسته وه، هغه داسې خيالونو راګيره کړې وه، چې ان د غني په راتلو يې ځان هم راټول نه کړ، هماغه شان يې ټيکری پر پښو خور او ځنګل او خيرن وېښتان يې پر اوږو او ملا خواره واره پراته وو. د ها بلې ورځې د خوښۍ څرک يې په بڼه کې نه ښکارېده، يوازې داسې ښکارېده، لکه ټوله شپه يې چې خوب نه وي کړی. سترګې يې داسې پړسېدلې وې، لکه ډېرې ژړلې وي ، دا ځکه د ښکلو سترګو سپين ګاټې يې په سرو رګونو ښکلې ښکارېدل، غني وروکتل. که څه هم هغه هڅه کوله، چې برېښنا ته د خپلې مشرې خور برېښنا په سترګه وګوري، خو دلته يې د برېښنا له جادوګرې ښکلا څخه سترګې پټې نه شوی کړې. برېښنا په دې خورو ورو ځنګلو وېښتو او ناولو جامو کې د رښتيا هم ډېره ښکلې ښکارېده، خورا ډېره ښکلې ښکارېده. غني يو ځل بيا په زړه کې وويل:

ــ ټولې برېښناوې ښکلې دي، خورا ښکلې دي. په يوه متفکر انداز يې لکه بت تراش چې خپل تراشلي بت ته ګوري، داسې برېښنا ته بيا وکتل. اوښکو يې د هغې خورا ښکلي اننګي لانده کړي وو او تر ګرېوانه يې لارې کولې، په کرارۍ يې ترې وپوښتل :

ــ څه خبره ده خور، بيا څه پېښ شوي دي؟

ــ زه... زه ډارېږم، زه دا ګناه منم .

ــ دچيشي ګناه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ دغه چې ټول وايې ما غلا کړې ده .

ــ ولې د څيش لپاره؟

ــ ما ته قران شريف راکړئ، زه دا ګناه منم، قران نه خورم. غني زه له قرانه ډېره ډارېږم، زه ځنګه ...

او بيا يې ژړا ستونی په خپلو منګلوکې ونيوه، غني ورته په نرمۍ وويل چې: له دې څخه ښکاري چې دا غلا تاکړې ده .

ــ دا څه وايې، ما ولې غلا کوله، څه ضرورت مې درلوده؟

ـنو څه خبره ده، مسلمان کله، کله د دې لپاره چې نورو ته رښتيا وروښيي، بايد پر سپين کران لاس کښېږدي، دا خو د مسلمان مجبوري ده.

ــ خو زه له دې مجبوريته تېره يم، زه قران نه کوم.

ــ ولې ته داسې کوې، پوهېږې، له کرانه ډار ښه نه دی، پر کران بايد سړی ايمان ولري، پر هغه بايد عمل وکړي، اسلام د بېرې دين نه دی .

ــ خو زه د رښتيا ډارېږم، ما کله هم تش په خوله داسې قسم نه دی ياد کړی، زه به پرې څنګه لاس کېږدم، زه دا دغلا تور منم، څه به وشي، يو لاس به مې لاړ شي ايمان خو به مې نه ځي؟

ــ ته لېونۍ يې، ليونۍ پر کران قسم کولو سره د هېڅا ايمان نه ځي، په دې کې د ايمان تاوان نسته، ته هسې بېرېږې، په خدای باور ولره .

برېښنا په داسې حال کې چې لکه شوې پاڼه رېږدېده او په منګولو د خپلو متو په نيولو يې هڅه کوله، چې د غني له سترګو رېږدېدا پټه کړي، وويل:

ــ نه، زه وېرېږم، زه قسم نه کوم، زه مې تر لاس تېره يم، زه قسم نه کوم .

ــ ته ولې بېرېږې؟

ــ نيا مې ويل چې حق و ناحقه قسم دواړه ګناه لري، تر هغې ونې لاندې چې قسم شوی وي، هغه وچېږي. هغې ما ته ويلي چې له قسمه په مرګ ځان وساتم، زه دا قسم نه خورم .

ـسمه ده ورسه او په لوړ ږغ نارې کړه چې: زه غله يم، زه غله يم، سمه ده دا کار خو دې په وسه دی نه؟

ـما چې غلا نه ده کړې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــنو بیا ورسه هغه پاکه مالگه وښيه او پر خدای ( ج ) او پاک کران کسم یادکړه.

غني دا وویل او سمدلاسه یې له جیبه یاسین شریف راوایست، په ډېر درناوي برېښنا ته په دواړو منګلو ونیو .

ــ دا درسره واخله، دا د کران شریف زړه دی، پرخدای باور ولره، هېڅ هم نه کیږي .

خو برېښنا یوې عجیبې عقیدوي وېرې په مخه کړې وه؛ ځان یې ډېره لویه ګناهګاره احساسوله، داسې یې ګڼله چې شپېه وروسته یې ټول ګټلي ثوابونه په اوبو لاهو کېږي. پر دې خبرې یې کلک باور درلود چې حق و ناحقه قسم دواړه یو شان ګناه لري. په خپلو پښوکې یې قران شریف ته د نژدې کېدو سېک نه لیده، لکه شوې پاڼه داسې یې ټوله پژۍ رېږدېده، د خپل زړه درزا یې اوچته احساسوله، د نیا له خبرو یې ذهن ډک و، لکه زندۍ چې یې په غاړه کې وي، داسې یې سا تنګه، تنګه کېده او لکه غني چې د برېښنا ناکراره حالت احساس کړی وي، داسې په لوړ غږ چې برېښنا یې واوري، ویل:

ــ بې شکه چې رب العزت د حق پر خوا دی .

برېښنا غني ته تر شا وکتل، غني هم داسې ورته وکتل، لکه دې ته چې وایي :

ــ ورځه رب العزت پوهېږي، هغه په هر څه خبر دی، پر هغه باور ولره !

همدا چې برېښنا د قران شریف پر سر پاشلې مالګه وڅټله او په قران شریف یې قسم یاد کړ، مولوي خانو اوږده سا واخیسته، په نرمۍ یې برېښنا ته وکتل، بیا یې نورو ته مخ کړ:

ــایله یې کئ نور نو حك نه پر لرئ!

مولوي حسین ژر مخ ورته راواړاوه:

ــ مولوي صیب! څوک چې غلا کوي، قران شریف هم خوري .

ــ نو بیا مو ولې شاهدان نه غوښتل، چې کران مو ورکړ؟

ــ موږ ویل، که ووېرېږي،

ــ که مو پام و، اوس ام له ډېرې بېرې مرګ پر تیرسو.

ــمنګر کسم یې وکړ .

ــملا صیب! طالبانو یې په کور کې غاړه ګۍ او پیسې پیدا کړي، د دواړو پیسې له دیارلسو دینارو ډېرېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـزه په نورو نه پوهېږم، ما د اوله د شاهدانو خبره کړې وه، نه پوهېږم، تاسي ته ولې پر کران کسم دونې اسانه ښکاري، چې بس هر څوک مو ګيرکړ او کران ورکوي، دا ښه کارنه دی، د شریعت لاره درې شاهدان دي، بس هماغه يې سمه او د عدالت لاره ده .

په دې منځ کې مولوي عتيق الله د دوی خبرو ته راولوېده:

مولوي ساب! ته پکر مه کوه، د دې ژبه زه درخلاصوم.

ـ مولوي خانو پر مولوي عتيق الله سمدلاسه راغږم وهل:

ـ عتيکه! ته لا د ځوانۍ په جوش کې يې، پر لاس دي پکر ساته، اسلام د عدالت دين دی، نه د وهلو، بس هماغه درې شاهدان يې شرعي لاره ده.

ـصيب! بله لار نه ده پاته .

ـ که بيا ام ستا په ولو (وهلو) کار ونه سو؟

ـبيا نو هغه وخت شاهدان راغواړو .

ـيا، يا، دا نو بېخي نه درسره منم، دا دخدای لا ر نه ده .

مولوي خانو دا وويل او له ځايه په دې پورته شو، چې ټولو ته د رخصتېدو ووايي .

مولوي عتيق الله همدا چې له کوټې راووت، نو مولوي حسين ته يې په غوږ کې وويل :

ـ نه پوهېږم څرنګه دا مولوي ساب خانو د دې غلې پر مخ سوی دی؟

بيايې برېښنا ته وکتل :

ـ لکه چې دا غله غېږې هم ګرموي؟

سره له دې چې په دې مهال کې برېښنا د مولوي عتيق الله تر څنګ ولاړه وه، خو د هغه دا خبره يې هېڅ وانه ورېده، دا مهال د هغې زړه او ذهن يواځې له يوې غونډلې ډک وو: قران کول ګناه ده، خدازده که ژوندۍ پاتې شم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيم څپرکی

برېښنا ته نو نور په کوټه کې د سپړو، خلو، غنو او مېږيانو د ګڼلو ځواک نه و پاتې، ټول وجود يې ټوک، ټوک و، داسې يې پڅۍ خوږ په غېږ کې نيولې وه، چې ان د وېښتو بېخونو يې يو نه زغمونکی سوی کاوه، همدا چې پر نيولۍ کيناسته، نو ايله وپوهېده چې د بدن هېڅ برخه يې د کېبلونو له ګوزارونو په امان کې نه ده پاتې شوې .

دا چې مولوي شېرولي پر دې خبره ټينګار کاوه، چې برېښنا دې اقرار بلسان وکړي او مولوي عتيق الله هم پر دې خبره ټينګ ولاړ و، ځکه خو يې د مولوي خانو له خبرتيا پرته درې ورځې بې خوبه ساتلې وه او بيا يې په دريمه ورځ دومره ووهله، چې نور نو کېبل وال پرې سترۍ شول، خو بيا هم برېښنا تر هغې اقرار ونه کړ، چې د کېبلونو د ګوزارونو په منځ کې له هوښه ولاړه او بيا يې په هماغه بې هوښۍ کې دلته راوايسته. دا چې څومره موده پرې تېره شوې وه، هېڅ پوه نه شوه، يوازې دومره پوهېده چې نه کېناستی او نه هم څملاستی شي. د بې وسۍ او بې کسۍ احساس له نهيلۍ سره يوځای راګيره کړه، په دا څو ورځو کې چې دلته بنده وه، له کوره هېڅوک يې پوښتنې ته نه وو راغلي، اصلاً هغوی خبر نه وو چې داچېرې بندي ده، له هرې بلې ورځې نه يې څرک ډېر پر زړه اورېده. د کميکانو په شان يې په ژړا لاس پورې کړ، تر ډېره وخته ناسته وه او ژړل يې. په ژړا يې ايله زړه سپک شو، خو د وجود خوږ يې هماغه شان و، دړې ته يې وکتل، د دې وړې دروازې په وړاندې يې عجيب احساس درلود، بې سارې کرکه او ډېره هم ورته ګرانه وه.

غوښتل يې د کوټې په هغه کونج کې چې تشو او ډکو ته يې ټاکلې وه، تشې وکړي. له ځايه پاڅېده، لومړی خو د دغه ځای زړخن بد بوی ځوروله، خو اوس يې دا بوی دومره نه احساساوه، ان په دې لا خوښه وه چې په خپل زړه خو تشې او ډکې کولای شي. که څه هم غني او مولوي عتيق الله ډېر ځله پرې د تشو او يا ډکو پر مهال راغلي وو، خو بيا هم له خپلې دې ازادۍ نه يې يو ډول خوند اخيسته. له ځايه پاڅېده، خو همدا چې تشو ته کېناسته، د دروازې له شا نه د پښو ښکالو راغله، سمدلاسه له ځايه جګه شوه، په قهر له ځان سره وبونګېده: پر داسې ژوند دې د خدای (ج) لعنت وي ، د سپي زامن. ژر، ژر يې پرتوګاښ وتاړه، په منډه يې ټيکری پرسر کړ، چې غني په ماښجنه بڼه کوټې ته رانوت. له هغه سره د پټاټو تالۍ او يوه ډوډۍ وه، رايې وړه او د برېښنا تر مخې يې کېښوده، پرته له دې چې برېښنا ته وګوري، ويې ويل:

ــ راځه يوه ګوله ډوډۍ وخوره!

خو برېښنا له ځايه ونه خوځېده، غني بيا وويل:

ــ مولوي ساب خانو کندهار ته ولاړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښنا بیا هم څه ونه ویل. غني خپلې خبرې له سره ونیوې:

مولوي ساب خانو چې خبر سو تا ته یې ول درکړي، خپله وزیپه یې پرېښوه، ولاړ خپل کلي ته. ما ته یې وویل، چې تا ته ووایم دا د اسلام لاره نه ده، اسلام داسې حکم نه ورکوي، چې ته خپه نه سې .

برېښنا بیا هم څه ونه ویل، خدازده ولې د غني رنګ بدلون وموند، لکه پر څه چې خړ شوی وي، سر یې ښکته ونیو، په خړې ژبې یې وویل :

ــ زما یوه خور ده، هغه ام برېښنا نومېږي. زما نه یادېږي، خو مور که مې د ایغې ډېرې کیسې کوي.

سره له دې چې غني دا خبره هره ورځ برېښنا ته کوله، بیا هم برېښنا ترې وپوښتل:

ــ دا څنګه خور ده، چې لیدلې دې هم نه ده؟

د برېښنا غبرګ پر غني باندې داسې خوږ ولګېده، لکه د هغې په خبرو راوستلو سره یې ټوله نړۍ فتح کړې وي، پر شونډو یې یوه نرمه موسکا راځرګنده شوه، خو سمدلاسه یې بنې بدلون وموند. بڼه یې ناڅاپه ماڼېجنه شوه. په شمېرلو کلیمو یې وویل:

ــ هغه یې په کوچنیوالي زکوم خان ته ورواده کړه، بالا یې نه ده راپرې ایښې، ما ته هم د ایغې رنګ ښکارې. بیا یې له ځانه سره ورو، ورو وویل :

ــ اه، وکې بالا اوس به نو لو ښځه سوې وي، اوس به نو کوچنیان ام لري .

برېښنا ورته په دې هېښ، هېښ وکتل، چې غني د خپلې خور په هکله یوازې انګېرلی شو،چې غني بیا وویل:

پر هغې یې بله ښځه وکړه.

ــولې نو په اغې څه شوي وو؟

ــنیخه، نارینه خو څلور ماینې هم کولای سي. پرېږده وایي چې سبا به پر تا شاهدان تېرېږي، پر خدای پاک باور ولره، د هغه هر څه په وس دي .

ــخو زه یې نه خوښېږم .

برېښنا له دې خبرې سره یو اوږده سا واخیسته، خو د غني تندی تریو شو،څو، څو ځله یې په زړه کې توبه وایسته، بیا یې برېښنا ته په قهر ژلې ژبه وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ‌یا، یا داسې مه وایه، ګناګارېږې، پر خدای خپل بنده ګان د ونې خواږه دي، لکه پر مور او پلار چې اولاد خوږ وي. توبه وکاږه، ښه خبره دې ونه کړه، ستا له عذابه ښکاري چې ته پر خدای ډېره ګرانه یې. خدای خپل خواږه بنده ګان ازمايي، پر دا حال دې شکر وکاږه !

غني دا وويل او سمدلاسه له کوټې ووت، برېښنا یوه شېبه د غني په خبرو غلې پاتې شوه، د غني د هرې خبرې کلیمه، کلیمه یې له ذهنه څو، څو واره تېره شوه: (خدای خپل خواږه بنده ګان ازمايي). بیا یې د پټاټو تالۍ ته وکتل، ورسره یې پر کوټې یو ځلغند لنډ نظر واچاوه، خپل لستوڼی یې رابډواهه، پر متې او مرونده یې د کېبل د ګوزارونو خاپونه اوچت ښکارېدل، لکه د دغوخاپونو په لیدو لېونۍ شوې وي، داسې له ځایه جګه شوه، په ناولې کوټه کې لکه د ډېران د منځ خلي داسې نېغه ودرېده، ناڅاپه یې د لېونو په شان وخندل، د خندا په ترڅ کې یې وويل :

ــ پر حال شکر وکاږم، دا هم د شکر ځای دی، چې لا ژوندۍ یم. بیا یې په یوه شېبه کې د سلیمان له مړینې وروسته ټولې هغه ناخوالې له ذهنه تېرې شوې، چې هره شېبه او هره ګړۍ پرې راغلې وې. دذهن په پرده کې پرته له کړمو نورڅه نه ښکارېدل، لکه د لېونو په شان یې د خپلو لیدلو او تېرو کړاوونو په ګڼلو پیل وکړ، په دغه ورځ سلطان وهلې وه، په دې ورځ عقیدې مور په کوټه کې کلپه کړې وه، په دې ورځ یې مور ورته ویلي وو، چې له زویه تېره شه، په دغه ورځ سلیمان ومړ او په دغه ورځ حاجي صیب د سلیمان پلار ورته ګواښېدلی و، چې که د زمانې نکاح ته غاړه کښېنږدي، نو وژني یې او په دغه ورځ ورته سلطان لاس اچولی و، تر څو دا له ځان سره نکاح ترلو ته اړه کړي او داسې ډېرې ورځې راغلې وې، زښتې ډېرې ورځې. د دغو خبرو په رایادولو لکه لیونۍ چیغه یې کړه :

ــ لویه خدایه! ما ته دې څه راکړي، چې شکرو پرې وکاږم، په څه دې شکر وکاږم، ولې شکر وکاږم؟ له دې به بل کوم عذاب وي، چې پر ما به یې پېرزو کړې؟. له دې سره یې مخ پر دېواله ورمنډه کړه، په لوړ غږ ژړا یې له دېواله سره د تندي وهلوغږ تر سیورې لاندې راوسته. هماغسې ورو، ورو کېناسته او همداسې کرار، کرار یې ژړا او سلګۍ ورو شوې، داسې چې یو مهال خوب په خپله مهربانه غېږ کې راپټه کړه. داچې به څومره موده ویده وه، دا ورته هېڅ نه جوتېده، دا ځکه چې کوټه یې سبا او بېګا تیاره وه ، یوازې د چت تک تور ځراغ له دې همېشنۍ تیارې سره پنجې نرمولې. همدا چې له خوبه پاڅېده، سترګې یې د پټاټو پر تالۍ ولګېدې. که څه هم په تالۍ کې دوه درې مچان او څو میاشې راپرېوتې وې، خو دې سره له دې هم ژر، ژر له تالۍ نه مچان او غوماشې لرې کړې، بیا یې په هېښنده اشتها د پټاټو په خوړلو لاس پورې کړ، له ډوډۍ خوړلو وروسته یې لاس د لمنې په پېڅکه پاک کړ، له ځایه پاڅېده، د کوټې په بر ګوټ کې یې پرتوګ وښویاوه، خو همداچې تشو ته کښناسته، د درې په کلپ کې د کونجۍ چق و چوق له ځایه وارغوچوله، خو له دې سره یې تشې پر لینګیو وښویېدې، پر ځای ودرېده. یوه شېبه یې پرته له دې چې څه وکړي، داسې بې خوځښته خپلو لندو پښو ته کتل، چې سترګو یې دوه څاڅکې پر لندو پښو ورزیات کړل، دروازې ته یې په بې وسۍ له ډېرې نهیلۍ وکتل، بیا یې پر کوټې یو ډارن نظر واچاوه، کوټه که څه هم د ډکو او تشو متیازو، غوماشو او غېو نه ډکه وه، خو دې ته د بیدیا په شان تشه ښکاره شوه، د سګرېټو فلترونه او کوتیان پر خپلو ځایونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلي پراته وو، غنو منډې رامنډې نه وهلې، څراغ هماغه شان په دار ځړېدلی ښکارېده. په همدې شېبه کې وره دره په ورو غږ پرانيستل شوه، په دهلېز کې روښانه څراغونو دا وپو هوله، چې اوس نو ښه پخه شپه ده، چې په دې وخت کې دهلېز د روښنايۍ له غېږې تور سيورى دې ورې بنديخانې ته راننوت، د د دغه دنګ سيوري په ليدو په تراټ يو دوه قدمه تر شا لاړه او چې ځنګه سيوري دروازه کلپ کړه، نو دې هم ايله سيورى وال وپېژانده. د هغه پر شونډو يوې شيطاني موسکا سترګکونه وهل. سپينو سوچه جامو او تورې سپينې ليکې والې لونګۍ يې بڼې ته عجيبه شان ښکلاوربخښلې وه. په تورو ځلېدونکو وېښتو، سپينو منګولو کې يې د تسبو لړ ښکته پورته کېده، چې د دواړو لاسونو په ګوتو کې يې ورته يوه، يوه دانه اړوله. د هغه په ليدو له برېښنا نه د وجود خوږ هېر شو، يوه هېښنده ډار او يوه ناڅرګنده ګواښ په مخه کړې وه، داسې ورته ښکاره شوه، لکه نرۍ چې په وره کېدولو روانه وي، دومره چې د دې ځای په کې نور نه وي پاته. سا يې بنده، بنده شوه، ناڅاپه يې په تېرو اوښکو پسې لا نورې او لا تودې اوښکې په منډه راښکته شوې، داسې يې احساس کړه، لکه نور چې نو په نرۍ کې ورته ځوک خواخوږی نه دی پاته. په داسې حال کې چې په راتلونکو ډارېدلو سترګو يې هغه څاره، ورو، ورو تر شا شوه، تر شا لاړه په دېواله پسې يې داسې ځان سريښ کړ، داسې لکه غوښتل يې چې په دېواله کې ننوځي، خو هغه لا پر خپل ځای ولاړ و او په نرم نظر يې دا څارله او د تل په شان يې شونډې په موسکا موسکې وې، په کرارۍ يې وويل:

ــ ته يې ډېره وولې؟

ــتاسو خو وليدل مولوي صيب !

ــما خو دمخه لا سر درخلاص کړ، خو ته سرزورې يې، د چا نه منې، ته ولې داسې کوې؟

خو له دې سره د برېښنا له ذهنه د هغه پخوانۍ خبرې تيرې شوې: (دا د بازۍ لا سر دی، منګر ستا يوه وودا بازي تا ته په جشن بدلوي). اندامونه يې زيږه شول، پر وجود يې د لړزې يوه تنده څپه خوره شو، ناڅاپه پر ځای کېناسته، خپل ټيکري ته يې لاس واچاوه، ژر، ژر يې ځان داسې په ټيکري کې راونغاړه، لکه ټيکري چې يې ښه خوندي ځای موندلی وي. مولوي ته يې وکتل، په هماغه شان موسکو سترګو يې دا څارله، هغه په نرمۍ وويل :

ــ سبا شاهدان تېرېږي، بس دا يې اخري کدم ، ښه پکر پر وکه !

خو برېښنا له ډاره نور هم ځان په ټيکري کې راونغاړه. غوښتل يې چې څه ووايي، چې هغه بيا وويل :

ــ غلا دې کوله، ځان دې نه و په ياد؟

ــخو ما... مولوي صيب! ما د چا غلا نه ده کړې، څونه درته ووايم؟

زه په هر څه پوهېږم. د مولوي په دې خبرې برېښنا پر ځای مېخ شوه. مولوي بيا وويل: د پوهېدو حاجت نه دی پاته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښنا په هېښتيا شا و خوا وکتل، هغې ته هېښنده وه، دومره هېښنده چې هېڅ باور يې پرې نه راته، هغه هېښه وه، چې همدغه مولوي په خپل لاس د دوی په کور کې هغه دېرش زره کلدارې وموندې، نو بيا څرنگه داورته بې گناه ښکارې او بيا يې ولې دا نيولې ده او دا دی سبا پرې شاهدان تېروي، برېښنا همداسې له گډو وډو انگېرنو او خيالونو سره لاس او گرېوان وه، چې د مولوي غږ اوچت شو:

ــ ولې دې د سلطان په خوله ونه کړه؟

ــهغه مې نه خوښېده. برېښنا په ډار او لړزېدلو کليماتو ځواب ورکړ، خو هغه بيا وويل:

ــنو څه کېدل؟

ــخو هغه بله ښځه هم لرله که نه!

ــنر څلورم کولای سي، زما خپله دوې دي .

ــخو ما هغوی ته وويل چې زه مې زوی ته سر سپينوم.

مولوي وخندل او ويې ويل :

ــنو څه دې کوله؟

ــهېڅ زوی ته کېناستم .

ــته ځونې لېونۍ يې، سمه دمه لېونۍ. بيا مولوي يو قدم د دې پر لور وړاندې واخيست، شا و خوا يې وکتل، پر کوټې يې د ملنډو يو نظر واچاوه، بېرته يې برېښنا ته، چې راټوله اوگونځې ناسته وه، وکتل.

دا خونه دې ښه د خوند خونه ده، منگر په تا يې څه پرک .

برېښنا په وارخطايۍ وويل :

ــولې څه خبره ده؟

ــسبا يکشنبه ده، سبا که خير د الله وي، شاهدان تيريږي. بالا نو تر جمعې هر څه تمامېږي .

د جمعې د نوم په اورېدو د برېښنا غونې زېږه شوه، نژدې و چې له ډېره وحشته کړيکه کړي، خو مولوي په هماغه خندانه ژبه وويل :

ــدلې ځونې ډېر شيان دي، مچان، غوماشې او... سات به دې ښه تېر وي نه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منگر يوې خبرې ته دې پکر اوسه، چې په تا څه کېږي، ستا به د خپله لاسه وي، ما خو لادمخه سر درخلاص کړ، چې لا سرې وخت دی، داسې وخت به راسي چې بالا به زما هم خه په وسه نه وي. بيا برېښنا ته نژدې شو، داسې نژدې چې د تودو ساګانو تپ يې ورته مخ سوځاوه .

بيا يې په يوه ټيټ غږ وويل :

زما هرڅه په وس دي، داسې چې سبا زه هغوی غلۀ کولای سم او تا پاکولای سم، خو که ته اوس...

برېښنا ترې په چټکۍ لرې شوه، په قهر ژلې ژبه يې وويل:

مولوي صيب! ما ته پښتون نه ښکارې، خدا زده چې د کوم ځای جټ يې، کندهاری خو بېخي نه يې. هغوی غيرتي خلک دي، لکه چې د هغوی ارمونی يې، که نه کندهاريان داسې نه دي .

د مولوي پر شونډو د ملنډو يوه خندا راښکاره شوه .

ــچا ويل چې زه پښتون يم، په اسلام کې پښتون و کندهاری نسته، اوس به مې دواړو ته يو څه ويلي وي. په داسې حال کې چې په خوله کې راټولې لاړې يې تېرولې، ويې ويل:

ــښه پکر پر وکه، زه ستا پر پايدې وايم، بس نن دې په ښايسته او نازکې غېږ کې دا غېږه راګرمه که، بيا به نو سبا زما تاکت هم درمعلوم سي، چې زه څه کولای سم او څه نه سم کولای .

برېښنا په قهر ژلې غږ وويل :

ــاو کنه؟

ــاو کنه بيا نو زور دی، چې چلېږي، منګر ستا په خپله خوښه به ښه وي، داسې نه ده؟

د برېښنا پر شونډو د نهيلۍ يوه ترخه موسکا راښرګنده شوه :

ــمولوي صيب چې پښتون نه يې، کندهاری هم نه يې، نو په مسلمانې کې خو داسې نه دي راغلي .

ــته په اسلام څه خبره يې؟

ــهغه څه چې ما اورېدلي، داسې نه دي، خو که ستا اسلام فرق ولري، له هغه نه د رښتيا زه خبره نه يم .

ــته ليونۍ يې، خدای (ج) او رسول دواړه وايي چې: له مسلمانو سره شيطان حتماً سته او بيا خو ستا دا ښايسته مخ پر ملايکو ام شيطان راحضوروي...

ــپام...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي به نور څه ویل، چې برېښنا په دواړو منګولو ټېلواهه او خپله یې د دروازې پر لور ورمنډې کړې. خو مولوي عتیق الله له لاسه ونیوله، په ټول ځواک یې د ځان پر خوا راکش کړه، داسې چې د برېښنا ورې کړیکې هم همدلته په دې ورې کوټې کې زندۍ شوې او څلور پنځه ګامه هم اخوا د غني په کوټه کې یې ورږوکی شور هم ونه زېږاوه او نه یې د سپېڅلي عزت پټ غږونه، چې د مولوي عتیق الله د هوس په اور کې لوټېدل، هلته ورسېدل. غني په خپله کوټه کې د ځوانۍ خواږه خوب زنګاوه، هغه ایله همدا شېبه ویده شوی و، هغه تر دې دمه د برېښناسباني برخلیک ته چرتونو وړی و، داسې اندېښمن او داسې لېواله و، لکه سبا چې د ده برخلیک ټاکل کېږي.

＊＊＊

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څــپرکــی

برېښنا د شاهدانو د شاهدۍ په ورځ یوه خبره هم ونه کړه، لاسونه یې قوپۍ کړي غلي او په مړاوي نظر ناسته وه، داسې سا ختلې او دم ختلې ناسته وه، چې ان د شاهدانو بڼه یې هم په ذهن کې پاتې نه شوه. د دې ورځې په شپه کله چې غني دې ته په ډوډۍ وړلو کې لږ ناوخته کړه، ښایي نهه بجې به وې، چې سره پیتي یې د یوې مړۍ وچې ډوډۍ سره واخیسته او د برېښنا د کوټې پر لور وخوځېد، خو د کوټې دروازه له دننه نه تړلې وه، غني له وارخطایۍ ټولو ته خبر ورکړ، دوی دروازه ماته کړه، چې ورننوتل، ګوري چې برېښنا خپل ستونی په خپل خیرن او ناولي پړوني کلک تړلی دی. مولوي عتیق الله ځو لغتې ووهله او بیا یې ورته لاسونه له شا نه وتړل او غني ته یې وویل چې: تر سبا یې په کوټه کې کینې او خپله هم ګړی وروسته د برېښنا پوښتنې ته راته. غني تر سبا د برېښنا له سرو په ډکې کوټې کې په دوو پښو تېرې کړې، برېښنا غزېدلې وه، خو له رڼو سترګو یې ښکارېدل، چې خوب یې سترګو ته لار نه پیداکوي، غني که هر څومره وویل، چې ولې یې ځان وژنه کوله، د برېښنا له خولې یوه کلیمه ونه وتله، بس لکه یوې کلیمې چې هم هغه ټولې نړۍ ته رسوا کوله او بیا به ټول په دې خبر وو، چې برېښنا په بندیخانه کې... نا، له دې ډاره یې چوپتیا غوره ګڼلې وه او د غني د هرې خبرې په ځواب کې یې ان نا کدرې هم نه ویله، په پای کې غني هم غلی کېناست، تر سبا یې یوه خبره هم ونه کړه، درې ورځې وروسته د درېیو ګونو محکمو حکم اعلان شو، دې په بې ساري ارامۍ د درېیو ګونو محکمو حکم واورېده او پرته له څه شور او زوړه یې وزغمه. د هغې بڼې نو اوس یو ناځرګندحالت غوره کړی و، له هېچا، ان له غني سره یې هم خبرې نه کولې او نه یې سمه ډوډۍ خوړله، یوه مړۍ به یې لانه وه خوړلې، چې تالۍ به یې ټېله کړه او په ژړا به یې پیل وکړ، تر سبا به ویښه وه او په کوټه به یې خپل ګامونه ګڼل، پاسو او ارامې برېښنا یو عجیب ناشونی بدلون موندلی و، غني ورته هېښ پېښ پاتې و؛ ده ګومان کاوه چې برېښنا نوره لېونۍ شوې ده، غني ګرم نه و، په رښتیا هم د برېښنا ټول کړه وړه د لېونو وو، بېخي د لېونو له هغې شېبې وروسته یوازېنۍ خبره چې غني ته برېښنا وکړه، هغه دا وه چې ورته ویل یې :

ــ په تاسي کې مسلمان نشته، پښتانه خو له اصله نه یاستئ .

خو د جمعې په سهار کله چې غني برېښنا ته د خدای په امانۍ لپاره راغی، په هغې کې یې هېښنده بدلون تر سترګو شو، هېڅ باور یې نه راته، داسې ګومان یې وکړ، چې یا یې خو سترګې نه ویني او یا خو دا برېښنا نه ده. د برېښنا ویرژلې کمزورې او بې ډاډه نظر چیرې تښتېدلی و، له دې ښکلو سترګو ډاډ او وېلاړ څڅېده، لکه د یوه توریالي تور باس له سترګو چې ځاځي. پر شونډو یې یوه ناځرګنده، خو ځواکمنه موسکا خوره وه. د پخوا په شان یې د خپل ګڅ لاس منګوله په ښې منګوله کې نه وه نبولې، لکه د برېښنا غلی نظر، ویرژلې بڼه او وچې شونډې یې غني ته ورلبړېدلې وي. د غني له سترګو او بڼې نه د هغه ویرژلی حالت او د زړه ماڼېجن انځور اوچت ښکارېده، بریښنا یې مخامخ له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلي هوډمنې بڼې سره ناسته وه، خو لکه چې برېښنا په څه خبره وي، داسې ئې پر زيړو اننګو تودو اوښکو مخ په ښکته منډې کړې، خو له شونډو يې ډاډ او موسکا ونه تښتېده، پر برېښنا غني د رښتيا ګران و، داسې ګومان يې کاوه چې په دې بنديخانه کې يوازې نه ده، ان د هغه په شتون کې يې ځان يوازې او بې خپلوانو نه ګاڼه، لکه تل چې زلمی ورسره ګرځي؛ ډوډۍ ورته راوړي، پوښتنو ګروېږنو ته يې وروګي او پر خدای يې باور ته رابولي او د زړه ډاډ ورکوي. غني ورته د خپل تلو وويل، دې ترې د نن پاتېدو غوښتنه وکړه، خو غني پښې په يوه موزه کې ننه ايستې او ويې ويل :

ـ دنن په خاطرخو ځم، نور نو زما د پاتېدو ورځ نه ده، د دوی د جهاد...

ـنن که ته...

ـګوره ښه يې واوره، هغوی زمونږ د ټولو لاسونه راوتړل، شپږ تنه شاهدان يې تېر کړل، شپږ تنه، د هېچا هېڅ ورسره په وس نه وه، ملا صاب خانو په دې فيصله کې نه و، شپږ تنه شاهدان! لا يې نور هم راوستي، هېچا هېڅ هم ونه سوه کړای، هېڅ يوه يې ونه سوکړای .

بيا يې ناڅاپه سر لوړ کړ، برېښنا ته يې نېغ، نېغ وکتل :

ـ برېښنا رښتيا ووايه، داڅه کيسه ده، زه خو يې هېڅ په سر و بر پوه نه سوم، دا ستا خسرګنۍ ولې پر خپل عزت نه ده، ته خو د هغوعزت يې نه؟ داځرنګې خلک دي، دا پښتانه دي؟ دا خو پښتونواله نه ده، دا ځرنګې پښتانه دي، دوی به نو ځانو ته مسلمانان هم وايي؟

ـخو زه ورته له زويه نه تېرېږم، هېڅ به تېره نه شم، يوه کليمه به تېره نه شم .

غني هېښ پېښ وروکتل، د برېښنا له سترګو د خپلو خبرو تصديق له ورايه ښکارېده. برېښنا بيا وويل:

ـ زه به مې زوی هېڅکله ورنه کم، هېڅکله، هېچا ته يې نه ورکوم، بس همدا يې زور دی .

ـ زه ستاسي په کيسه هېڅ نه پوهېږم، داڅرنګه خلک دي، نو دا ښاريان ټول د سره همداسې دي؟

برېښنا په هېښتيا وروکتل، خو غني خپلو خبرو ته نوې کړۍ واچولې :

ــ زه رښتيا درته وايم، موږ خو سارايان يو، نه مو ښځې په اليپ او بې خبرې دي، نه نران، منګر تاسې خو ځانونه ښه هوښياران بولئ، پوهېږې زما نو نوره کرکه کېږي، زه يو څه له کيسې خبر يم

ـ څه کيسې نه ؟.

ـله دې څخه چې ستا لېور تا ته سترګه دراړوله .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــغني دا څه وایې، زه یې د ورور کونډه یم، که نه پخوا داسې نه و .

ــزه هم همدا وایم، زما یې پر بنیادمانو باور لږ کړ، پوهېږې زه نو اوس پر تا هم باور نه لرم، پوهېږې پر تا، ته چې ما ته له موره هم نژدې ښکارې، نه پوهېږم، نود رښیتا قیامت نژدې سوی او وینې سپینې سوی دي، زما یې کرکه راوسته .

غني خپلې وروستۍ خبرې په داسې حال کې وکړې، چې نور نو له کوټې نه په وتو و، همدا چې له کوټې ووت. بیا لکه میاشه داسې الونیاشوه، لکه هېڅو دي کوټه کې چې نه و، د سترګو په رپ کې یې په برېښنا پسې دروازه کلپ کړه، خو د هغه وروستیو خبرو د برېښنا په ذهن کې یو نه رامېدونکی شور جوړ کړ، له ذهنه یې د هغه وروستۍ خبرې په وار سره په تېرېدو شوې: (زه نو اوس پر تا هم باور نه لرم، پوهېږې، ته چې ما ته له موره هم نژدې ښکارې). له سترګو یې د اوښکو راڼه څاڅکي راوښویېدل. دغه تور کي ډنګروکی هلمندوال غني څه عجیب انسان و. د هغه خور خور ویلو به د دې په زړه کې د خورولۍ احساس راژوندی کاوه، خوږ و، خو سوچه کتلو به ئې دا د ځان خوا ته راښکله، خوږو کیسو به یې له ځان سره هلمنداو د هلمندیانو ساده، کلیوال او پښتني ژوند ته وربېوله. د خپلې برېښنا خور د کیسو په کولو به یې دې ته دا ډاډ ورکاوه، چې دا غم یوازې پر دې نه دی او د عالم غم، نه غم دی. په یوه شېبه کې یې هغه ټولې شېبې له سترګو تېرې شوې، کومې چې غني کله کوټې ته د کوم کار لپاره راغلی و، دا یې تحقیق، یا بل کوم قضایي کار لپاره چېرې بېوله او د دې لپاره چې دې ته اروایي ځواکنمتیا ورکړې وي، نولومړی او وروستۍ خبره به یې همداوه چې:

پر رب العزت باور ولره، د هغه هر څه په وس وي، خو نن ورته غني د تلو پر مهال داخبره ونه کړه، دغه تور کي هلک په خپلو تلو، تلو کې ټول هغه څه وویل، چې په دې څو ورځو کې یې د خور تر نامه لاندې په جبر پټول، هېښنده وه. غني ترې نیم عمر کشر و، دې ته لکه زلمی داسې ښکارېده، د دې هېڅو په زړه کې دا نه ګرځېدل، چې ګوا کې غني دی... دغه غني هم توپان کاوه؛ هغه به هېڅکله برېښنا ته نېغ نه کتل، هېڅکله یې ورسره ټوکو ته زړه نه ښه کاوه، ډېر به ورسره نه کېناسته، بس یوه، دوې خبرې به یې په ولاړه وکړې او په منډه به له کوټې ووت. د برېښنا پر پڼۍ د سرو نرمه لړبکه راخوره شوه، خپلې متې یې په دواړو منګولو کې کلکې ونیوې او همداسې د طالبانو د راتګ په هیله یې دېواله ته تکیه وکړه، پر کوټه یې نظر وځغلاوه، د کوټې ځمکه، چت او دېوالونه دا هر څه دغني له انځورونو ډک وو، د دغو انځورونو په لیدو وځورېده او سمدلاسه یې سترګې پټې کړې .

لا به د ګړۍ ستن پر اته نیمو بجو ولاړه وه، اوس خو د وخت په تېرېدو او بدلیدو څکه نه پوهېده، چې د سیلمان د لاس د سرو زرو ګړۍ ترې مولوي عتیق الله واخسیته او په دې نوم چې دا هم د غلا مال دی، هغه یې سلطان ته وسپارله، ځکه یې نو له ځان سره داسې وانګېرله، چې ګنې اوس به نو د ګهیځ اته نیمې بجې وي، همدا مهال به و چې مولوي عتیق الله د دو نورو زلمکیو طالبانو سره کوټې ته راننوت، همدا چې سترګې یې پر برېښنا ولګېدې، نو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدلاسه یې په ځېره کې یوه شیطاني موسکا راځرګنده شوه، ورسره یې پر شونډو ژبه تېره کړه، د هغه پر دې کړنې ، لکه پر برېښنا چې چا اور ورلی وي، داسې سره او شنه شوه، په کرکه یې ترې مخ واړواه، دا ځکه چې د هغې پیښې یوه، یوه شېبه یې اوس هم له ذهنه په وار، وار تېرېده، اوس یې هم د عتیق الله د پنجو خاپونه پر ټولې پڅۍ پاتې وو، د هغه د شونډو ټپ یې پر خپلو شونډو اوس هم لکه مرداره احساساوه. د هغه د متو کلکې کړۍ اوس هم ورته سا په مرۍ کې بندوله او له نازکو او نرمو هډوکو یې اوس د ماتېدو ټکونه ختل او د هغه د اوږدې ږیرې او اوږدو وېښتانو له وجې اوس هم اننګو سوی کاوه، دا نو دې ته نه هېرېدونکې وه، خو مولوي هماغه شان خندان ولاړ و. برېښنا نو د هغه د خنداني بڼې د لیدو ځواک نه درلود، ناڅاپه یې پرې لاړې تو کړې، په ژړاند او قهر ژلي غږ وویل:

ــ ستا دې پر استاد لعنت وي، لولۍ زویه !

مولوي په ارامۍ پر خپل مخ توکړې لاړې پاکې کړې، بیا یې دوو زلمکیو طالبانو ته غږ کړ :

ــدرویې نیسئ، نن خو بې اغی له بلا خلاصېږو او له دې خبري سره له کوټې ووت.

دوو زلمو په ولکه کې برېښنا له کوټې راوایستله شوه، خو د تلو پر مهال یې کوټې ته داسې وکتل، لکه دې کوټې نه د وتو زړه نه لري، رښتیا هم برېښنا ته په وروستۍ شېبه دا ځرګنده شوه، چې دا کوټه ورته ګرانه ده، کوټه ورته یو ځل بیا د غني له تنکیو انځورونو ډکه ښکاره شوه، ژر یې سترګې پټې کړې او مخ یې ترې واړاوه او همداسې په پټو سترګو توري ښیښې والې ډاټسني ته وخته .

د غازي سټېډیوم لوی انګړ له خلکو ډک و، واړه، ځوانان او زاړه ټول په ګډه راټول شوې وو، خو راټول شوي نندارچیان ټول نارینه وو، ایله یوه، یوه ښځه په چادري کې تر سترګو کېده، چې ښایي کوم خپل به یې دلته سزا لیده. دلته خو هره جمعه همدا حال و، اوس نو په خلکوکې دا ګروهه ورو، ورووپه سیکندو وه، چې ګنې څوک د جمعې په ورځ مړ شي، نو جنتي دی، دا ځکه چې دلته خو اکثره د جمعې په ورځ پر قاتلینو او زانیانو، حدود جاري کېدل، دلته به هره جمعه داسې ننداري کېدې. نور نو دلته په غازي سټېډیوم کې د فټبال او والیبال لوبې نه لیدل کېدې او نه یې په خپله غېږ کې د هېواد د خپلواکۍ جشن ته ځای ورکاوه. دلته به هره جمعه نور شان جشنونه او ننداري وې، نن هم همداسې یوې ننداري ته زښت ډېر خلک راټول شوي وو او همدا چې دوې توري ښیښې والې ډاټسنې د سټېډیوم انګړ ته وردننه شوې. په سټېډیوم کې ولاړو ټولو ننداړچیانو ورته په یو وار مخ راوګرځاوه. که څه هم د برېښنا پر مخ څادري خوره وه، خو بیا یې هم ګنه ګونه لیدای شوه، ځکه خو یې نو د خلکو په لیدو شڼ وواهه او خپل ګڅ لاس ته یې وکتل. پر وجود یې نرمه لړزه راپرېوته، په تورو سترګو کې یې بې وسۍ او نهیلۍ نور هم ځان راجوت کړ، هغې خپلې بې وسه او وېرژلې سترګي هره خوا اړولې رااړولې، خو هره خوا تور سرونه وو، چې د دې د ننداري لیوالتیا د ټولو سرونو په سترګو کې اوچته ښکارېده، ناڅاپه یې مولوي عتیق الله ته چې تر مخې یې په لومړني سیټ کې ناست و، وکتل. خو هغه ورته د ملنډو ډکه خندا وکړه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ځوک چې غلا کوي، همدا به يې حال وي .

دې هم بې ځوابه پرېښنود او په لوړ غږ يې وويل:

ـــ او چې زنا کوي؟

ـــښځه به سنگسارېږي، پر نارينه به دېوال چپه کېږي، اوس نو دې خوله نوره دربنده کړه !

خو د عتيق الله په څېره کې د ډار هېڅ نښه هم راڅرگنده نه شوه، ان په ډاډ او غرور يې ډرېور ته وکتل، چې غلی شان يې په انگړ کې ولاړو په سلگونو زړو ځوانو او وړو ننداړ چيانو ته په يوه متفکر او مانېجن انداز کتل. له دې سره مولوي تر ژبې لاندې ورو وويل :

ــ لکه چې زنا يې ام کړې، پر دغو بازارۍ ښځو هېڅ باور نسته، دوی له گناه څخه يو عجيبه لذت اخلي. په دې ترڅ کې ډريور ده ته سترگې راواړولې، وړه سا يې واخيسته او بيا يې په هينداره کې د برېښنا ليدو لپاره سترگې جگې کړې، ويې ويل:

ــ مولوي ساب! داسې ام نه ده، خدای پوهېږي، چې په موږ کې څوک ښه خلک دي او څونې زانيان دي؟

ـــته نو پر...

ـــيه، زه دا خلک ښيم چې ځان ښاري نه بولي .

مولوي عتيق الله ډرېور ته نور څه ونه ويل، همداسې يې وړاندې وکتل. څو شيبې وروسته په داسې حال کې چې پر موټرو د ټولو ننداړچيانو سترگې نښتې وې، ډاټسنې ودريدې او له ډاټسنو وروستی تن برېښنا وه، چې راښکته شوه .

په سکينو قدمونو وخوځېده، که څه هم لړزېده، خو هڅه يې کوله چې خپله لړزېدا قابو کړي، تر څو ونه لوېږي. تر څنگ يې دوه زلمکي طالبان لکه دوه بې روحه پژۍ داسې بې غږ و بې غوږه روان وو، همدا چې برېښنا د خلکو تر مخې ودرېده، نو يوه تن يې ژوند ليک او گناه ليک په گډه ولوست. له هغه وروسته يو بل تن له اوږودو خبرو وروسته د دريېو گونو محکمو فيصلې په وارسره وويلې. ډېرو به ډېرې خبرې کړې وې، خو برېښنا هېڅ هم نه اورېدل، هغې يوازې هلته وړاندې ولاړ سپينې چينې وال ډاکټر ته کتل، چې د جراحۍ سامانونه يې تر مخې پراته وو، ان برېښنا په دې هم ونه پوهېده، چې دې له يې کومه جزا او څرنگه جزا واوروله. د هغې يوازې دومره په ياد وو، چې پر هغې يې د غلا تور لگولی و او شاهدان يې پرې تېرکړي او پر غله باندې گڅ لاس پرېکېږي، خو نا، طالبانو به کله، کله ښې لاس او ښې پښه هم پرېکوله، ځکه خو برېښنا هېښه وه، چې نن به له دې څخه کوم غړی پرېکېږي، کله به يې خپل ښې او کله به يې هم گڅ لاس ته وکتل. کله، کله خو به يې خپلو پښو ته هم کتل او لا به يې په زړه کې راوگرځېدل، هسې نه چې سر ترې پرېکړي. له ډاره به يې اندامونه زېږه شول اولکه چا چي سړې اوبه پرې پاشلې وي، داسې يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېټ وواهه او د خیالونو له نړۍ څخه رابهره شوه. خلکو ته یې وکتل، خلک لړ سره ښوربېدلې وو. خپله جوړه کړې لیندۍ یې نوره هم راتنګه کړې وه، خو دا یې په لامل ونه پوهېده، همدا چې زلمکیو طالبانو په ګډه ورته د خوځېدو وویل، ایله وپوهېده، په نهیلۍ یې خلکو او بیا زلمکیو طالبانو ته وکتل. سپینکی او غوښن طالب سترګې ښکته نیولې وې، د هغه له خنډۍ ونې سره د هغه دا رنګه پاسوالي څه عجیب خوند کاوه، خو تر څنګه یې غنمرنګي طالب غاړه ټکه نیولې وه او داسې غلی او بې خوځښته ولاړ وو، لکه بې نومه شهید ته چې درناوی کوي. په همدې ترڅ کې سپینکي طالب په نرمۍ وویل :

ـــ درخوځېږه!

برېښنا له خوځېدو دمخه تر شا مولوي عتیق الله ته وکتل، مولوي په خپلو ځلاندو موسو سترګو دې ته په ملنډو وکتل، د هغه په لیدو، لکه چا چې اور ورته اچولی وي، داسې یې رګ، رګ او ماغزه وسوځېدل، په کرکه یې ترې مخ واړاوه. دا ځل نو داسې په اوچتو ګامونو د ډاکټر پر لور وخوځېده، لکه مولوي ته چې دا ورپه ګوته کوي:

وینې دار ته هم داسې په نره روانه یم. خو داسې نه وه، څومره چې روغتیا پال ته نژدې کېده، په هماغه کچه یې له پښوسېک تښتېده، اوس نو په کړاو روانه وه، همداچې ډاکټر ته نژدې شوه، سترګې یې د جراحۍ پر سامانونو ولګېدې، سمدواره ولړزېده، ډاکټر ته یې وکتل، هغه سر ښکته نیولی و. که څه هم پرته له سترګو یې نور ټول مخ او سر څه په ماسک او څه په خولۍ پټ و، خو بیا هم د هغه په ښکته سترګو کې د هغه احساس برېښنا اوچت احساساوه .

همداچې ډاکټر د دې لاس ته په دسکشو پټ لاسونه وروړاندې کړل، د خلکو له منځه د تکبیر نارې اوچتې شوې، لکه دې چې همدا نارو ته لار څارله، سمدواره یې ورسره داسې جوخته کړه:

لااله الا الله محمدرسول الله، بیا یې د ګڼو خلکو پر خوا وکتل، هغوی ټول داسې ښکارېدل، لکه یوې په زړه پورې نندارې ته چې راټول شوې وي، د هغوی له سترګو دې دا احساس کړه، چې همدا نارې وهي:

ــ ژر کوئ، ژر کوئ !

سمدلاسه یې دروم نرون له ذهنه تېر شو، چې هره ورځ یې د عیسویانو په وژلو خلک داسې روږدي کړي وو، چې نور نو خلکو ته د عیسویانو وژل او زورول یوه ننداره وه، یوه ډېره په زړه پورې ننداره. ډاکټر ته یې وکتل، هغه اوس هم سر ښکته نیولی و. دغه له ونې لوړ او ډنګروکی ډاکټر د نرون جلادانو ته نه پاتېده، دی داسې و، لکه څوک چې پر پرښتې په جبر ګناه کوي .

په همدې شېبه کې چې برېښنا ډاکټر ته کتل، ډاکټر سر لوړ کړ، د هغه د سترګو په لیدو برېښنا یو ګام تر شا لاړه، د هغه لوړه ونه، د هغه زر زې سترګې څه اشنا وې، ډېرې اشنا وې، د سترګو اشناورګي کسې یې د ماسک او خولۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په منځ کې لا شنه ښکارېدل. د ماسک او خولۍ منځ راښکېلې سترګې یې خورا غټې ښکارېدې، خو یو ډول اشنا خوږوالی په کې احساسېده، د ډاکټر سترګې اوښلنې وې، برېښنا پرته له دې چې د ډاکټر تر مخې پرتو د جراحۍ سامانو ته وګوري، د ډاکټر لاسونو ته یې وکتل، چې د دې ګڅه منګوله په کې ښکېله وه او ډاکټر پرې د انستیزي عمل اجرا کاوه. برېښنا بیا په لیوالتیا د هغه سترګو ته، چې د دې پر سپینې او خوارې منګولې کلکې نښتې وې، وکتل. هېښنده وه، د هغه له سترګو اوښکو مخ پر ماسک لارې کولې او بیا په سپین ماسک کې ورکېدې. هغې همداسې ډاکټر ته یو کرار کتل، چې د ګڅ لاس په مړونده کې یې یو وړوکی شان سوی احساس کړ، ډاکټر د انستیزي عمل اجراکړی و او د برېښنا هم ایله خپل ګڅ لاس ته پام شو، چې د سیلمان د لاس کړۍ په کې ځلېده، ژر یې پر لاس ښي لاس تېر کړ، خو څه یې احساس نه کړه، لکه پر لاس چې یې هوا تیره شوې وې، ناڅاپه یې کینه منګوله په ښې منګوله کې کلکه کړه او همداسې یې د خلکو پر لور منډه کړه، زلمکیو طالبانو ورپسې په ځغاسته شول، خو برېښنا په پښو کې ځالاکه وه، هغې غوښتل چې په ګڼوخلکو کې ځان ورک کړي او یا خو به یې غوښتل، چې څوک ورته د پناه غېږه پرانیزي، خو هغه په همدې شېبه کې جزامیانو ته ورته وه، چې هر چا ته نژدې کېده، هغه به ترې په ډار تښتېده، خو دې همدا نارې وهلې :

ــ ما د چا غلا نه ده کړې، پر ما یې تورلګولی دی، هغه مولوي هم په دې خبره خبر دی، ټول خبر دي. لکه د دې خبرې چې هوا غلا کولې، داسې هېچا وانهورېدې. برېښنا د خلکو په منځ کې په پیدا شوو لارو کې ځغلېده، چې د امربلمعروف سړي له تورو کېبلونو سره راپیداشول، هغوی ډېر ژر برېښنا ونیوله، یوه کېبل والا پرې د کېبل ګوزارونه پیل کړل، بل کېبل وال لاس ورواچاوه، له متې یې ټینګه کړه او همداسې یې پسې راکشه کړه. دا یې په کشولو، کشولو تر ډاکټره یووړه او لکه څوک چې مرداره ګوزاروي، داسې یې د ډاکټر پر لور ګوزاره کړه. دې لا ځان سماوه، چې چا یې لاس ته لاس ورواچاوه او په پوره ځواک یې د دې لاس ډاکټر ته په لاس ورکړ، دې هغه تن ته وکتل، یو بل کېبل وال و، چې له بنې تک تور او ټول په وېښتو پټ و، انجره لنګۍ یې پر اوږو د ډېرو منډو له لاسه ګډه وډه پرته وه، دې ته یې په قهر ژلې ژبه وویل:

ــ دغلې لورې چې غلا دې کړه، هغه وخت به دې پکر کاوه، اوس نوسزا ته کښه .

له دې خبرې سره کېبل وال تر شا لاړ او یو دوه ګامه تر شا له خپل بل کېبل وال ملګري سره خوا پر خوا ودرېده. ډاکټر تر دې دمه غلی او بې خوځښته ولاړ و، په متفکر انداز یې دغو پېښو ته کتل. هغه به یو، یو تن له سترګو تېراوه، بیا به یې برېښنا ته وکتل او سمدواره به یې سا واخیسته. د برېښنا مخ په څادرۍ پټ و او چا نه لیده، مګر ژوندلیک یې ټولو واورېده او ډاکټر هم په ښه غور اورېدلی و، ځکه خو داسې ورته ښکارېده، لکه هغه چې تر څادرۍ لاندې هم ویني. ډاکټر طالبانو په چپه په نرمۍ خپل کار کاوه، په نرمۍ یې د برېښنا له ګوتې نه د واده کړۍ راوایسته. هغه یې برېښنا ته ونیوه، برېښنا هم واخیسته او ژر یې په ګوته کړه. ډاکټر بیا هم په هماغه متفکر انداز هغې ته کتل، په تېره بیا د واده کړۍ ته یې په یوه عجیبه کرکجن انداز وکتل، خو سمدلاسه یې له سترګو کرکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکه شوه او بیا یې سترګو هماغه متفکر حالت ونیوه. بریښنا ډاکټر ته په هېښتیا کتل، ډاکټر لکه زړه نازړه وي، داسې یې زړه نازړه د جراحۍ پر سامانونو لاس کېښود، د ډاکټر ورو او زړه نازړه چلند، نوره بریښنا پوزې ته رسولې وه، هغې غوښتل چې هر څه زر خلاص شي، خو ډاکټر بیا دا غوښتل چې بریښنا لږ نورې شېبې هم خپل لاس ژوندی ووینې، ځکه یې کرار، کرار کارکاوه. یو مهال یې په کرارۍ وویل:

بریښنا ما وبخښه !

دغه غږ نه و، لکه چا چې یې په غوږونوکې د ډېرو پخوا زمانو یو هېر زنګ کړنګولی وي، دا غږ داسې د دې په غوږونوکې وکړنګېد، لکه کلونه چې غلي و، اوس یې نو زنګ وهلی وي. له دې غږ سره د بریښنا په رګونوکې یوه سړه څپه وځغلېده، خو ډاکټر د دې د ګڅ لاس پر مړوند یوه نرۍ لیکه وښکله، بیا یې د جراحۍ پل ته خپل لړزنده لاس اوږد کړ، همدا چې د جراحۍ پر پل یې بیا لاس ولګېده، نو یوه شېبه تم شو، کیبل وال چې د ډاکټر د کرار کار له وجې له قهره کله سور او کله شین اوښته، وړاندې راغی او په قهر یې ډاکټر ته وویل:

ــ ډاکټره ژرکوه، ته ورسره څه زړه سوی لرې!

له دې سره ډاکټر خپلې په جراحۍ دسکشو پټې ګوتې پر جراحۍ پل راوګرځولې، په چټکۍ یې راجګ کړ، همدا چې ډاکټر د بریښنا د مړوند پر نښانه شوي ځای د جراحۍ پل کېښود، یو ځل بیا د خلکو له منځه د تکبیر نارې اوچتې شوې. په همدې شېبه کې بریښنا سترګې پټې کړې او ورو یې د تکبیر له نارو سره جوخته کړه:

ــ بې شکه چې خدای (ج) لوی دی. دا هغه مهال و چې ډاکټر د بریښنا د مړونده سپین هډوکي سره بېلول، بریښنا ژر کلیمه شریفه پر ژبه کړه، بیا یې په کرارۍ او پام سره سترګې پرانیستې، لا خو ډاکټر ورته لاس پانسمان کړی نه و او لا یې د منګولې او مړوند هډوکي سپین ښکارېدل، د خپلو هډوکو په لیدو یوه شېبه داسې بې خوځښته او بې انده پاتې شوه، لکه چا چې تر روح او ټول حواس لوټ کړي وي. ډاکټر ورته غوڅ مړوند ژر، ژر پانسمان کړ او همدا چې له خپله کاره خلاص شو، نو د لېونو په شان یې د خپلو جراحۍ سامانونو په ټولولو پیل وکړ او په یوه شېبه کې یې ځان چمتوکړ او وخوځېده، خو بریښنا پر خپل ځای ولاړه وه او په اوښلنو سترګو یې خپلې غوڅې شوې منګولې ته کتل، چې مړاوې پر سپین مېز پرته وه، بیا یې ډاکټر ته وکتل، که ګوري چې ډاکټر نه دی تللی او لا پر خپل ځای ولاړدی او د دې پرې شوې منګولې ته ګوري. له سترګو یې نارینه یې اوښکې په کتاني ماسک کې ورکېږي. ډاکټر همداسې په کتو، کتو کې وخوځېد، هماغه واړه لاسونه، هماغه ګامونه او هماغه ونه. دې لا ډاکټر ته کتل چې په لوډسپیکر کې د دې د ازادېدو اعلان خپورشو، خو له دې ازادۍ یې کرکه وشوه، داسې یې دغه د ازادۍ اعلان واورېده، لکه څوک چې د چا پښې او لاسونه ورغوڅ کړي او بیا ورته د ازادېدو خبر ورکړي. د ازادېدو له اعلان سره، سره بریښنا له ځایه ونه خوځېده. ډاکټر نو تللی و، اوس یې یوازې د ګامونو خاپونه ښکارېدل، چې یوسپینکي طالب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته په یوه پلاستیکي کڅوړه کې د دې غوټه منګوله ورکړه. د تلو پر مهال طالب مالګینه موسکا وکړه، خو د موسکا تر شا یې د ویر خړه په توروسترګو کې اوچته ښکارېده. طالب سمدلاسه په خلکو کې له سترګو الونیا شو .

د هغه په تلو ایله بر ېښنا ته پلار او ورور ورپه یاد شول، په خلکو کې یې سترګې وګرځولې، خو څوک نه وو راغلي. د هغوی په نه راتلو لا خوښه شوه. تر شا یې وکتل، د یوه زانې ژوند لیک او ګناه لیک لوستل کېده، مخامخ لا خلک ولاړ وو، چې د دغې زانې د مرګ او د دوو قاتلیونو د قصاص ننداره وکړي، سا یې تنګه، تنګه شوه، نور نو د دې ځای هوا زړه تنګوونکې وه. خپله غوټه منګوله یې په ښې لاس کې ټینګه کړه او همداسې وخوځېده.

 

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

له هغه مهاله يې يوه مياشت تېره وه، اوس يې نو د لاس زخم بېخي جوړ شوی و، د دغه زخم جوړېدل داسې وو، لکه د برېښنا د اندېښنو زخمونه چې هم جوړ شوي وي، له پخوا ډېره خوښه وه، هغې انګېرل چې که يولاس يې غوڅ شو ، څرک خو ورته ټول پاتې شو، ان بنديخانه او مولوی عتيق الله يې هم هېرشوي وو، لکه هغه څه چې يې هېڅ په ياد نه وي، نور نو ذهن يې له دغو نومونو او هلته ورسره شوي چلندونو نه تش شوي وو، بېخي تش شوي وو. که څه هم له خپل عدت سره سم اوس هم د وچې منې تر څنګ درېدله، خو د پخوا په شان په اوښلنو سترګو نه درېده، اوس يې نو پر شونډو کله، کله موسکا هم راڅرګندېده، خو له يوه څه چې ډېره ځورېده، هغه هغه راز و چې له خپلې مور او کورنۍ نه يې پټ کړی و او نه يې غوښتل، چې کورنۍ يې په دې خبرې وپوهېږي، چې د بند پر مهال مولوي ورته لاس اچولی و، که نه بيا خو دا د مرګ وړ وه او څرک به چا ساته. برېښنا که څه هم داسې احساسوله، چې نور نو تو کړې لاړې دي، چې هېچا ته په درد نه خوري، خو داسې يې احساسوله، چې څرک ورته اړتيا لري، لږ تر لږه بايد د څرک لپاره ژوندۍ واوسي. همدا وجه وه چې هڅه يې کوله، تېر پر هېر کړي او همداسې يې هم کول .

پوره يوه مياشت يې بې غږ و غوږه تېره کړې وه، چې په دا تېريو کال کې يې هېڅکله هم داسې ارامې او کرارې ورځې نه وې ليدلې، داسې لکه چې دا نړۍ بدله شوې وي، پرته له کومې شخړې بېګا ويده شوې وه او ګهيځ وخته راويښه شوې وه. سراج کورنۍ هم هڅه کوله، چې څه ورپه ياد نه کړي، امنې ټول منع کړي وو، چې ان يوه پوښتنه هم ترې ونه کړي، هغه پوهېده چې دا رنګه چلند برېښنا ته سکون ورکوي او له اروايي زور ځخه يې ژغوري، خو د لاس له غوڅېدو به يې ايله يوه مياشت تېره وه، چې يو ګهيځ يې وختي د مور غږ تر غوږ شو. مور يې په انګړکې ولاړه وه او چا ته يې ورو ويل :

ــنسيمې وويل چې د برېښنا لاس ظريف ورغوڅ کړ.

له دې خبرې سره برېښنا ژر پر ځای کېناسته، خو نور يې نو څه وانه ورېدل، له ځايه جګه شوه انګړ ته يې له کړکۍ نه وکتل، خپل پلار يې وليد، چې په يو چا پسې دهلېز ته راننوت، لومړی تن يې ضرور مور وه. يوه شېبه په هېښتيا په کوټه کې وګرځېده، ناڅاپه يې د منې د وچې ونې پر لور ورمنډه کړه، د دې دا رنګه منډې رامنډې د کورنۍ غړو ته هېڅ هېښنده نه وې، هغوی نو اوس بېخي روږدي شوي وو، ځکه نو په دغه سپېده چاود کې هېڅوک د دې دا رنګه ناڅاپي منډې ته هېڅ هېښ نه شول. همدا چې ونې ته ورسېده، له ونې يې غېږ تاو کړه، يوه شېبه يې د خيالونو نړۍ ته ورمنډه کړه، د پېغلتوب مهال او خپل تروږزی ظريف يې پر زړه راواورېدل، هغه ترې پنځه شپږ کاله مشر و، له دې سره به يې په لوستونو کې کله، کله مرسته کوله، دا ځکه چې د دې مور او پلار دواړو دولتې دندې درلودې، ځکه خو نو ظريف د دې د لوست چارې پر غاړه اخيستې وې. لومړی خو دواړې کورنۍ په يوه انګړ کې سره اوسيدې،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې سره بېل شول، خو بیا به هم ظریف د دې لوستونو ته ځان اوزګاراوه. هغه د طب د پوهنځي محصل و او دا لا په لسم ټولګي کې وه، ظریف او د دوی ټولې کورنۍ غوښتل چې برېښنا ډاکټره شي، خو دې په زړه کې دا نیولې وه، چې په خدای که څوک وربانديې د طب پوهنځي ولولي. ټوله ورځ به یې له مور سره جګړه وه، چې ظریف ولې ورته لوست وایي. د دې ورته نوره اړتیا نشته ، هځه به یې کوله چې په یو ډول نه یو ډول ظریف له ځانه خوابدی کړي. له لوستلو نه به یې ځان ښکه او له ظریف سره به یې تل شخړه وه، خو دا هر څه ظریف په یوې خوږې موسکا تېرول، برېښنا د حقوقو پوهنځی وټاکله، ظریف په دې کار خوابدی شو، خو بیا یې هم پر مخ رانه وړه، له برېښنا سره یې خپل چلندبدل نه کړ او لا به ورته وروسته د دې پوهنځۍ ته له خپلې دندې نه راته. د دې پوښتنه به یې کوله او لا یې دا وستایله، چې ښه ټاکنه یې کړې ده، مګر خوارکۍ به پرېکړې ونه شي کړای. برېښنا پر دې خبره هم له ظریف سره شخړه وکړه، مګر ظریف بیا هم په خوږې موسکا له هغې سره پخلا شو، خو کله چې برېښنا له سلیمان سره کوژده شوه، نو بیا نه ظریف د دوی کور ته راغی او نه خو برېښنا د هغه بد وویل. دې پېښې ته ټول هېښ وو. برېښنا د خپلې خوږې په ورځ یوازې د ظریف راتلو او نه راتلو پوښتنې کولې او ظریف په دې ورځ ناڅاپه کندز ته وخوځېد او بیا یې هېڅکله هم د برېښنا پوښتنه ونه کړه او نه یې هم له چا سره کوژدې ته زړه ښه کړ او نن چې یې د مور له خولې د ظریف نوم واورېد، نوایله یې پام شو چې ظریف اوس هم ورته یو نوم دی. که څه هم دې هغه مهال انګېرل، چې د شخړو او بې ادبیو تر شا به دغه راز، ان د ظریف له سترګو پټ کړي، خو د لاس غوڅېدو پر مهال ورته د ظریف له کتو نه دا څرګنده شوه، چې هغه پرې کلونه پخوا هماغه مهال پوهېدلی و، چې برېښنا ته د ده نوم له نورو نومونو یوجلا نوم دی. د پېغلوتوب د مهال په یادولو یې پر شونډو یوه ترخه موسکا راڅرګنده شوه، خپل غوڅ لاس ته یې وکتل، دا ځل د لاس له غوڅېدو څخه ونه ځورېده، همداسې ورو د کوټې پر لور وخوځېده. په کوټه کې یې مور او پلار د کړکۍ تر څنګ داسې غلي ناست وو، لکه تراوسه چې یې د دې د لېونیو خوځېدنو ننداره کړې وي. د دې په لیدو دواړو یو بل ته وکتل، برېښنا د دروازې په خوله کې کېناسته، مور یې پرې سمدلاسه غږ وکړ:

ــ زویه ولې د مساپرو غوندې د دروازې په خوله کې کېناستې؟ دننه راشه !

خو برېښنا له ځایه ونه خوځېده، پلار یې ترې په ناکرارۍ وپوښتل:

ــ زویه ناکراره غوندې یې، بیا دې څه په زړه کې راګرځېدلي دي؟

ــابا رښتیا زما د لاس دا منګوله مې ښیم، دا رښتیا ظریف...

ــولې ظریف ستا په لاس څه کړي دي؟

ــهېڅ یې نه دي کړې، هغه هېڅ نه دي کړې، ما ویل چې ما هماغلته وپېژانده، تر ماسک لاندې مې ښه وپېژانده، هماغه و، هغه زما لاس پرې کړی دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنه د دوی په خبروکې راوغورځېده:

ـما نه درته ويل، گوره دې هم پېژندلی دی .

ـښځې ساده کېږه مه، ته خو څه بېسواده ښځه نه یې چې داسې غږېږې، بې عقلې ظريف نو غوښتل د دې لاس پرې کړي .

ـته ما مه پوهوه، زه ښه پوهېږم، د هغه زمونږ برېښنا خوښه وه او مونږ له سليمان سره د دې کوژده وکړه .

ـبې عقلې، بې عقلې خبرې مه کوه، درته ياده کړې يې وه، جرگه يې درته رالېږلې وه، څه يې کړي وو؟

ـولې نه گورې چې تر اوسه يې ښځه نه ده کړې او بيا يې د برېښنا تر کوژدې وروسته زمونږ له کوره پښه ونيوله. زه وايم بس هماغه کسات يې واخيست، ولاکه نه د زور خبره وي او نه د زر.

ـنجلۍ زه چې وايم ته ساده يې، خو ساده يې دا ستا لور غلا کړې وه، چې لاس يې ترې غوڅ کړ؟ د غسې به يې هغه خوار کی هم مجبوره کړی وي .

ـ ددې دا کار خو خسرگنۍ وکړ، خدای دې حاجي په اور کباب، کباب کړي، لکه زه چې يې کبابه، کبابه کړم، خدای دې يې د بل زوی سر ته کېنوي، زما د لور څه بدي وه.

ـنا،هېڅ بدي نه يې وه، يوازې له کوره په نيمه شپه کې راتښتېدلې وه، نور خو يې ورته هېڅ هم نه وو ويلي؟

برېښنا خپل پلار ته هېښ، هېښ وکتل، په کراری يې وويل :

ابا ما څه کړي وو، هغوی خو راته يوخوا پاڼ، بل خوا پړانگ درولی وکه نه .

ـله زويه به ورته تېره شوې وې، دا مور دې ځونه درته وويل، رښتيا هم چې د ښځو عقل په پښو کې وي .

برېښنا همداسې بې ځوابه پلار ته کتل، چې پلار يې په قهر ژلي غږ پرې راغږم وهل:

ـــ رښتيا وايم ولې حيرانه شوې، لکه چې دا خبرې درته نوې ښکاري، زه حيران يم، تا په دې يوه گوته زوی کې څه ليدلي دي، چې داسې کلکه پې ولاړه يې، زه خو داسې گومان کوم چې دا زوی به دې يو ورځ دا سر درته وخوري. زويه د دې لانجې نه تېره شه، زوی نه زوی .

ـابا بس دی، د خدای لپاره...

ـځنگه بس دی، خبره خو اوس شروع ده...

امنه په ننواتو د سراج په خبرو کې ولوېده :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ اوس خو هېڅ هم نه دي معلوم، خو بيام زويه كه هغوى بيا دا خبره جګه كي، له دې زويه ورته تېره شه، څه وژنې يې خو نه. خپل هډوکی يې دی، زويه د څرک ور نه شلېدنه نشته، اخر څرک د هغه کور دی .

ــادې اوس ته هم دا خبرې كوې؟

ــخود به يې كوم، خود به يې كوم، چې څرک ستا زوی دی، ولې ته زما لور نه يې، په تا نه ځورېږم، لورې ما دې لږه ځانته ودروه... نه ته نه پوهېږې .

له دې سره امنه په سلګو شوه، له دې ورځې وروسته به سراج يو ډول نه ډول برېښنا ته دا يادونه كوله، چې كه هغوی دا خبره رايادہ کړي، دا دې ورته له څرکه تېره شي. لور او پلار به له يو بل سره پر دې خبرې برګ شول، په منځ کې به يې امنه، يا ګلالۍ راولوېده، خبره به يې سړه كړه، سراج به بيا هم برېښنا ته ويل، كه له څرکه تېره شي، نو ټول به كلي ته ولاړ شي او هلته به يو كليوال ژوند جوړ کړي، دا ځكه چې اوس مهال د سراج په اته لكه افغانيو معاش ګوزاره ګرانه وه او امنه هم پر كور ناسته وه، خو برېښنا به له هر څه او هرې خبرې سره سرزوري ښكاره كوله، په غوسه به شوه، له پلار سره به يې قهرجنه ژبه كوله، چې هغوی غلي ناست دي او دی ورته د ډار پيشكې خوشې کوي او ان كله، كله به يې په خبرو کې ادب پرېښود، ان تر دې چې يوه ورځ يې خپل پنډکی وتاړه، تر څوکوم بل ځای واوسېږي، خو سراج دې كار ته پرې نه ښوده او لوړه يې ورسره وكړه، چې بيا به ورته څه نه وايي .

دسراج ايله پام شو چې برېښنا هغه يو كال مخكې پاسوا او نرمه برېښنا نه ده، اوس نو له هر څه سره ذيل كوي، قهر ښيي او ټول د ځان دښمنان ګڼي، ان برېښنا به كله، كله له خوړو او ځان سره هم ذيل كاوه، په دې وروستيوکې خو ورته دا اندېښنه پيداشوې وه، چې ګڼې مور او پلار وربانديې په تنګ شوي او نور يې نو بار نه شي وړی، دا ځكه چې مور او پلار به يې هره ورځ پرتله كومې خبرې دې ته ويل چې: حاجي دوی به دا پر كراره پرې نه ږدي. كه څه هم اوس يې نو مور او پلار څه نه ويل، خو بيا به هم كله، كله داسې په تنګه شوه، چې په زړه کې به يې راوګرځېده، چې راځه د حاجي كور ته ولاړه شه، مګر د حاجي په كور کې به يې څه كړې وای، پرته له سلما هلته څوک و، سلما يې ناسكه ايندرور وه، هغه د عقيدې بنزۍ هم وه، حاجي د سليمان له مور وروسته د سلما له مور سره واده وكړ، خو د سلما مور ورته شنډه وبرېښېده، ځكه خو همدا عقيده، چې د پېغلتوب عمر يې خوړلی و او د عمر پښه يې په څلوېښتو کې وه، په مخه ورغله، حاجي ورسره د واده تړون وكړ او په ډېرو شاندارو مراسمو يې واده وكړ. د عقيدې له راتګه به لا پوره كال نه و تېر چې د سليمان مور ناڅاپه مړه شوه، هغه روغه رمټه وه، ټولو ويل چې دا كار د عقيدې و، مګر حاجي تر اوسه دا خبره نه منله، عقيدې يوازې يو زوی (زمان) وزېږاوه او نوره دا هم شنډه شوه، د زمانې له زېږېدو وروسته د سلما مور هم اميدواره شوه، خو لا يې ماشوم نه و زېږېدلی، چې حاجي له كوره وشړله. حاجي دا پلمه كوله چې ښځې يې له سلطان سره ګوتې خوږې كړې وې او ټوله ملامتي يې ځكه د سلما پر مور واچوله، چې هغه مهال سلطان ايله د اتلسوكالو و او دی يې نادان ګاڼه، خو دا چې خبره څه وه، بيا تر دې دمه چا ته څرګنده نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. سلما د خپل نیايي په کور کې وزبږېدله، لا به یوه کلنه وه چې عقیدې او حاجي خپل کور ته راوړه او دا دی اوس نو شکلې چته پېغله وه. دا ټولې کیسې برېښنا ته سلیمان کړې وې، سلیمان به تل ویل چې سلما په دغو ټولو خبرو خبره ده، ځکه خو داسې بد سترګې ده، په رښتیا هم چې یوځل به د سلما ژبه چا ته پرېکه شوه، نو مګر خدای کراره کړې وه، له هر چا نه یې له حاجي سره ډېره ژبه کوله او کله، کله به یې د نورو پر سر حق ناحقه حاجي سپکاوه، خو حاجي به هېڅ هم نه ویل، هغه هڅه کوله چې د سلما سترګه پر ده ونه لګېږي، نورو ته به یې پټ، پټ وویل:

ــ هغه لیونۍ ده، کار پرې مه لرئ .

سلما په کور کې پرته له برېښنا نه له هېچا سره نه غږېدله، پر عقیدې یې د سازمانۍ نوم ایښی و، دغه نوم عقیده د اور لوخړه جوړوله، خو د سلما پر ژبه پرته له سازمانۍ بل نوم عقیدې ته نه راته. برېښنا ته دغه خورا شتمنه کورنۍ عجیبه ښکارېده، په تېره د سلما کړه وړه ورته ډېر هېښونکې وو. مګر سلما ورته ګرمه نه برېښېده .

ورځې همداسې تېرېدې، د حاجي دوی له کور څخه هېڅوک نه راتله، یوازې یوه ورځ سلما د برېښنا دوی کور ته په ځادرۍ کې پټه راننوته. لومړی خو د برېښنا هېڅ باور نه راته، سلما ته یې په ناباورۍ کتل، په خپلو سترګو یې باور نه درلود، چې رښتیا به ویني، ځکه خو یې سلما ته په ناباورۍ وویل:

ــ اوس نو ته رښتیا راغلې یې؟

د سلما په سترګو کې اوښکې راښکاره شوې، برېښنا ترخه موسکا وکړه، په ټوکو یې ویل:

ــ یانې چې ستاسې په تخم کې دونه رحم شته .

سلما سر ښکته نیولی و، برېښنا ورنژدې شوه، په یوازېنې لاس یې د هغې ګڅه مټه ونیوله، په کرکه یې وویل:

ــ وینې یو بل لاس لا لرم، یانې چې یو بل تور هم راباندې لګولی شئ. سلطان ته ووایه، طالبان پښې هم پرېکوي، درې توره خو دې راباندې پور دي .

ــبرېښنا وریندارې! دا ټول کار د عقیدې دی، د هغې سازمانۍ دی، هغې سره زرغونه ورېنداره هم یو لاس وه، که نه سلطان لالا خو ستا د تېښتې نه پس څه نه ویل.

برېښنا په چټکۍ د سلما مټه خوشې کړه، لکه څه چې یې ورک کړي وي، داسې یې شا و خوا ته په ترورتیا وکتل :

ــ ته درواغ وایې، د سلطان خوا کوې .

ــورېندار! زه رښتیا درته وایم، ولا چې همداسې ده، دا هر څه د هغې سازمانۍ دي .

ــنو ته وایې چې د سلطان هېڅ لاس په کې نه و؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـسلطان هم ورسره و، خو دونه نه، هغه په دي کار خوښ نه و، زه رښتيا وايم، څو واره يې زرغونې ورېنداري او دې سازمانۍ ته وويل، چې دا زمونږ د کور بدنامي ده، خو سازمانۍ ويل چې د برېښنا عقل بايد سر ته راشي .

ـسلما! درواغ مه وايه، زه وره نه يم، وپوهېدې؟

ـورېنداري! ته هسې پر سلطان ورور بدګومانه يې، که نه هغه خوار کی دونه ملامته نه دی .

ـنو سلطان ورسره څنګه منله؟

ـحاجي بابا ورته وويل چې له حقه يې محروموي، که نه سطان داسې نه کول .

ـحاجي صيب هغه نو ولې…

ـورېنداري! ولې ساده يې، حاجي بابا ته هم دغې سازمانۍ دا خبره ښودلې وه، که نه حاجي بابا او دا خبره ډېر سره لرې دي .

برېښنا د چوترې له پاسه پر پرتې خاورې کېناسته، په چرتي انداز يې وويل:

ــ ګومان مې نه راځي، چې د طالبانو په وخت کې دې…

ـورېندار! عقيدې مور په خپل لاس هغه مولوي عتيق الله دی، که څه بلا هغه ته پيسې ورکړې، هغه پيسې چې ستاسې کور کې پيدا کړې، هغه هم دغې سازمانۍ لولۍ ورکړې وې، دا کنچنۍ له هېڅ کاره بېرته نه ده. ګومان مې نه شي چې دا دې له دغه مولوي سره تار ونه لري .

ـښه نو هغه پيسې؟

ـهو! هغه پيسې سازمانۍ ورکړې وې، دا خبرې يې ما په خپلو غوږو واورېدې، چې زرغونې ورېندار ته يې کيسه کوله .

ـخو زما باور نه راځي .

ـباور به دې هله راشي، چې ځرک هم درنه يوسي .

برېښنا پرې چيغه کړه:

ــ الماسې! څه له دا بد زيری راکوې؟

ـورېنداري! زه دا خبرې ځکه کوم چې ته کابل پرېږده، دغه سازمانۍ دې پرېښوولو والا نه ده .

ـنو هغه به څه وکي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـڅه یې ونه کړه، د هغې هر څه په وس دي، ورېندار وتښته !

ـډېره يې راته مه پرسوه، نور يې نو څه په وس نه دي .

ـدا هسې ځان غولول دي، هغې تا ته هېڅ نه دي پرې ايښي .

برېښنا په کړيکه وويل:

ــ الماسې! خوله دې نيسه، نور نو پرتې ونه وايې !

ـپرتې نه وايم، ورېندار رښتيا خوارِه نه لري، تا ته اوس يوازې څرک پاتې دی، هغه هم درنه اخلي .

برېښنا په سترړيا وويل:

ــ نو څه وکړم؟

ـوتښته دا زه درته وايم، وتښته همدا يې لار ده.

برېښنا يوه شېبه غلې شوه، بيا يې په کراری وويل :

ـزه ورسره دعوه کوم .

ـته ورسره دعوه نه شې کولی، پوهېږې تا ټولې دعوې بايللې دي، په يوه مات او ګوډ پياده چې ته ورته عدالت وايې، هېڅ نه کېږي، زه اوس هم درته وايم، لا سرې وخت دی بيا به ارمان وکړې. هغه وخت به يوازې لاسونه ټکوې .

الماسې دا وويل ځادري يې پر سرکړه او همداسې پرته له مخه ښې له کوره ووته. په کوڅه کې په اوچتو ګامونو روانه شوه، له ژر، ژر ګامونو يې قهر ژلی حالت اوچت محسوسېده، پر لاره له ځان سره بونګېده، هغه ډارېده چې که برېښنا دا لوبه بايلوي، نو د دې ټول پلانونه له خاورو سره خاورې کېږي. يو ځل به بيا د خووم وار لپاره عقيده ګټونکې شي. سلما عجيبه شان د عقيدې پر عقدوي ځواک باور درلود، د سلما په زړه کې د غچ اخيستنې اور غرغنډې وهلې، د دغه اور د سرو لمبو په بدرګه کې د زاړه زندان له څنګه تېره شوه. د ترافيکو د لوی رياست د سوړې، سوړې ودانۍ له يوې سوړې، چې اوس خلکو ترې سړک ته د تلو لنډه لاره جوړه کړې وه، سړک ته ووته. د سړک پر غاړه يوې ولاړې زړې ټکسي ته وخته او په داسې حال کې چې له کړکۍ نه دباندې د ښار ړنګې بنګې منظرې ته يې په قهر ژلو سترګو کتل، تر ژبې لاندې يې وويل :

ــ عقيدې که برېښنا خرې څه در ونه رسول، ولاکه خو روغه رانه لاړه شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

بریښنا امنې او سراج ته دا خبره سپینه وکړه، چې که عقیده ورسره د څرک پر سر دعوه پیله کړي، دا یې ورسره پر مخه بیایي. ټولو له دې کاره منع کړه، ټولو پر دې خبره ټینګار کاوه، چې بریښنا د سلما خبره ومني او وتښتي، خو بریښنا همدا ویل :

ــ زه به په محکمه کې پر قرآن قسم وکړم، چې له هېڅا سره به واده نه کوم، ان د حاجي په کور کې اوسېږم، خو زوی نه ورکوم او بیا نو دوی ولې له ما نه زوی واخلي. سلیمان چې مړ شوی دی،دوی په کوم حق ما نه زوی اخلي؟

سراج که څومره استدلال ورسره وکړ، خو بریښنا پر خپلې خبرې کلکه ولاړه وه او ویل یې :

ــ زه ورسره دعوه کوم، زه دا دعوه حتماً ګټم. بریښنا له ځان سره دا لوړه کړې وه، تر هغو چې عقیده دعوه ونه کړي، دا به غږ نه پورته کوي، په دې منځ کې سلما څو، څو ځله راغله، د تېښتې یې ورته وویل، خو بریښنا به هغه رټله. ټول په تېره سلما بریښنا ته هېښه پاتې وه، له هغې بریښنا نه، چې سترګې یې هم په دروندواله اړولې، د دویم تن تر مخې یې خبره هم نه شوه کولای، کله چې کوژده شوله، نو له سراج سره پوره یوه میاشت نه مخامخ کېده، سلطان څو، څو ځله ووهله، خو له ډېره ډاره یې په زړه کې هم نه ګرځول، چې ګنې سلطان وهلې ده، هماغې بریښنا په کلکه سراج ته وویل :

ــ که مې ساتلی شئ، خو ښه او که نه ما ته کورونه ډېر دي .

سراج هم له ډېرې هېښتیا داسې غلی شو، چې بیا یې سن هم ونه خوت .

پوره دوې نورې میاشتې سلطان دوی ښېخي غلي وو. بریښینا انګېرل ګنې زرغونې او عقیدې ترې لاس اخیستی دی او بله دا چې د یو او بل له خولې یې اورېدل، چې حاجې پر دې خبره کلک ولاړ دی، چې څرک د بریښنا زوی دی، هېڅوک یې د اخیستلو حق نه لري. دې خبرې بریښنا زښته ډېره هیله منه کړې وه، همدا وجه وه چې ځانته د یوې دندې پیدا کولو لپاره ګرځېده. دا مهال خو ښځو ته د دندو پیداکېدل، سم د مرغۍ پۍ وې، خو په روغتیایي چارو او په ښځینه نانوایانو کې ښځو ته دندې پیداکېدې. بریښنا غوښتل، داسې یوه دنده پیداکړي، چې د دې او څرک د خوراک او پوښاک پېټی یې پرې اوچت شي. د وزیر اکبر خان په روغتون کې یې ځانته د چپړاسي دنده موندلې وه، زښته ډېره ورته خوښه وه. که څه هم دې د حقوقو پوهنځی لوستی و، خو اوس مهال ورته د چپړاسي دنده هم لوی غنیمت ښکارېده، دا ځکه چې د وزیراکبر خان په روغتون کې چپړاسیتوب هم ښځو ته نیمه پاچایي وه. سراج له دې دندې سره دومره خوښ نه و، همدایې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ رئیس ستا ځوانۍ ته سترګې نیولې دي، که نه دونه ښه سړی نه دی. برېښنا به په دې خبرو سره او شنه واوښته، لکه کړکه چرګه ببره به شوه او په قهر به یې وویل:

ــ ابا هر سور ږیری ملا شا ګل نه دی، دا ولې تاسې سړي پر ټولو سړیانو بدګمانه یئ، لکه په سړو کې چې ښه انسان نشته، که څنګه؟

که څه هم برېښنا ته د پلار خبرې رښتیا ښکارېدې، خو اوس یې له سره اوبه تېرې ګڼلې او اوس ورته یوازې د نس غم، غم ښکارېده. په اصل کې هغې انګېرل، چې د پلار پر اوږو یو زیاتی بار دی، هسې خو یې پلار د خپلې څلور کسیزې کورنۍ پېټی نه شو اوچتولی او لا پرې زیات و، ځکه خو برېښنا د خپل او زوی پېټي د وړلو ویلاړ کړی و، په دې ورځو کې خو هسې هم خپلې ګاندې ته یې عجیبه شان هیله پیداشوې وه؛ کله به یې څرک په خیالونو، خیالونو ځوان کړ، هغه به یې ډاکټر جوړ کړ، کوزده به یې ورته وکړه او کله به یې په خیالونو، خیالونو له عقیدې او زرغونې نه غچ واخیسته. دواړې به یې داسې وکړولې، له پښیمانۍ نه سر او تندی وهي، سلطان ته به یې داسې اروایي زیان ورساوه، چې پر بېوسۍ یې دا ژړیده، خو کله به یې خیال لیده، چې هلته لرې السکا ته تللې ده، هلته هېڅ افغان نشته، له خپلوانو او خپلوانو نه هېڅوک نه ویني. په خپل لاس یې ګټي او په خپله یې څټي. دغو خیالونو نو اوس د برېښنا شپه او ورځ نیولې وه، د منګولې غوڅېدل یې بېخې له یاده وتې وو ، ان د خپلې منګلولې په غوڅېدو لا خوښه وه، چې ګنې د زرغونې او عقیدې له شره خو پرې خلاصه شوه. په رښتیا هم زرغونه او عقیده داسې غلې ناستې وې، چې د سلما پر خبرو اوس د برېښنا شک او ناباوري پر زیاتېدو وه، دا خبره سلماکړې وه چې پر برېښنا د غلا تور عقیدې او زرغونې لګولی و او دا هر څه د دوی دواړو کار و. د برېښنا خو یو له دې وجې باور نه راته، چې زرغونه باید له دې نه لا خوښه وي، چې دا پرې بن نه شوه او عقیده مور خو یو مهال د ښځو سازمان له هڅاندو غړو نه وه، د ښځو د انساني حقوقو په هکله یې له وړکتوبه په وار، وار په لوړو غونډو کې د عقیدې مور نارې او ویناوې اورېدلې وې، په محکموکې یې په وارو، وارو له قاضیانو سره د عقیدې د شخړو کیسې اورېدلې وې، چې څنګه یې د ښځو له حقوقو نه دفاع کوله او کله، کله به یې یوه وړه فضایي مسئله دومره پېچلې کړه، چې ان خبره به یې د ګوندي مرکزي کمېټې تر دارالنشاء ورسېده. خو عقیده مور به تر هغو نه تر شا کېده، تر څو چې ښځه به یې ګټلې نه وه. په دې وجه به د برېښنا څنګه باور راغلی وای، چې عقیدې مور دې دا کار کړی وي، خو بیا به یې هم کله، کله په زړه کې راګرځېدل، نه چې د سلطان د کورنۍ بیا پېریان وتورېږي. په دې منځ کې سلما څو، څو ځله راغله، هغې به بس همدا یوه خبره کوله :

ــ ورېنداري وتښته، وایم وتښته، تا ته بله لارنه ده پاتې، وتښته !

خو د سلطان او عقیدې چوپتیا برېښنا د سلما پر خبرو بې باوره کوله. داسې ورته برېښیده چې سلما مل ته وایي، لار ګوره او غله ته وایي لار نیسه. سلما به یې هر ځل خواشینې او ماېېجنه لېږله. سلما به چې د برېښنا دوی له کوره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووته، نو مخامخ به کور ته لاړه، کور ته له ننوتو سره به یې جوخت د سلطان کوټې پسې ورمنډې کړې، د دې به اولنۍ خبره داوه :

ــ زوی د برېښنا حق دی، اخیستل یې ګناه ده .

خو سلطان به چې ټوله ورځ یې د ویډیو او ډش پروګرامونو هغه هم د لوڅو چینلونو په لیدو تېروله، پرته له دې چې دې له وګوري، اوړې به یې پورته وغورځولې او په قهر به یې یو بل چینل رامخې ته کړ. د هغه دا کړنې سلما ته ویل چې ښه راباندې نه لګېږي. د برېښنا سپکې سپورې د سلطان له زړه نه لا نه وې وتلې او لا یې یوه، یوه په زړه وه، د برېښنا منګولې تر غوځېدو وروسته سلطان یو ځل هم نه وتوانېده، چې برېښنا ووینې، تر څو د هغې په بدنامۍ، بې وسۍ او غوځ لاس ملنډې ووهي او ورته په یاد یې کړي، چې له ده سره په واده نه کولو یې څومره خطا کړې ده. څو، څو ځله یې زړه شوی و، چې کور ته ورشي، خو په نیمه لار کې له خپل هوډه راګرځېدلی و، د راګرځېدو پر مهال یې سلما او سراج ته څو کنځلې هم کړې وې. بیا یې هم د برېښنا تورو سترګو او مهینې موسکا لا په زړه چکونه لګول او لا یې له پخوا نه لېوالتیا ورته ډېره وه. هغه انګېرل چې وروستیو ناخوالو به د برېښنا ښکلا زیانمنه کړې وي، خو باور یې درلود، چې ښکلا به یې کمزورې شوې نه وي، دا ځکه چې د هغه عقیده وه، که ښکلا څومره وټوکل شي، په بله بڼه راڅرګندېږي او لا یې رنګینې ډېرېږي. همدغو انګېرنو به سلطان ځوراوه او داسې یې احساسوله، چې د ټولو ستونزو سره، سره بیا هم برېښنا ورته ګرانه ده او بیا یې هم زړه په وارو، وارو غواړي چې هغه خپله کړي. له دې انګیرنوبه یې مغز وسوځېد او په کور کې به یې ناحقه شخړه جوړه کړه. خو عقیده له پخوا نه سرکښه، مغروره او خوښه ښکارېده، د پخوا په شان ډېره نه ګرېده، له خپل یوازېني زوی (زمان) سره هم چنداني نه ګرېده، غلې ناستې پاستې یې ټول هېښ کړې وو، یوازې چې به کله، کله له زرغونې سره سترګه په سترګه شوه، نو پر شونډو به یې خندا راښکاره شوه او زرغونې به هم ورته په موسکا ځواب ورکړ. د دوی دواړو دا وړ موسکاوو ټول هېښ کړې وو .

د زرغونې د واده لس کاله کېدل، خو په دغو لسو کلونو کې داسې ورځ نه وه، چې زرغونه او عقیده دې له یو او بل سره ټونګه پر ټونګه نه شي، خبرې خو یې هېڅکله هم یو له بل سره نه کولې، د عقیدې ژبه به د دې د نیمګړتیا په ګنلو، ګنلو وچېده، چې د دې دا کار به کله، کله سلطان دومره قهرژلی کړ، چې د زرغونې په وهلو ټکولو به یې لاس پورې کړ او تر هغو به یې وهله، چې خوار کۍ به له اخ او ټوخه ولوېده. یوه ورځ خو یې د پلار کور ته ولېږله، خو که حاجي منځګړی شوی نه وای، نو اوس به یې لا د وخته په دربیو تیرو ویشتې وه. په هغه کال د حاجي په منځګړېتوب سلطان ایله د زرغونې راوړلو ته خوښه وکړه .

عقیدې به تل دلته او هلته ویل چې: سلطان پر زرغونې خاورې شوی دی، دا خبره خو به ضرور د سلطان تر غوږ و رسېده، چې ګنې زرغونه هومره ښکلې نه ده چې باید وای. زرغونې به چې څومره سینګار وکړ، نو د عقیدې د ملنډو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې موسکا به ورته ټولې خوارۍ په اوبو لاهوکړې او لا به سلطان لمسېده؛ هغه به چې د عقیدې له ملنډو ډکه موسکا ولیده، نو پر زرغونې به یې راغړم وهل :

ــ سرې چې بدرنګه وي، سینګار یې نور ام بدرنګوي، دا څه له پر ځان رنګونه تپې؟

خو اوس وضع بل شان شوې وه؛ اوس د عقیدې ژبه عجیبه شان د زرغونې په ستایلو، ستایلو وچېده، اوس له یو بل سره ځنګ تر ځنګ کېناستې او له یو بل سره یې په پسپسې خبرې کولې. دهغوی هېښنده تړاو ته کور بانه څه، چې له کوره دباندې خپل خپلوان هم هېښ پاتې وو .

د دوی دواړو چوپتیا، ان سلطان او حاجي هم په دې باوري کړي وو، چې نور نو له دوی نه بریښنا هېره ده. خو یوه ورځ ناڅاپه سراج په تښتېدلي رنګ کور ته رانووت. دا ورځ هسکه وه، د نوي او تنکي پسرلي نرم لمر، لکه د سلیمان نرم لاسونه، داسې د بریښنا تور اوږده وېښتان او نوي په غوښو ډک شوي اننګي ورنازول. هغه لمر ته ناسته وه، نوی پر خوړو خبرو راغلې ځرک یې په غېږ کې پروت و، هسې خو یې یوازې ناسته عدت ګرځېدلې وه، نو کراره، کراره یې ځرک ته سندره ویله:

ما له ډېره اوګۍ جوړه کړه شین غمی پرې کېږده

مرغلرې پرې چاپېره کړه زر شه و زرګره !

دا سندرې نیا ورزده کړې وې، نیا ته بریښنا زښته ډېره ګرانه وه، بس ټوله ورځ به یې په غېږ کې غزېدلې وه او هغې به ورته د خپل مهال سندرې ویلې. اوس یې هم ځینې سندرې په یادې وې :

خیالي ملنګه ورو، ورو کوزه که لیلا له کجاوو .

یا داسې نورې، یا خود نیا له خولې سندرې خوږې وې او یا خو دا سندرې خوږې وې، چې تر دې دمه د بریښنا په زړه او ذهن کې ژوندۍ پاتې وې. بریښنا ایله ما له ډېره اوګۍ جوړه کړه، سندره نوې راپیله کړې وه، چې د سراج غږ ورته غږ په ستوني کې وچ کړ:

ــ وبریښنا وایم څه شوي؟ او چې ځنګه یې پر بریښنا سترګې ولګېدلې، نو سمدلاسه یې ورته ټوله کیسه وکړه .

نن سراج ته سلطان خپل سرې رالېږلی و، چې سراج خبر کړي. تر څو بریښنا محکمې ته راحاضره شي. سراج چې خپله خبره پای ته ورسوله، نو بریښنا وخندل:

ــ ابا ته هسې وارخطا یې، خو زه نه ډارېږم. خو له الوتې بنې ښخه یې دا ځرګنده وه، چې ښه د مزی ډارېدله او هسې هینډې اخیستې وه. سراج خپله خبره وکړه وخوځېده، همداسې له کوره ووت .

بریښنا تر مازیګره اندېښمنه ښکارېده. خو هڅه یې کوله چې نور پرې ونه پوهېږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر مازيگر و، چې سلما د خپلې سکنې تورۍ زوی اکبر خان سره د دوی کور ته راننوته،

سلما پوهېده چې برېښنا به د وچې منې تر څنګ ولاړه وي، ځکه خو د کوټې پر ځای سیده انګړ ته ووته .

برېښنا د وچې منې تر څنګ غلې ناسته وه، څرک ترې ګرد څرخېده، خو دا خپلو اندېښنو په مخه کړې وه. سلما وړاندې ورغله، په کراره يې سلام ورواچاوه، برېښنا د سلما له سلامه سره شټ وواهه، خو د سلما د سلام ځواب يې ونه وايه، هماغه شان يې غلې، غلې وروکتل. سلما مخامخ کېناسته او په نرۍ موسکا يې وويل:

ــ ورېنداري اوس يې نو ورسره ګاله، وګورم چې چا ښه ويل او چا بد. برېښنا تر سترګو لاندې وروکتل، بيا يې اکبرخان ته وکتل، چې د چوترې له پاسه له زلمي سره ولاړ و او سپينې ټوپۍ او سپين واسکټ ورته ننګرهارۍ بڼه لا جوتوله او دوی ته يې په خپل کليوال انداز کتل. برېښنا ترې په کرارۍ سترګې واړولې او په ټيټ غږ يې سلماته وويل :

ــ سلما زه نه وايم چې تا بد ويل، يا ما ښه ويل، خو زه به دا لوبه ګټم، زه پر دې خبرې يقين لرم .

دسلما په غوښنو شونډو کې د ملنډو يوه موسکا رابره شوه:

ــ ورېنداري! ستا چرګ يوه پښه لري .

ــ نا، داسې نه ده .

ــ نوڅنګه ده، چې له خپل خره نه، نه راکوزېږې؟

په داسې حال کې چې برېښنا د ځا پر برغولي سترګې نښلولې وې ، په قهر ژلې ژبه يې وويل:

ــ سلما دا خبره بايد سپينه شي. زه نوره د اندېښنو توان نه لرم، زه غواړم هر څه سپين شي. نور نو بايد دا تنسته وشلېږي، دا کېږي، که هغه کېږي، له ډېرو خبرو او غمونو نه به خلاصه يم .

ــاو که هغوی...

برېښنا پر سلما برېچ وهل او خبره يې ورته په ستوني کې وچه کړه:

ــ نا، سلما داسې به نه کېږي، اخر زه مور يم چې واده نه کوم، په ځوانه ځوانۍ دوه کلن ماشوم لويوم، دا خلک او د هغوی قانون له ما نه څه غواړي؟ زه به يې ضرور ګټم، داسې يې نه پرېږدم .

ــخو ورېنداري! په تېښته کې هېڅ تاوان نشته زما ومنه، دلته يوازې يوکال ښايي يو کال .

ــ بس که سلما! ستا يوې تېښتې رانه د ډېران لوټه جوړه کړه، بلې ته مې ګډوه، زه په خپلو کارونو ښه پوهېږم، وپوهېدې، بيا هم درته وايم چې په هغه اولې تېښتې مې هم غول خوړلې، خو دا ځل نه تښتم، ورسره وهم يې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښنا له دې خبرې سره جوخت مخ پر کوټې منډه کړه. سلما پر خپل ځای هېښه پېښه ولاړه وه، څرک په نرمو قدمونو په مور پسې وخوځېد. خو سلما پر خپل ځای ولاړه وه، ښايي ډېره موده به ولاړه وه، چې د امنې غږ راپه خود کړه:

ــ لورې کار مه ورسره لره! برېښنا نو اوس د پشيانو غوندې اوړې پورته غورځولې دي، کله يې اوړې ښکته کېږي .

سلما په نهيلۍ او پرته له کومې خبرې اترې وخوځېده. د اکبر څنګ ته چې ورسېده، نو په کرار او نهيلي غږ يې وويل :

ــ اکبره! اوس درسره ځم .

اکبر خان د سلما په خبره هېښ پېښ شو، خو سلما تمه نه شوه او همداسې په منډه د سراج دوی له کوره ووته .

اکبر خان يوکليوال زلمی و، سره له دې چې هغه د سلما د تورې يوازېنی زوی و او سره له دې چې سلما يې په وارو، وارو له عقيدې او حاجي نه غوښتې وه، خو دواړو ورته خوښه نه ورکوله، ځکه چې که سلما له اکبر سره واده کړی وای، نو د سلما د مور ټول راوړی ميراث د اکبر خان کېده. عقيدې هڅه کوله چې سلما خپل وراره ته ورکوژده کړي او حاجي صيب هڅه درلوده، چې خپل وراره ته يې ورکوژده کړي .

اکبرخان نالوستی و، په کلي کې زېږېدلی او لوی شوی و، يو بشپړکليوال زلمی و، خو سلما يې چې د يوازېنۍ تورۍ لور وه، زښته ورته ډېره ګرانه وه. که ځومره به حاجي او عقيدې ورته د جرګو سپکاوی کاوه، بيا يې هم په وارو، وارو غوښته. خو سلما ته اکبر يوازې د تورۍ زوی ښکارېده، هېڅکله يې هم دا نه وه احساس کړې، چې اکبر دې دې ته لږ کدرې هم ګران وي، يا دې هغه سره مينه ولري. خو د عقيدې او حاجي له کسده يې له اکبر خان سره ډېره نژدې ناسته ولاړه کوله. همدا وجه وه چې اکبر خان ګومان کاوه، ګنې سلما ته ګران دی. سلما د عقيدې او حاجي په نيتونوخبره وه، ځکه کله چې له برېښنا نه نهيلې شوه، نوهوډ يې وکړ چې له اکبر خان سره په سپينو پايڅو وتښتي. که څه هم سلما يو لوړه لوستې نجلۍ وه او اکبر خان يو بشپړ نالوستی زلمی و، هغه کليوال و او دا ښاري نجلۍ وه، بس د عقيدې مور له کسده ورسره وخوځېده، ګنې په دې ډول ترې غچ واخلي، خو اکبر د دې په دا ډول ورلو نه وخوښ .

د سراج دوی د کور تر مخې تم شو، سلما ته يې په مينه ناک نظر وکتل :

ــ ګوره ترورزۍ! زه دې غواړم، بيا دې ام غواړم، تر اغې پورې دې غواړم چې رادې کې، خو دا شان چې ته ما سره ځې، دا خلک، دا تربوران او دا کليوال به راته څه وايي؟

ــکليوال په تا پورې نه خاندي، پر ما به خاندي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــخو زه به سلطان لالا ته څنګه ګورم او له حاجي ماما سره به څنګه سترګه په سترګه کېږم؟

ـــراځه، راځه! اغوى اسې هم سترګې نه لري، که نه په اينړور به يې لاس نه غوڅاوه .

اکبر خان په ننواتو وويل :

ــ ګوره سلما ښه جلۍ شه! په خبره خو ځان لړ پوه که که نه؟

سلما په دې خبره وقهرېده:

ــ سمه ده هېڅ خبره نه ده، ځم د بل چا کره.

اکبر خان له ډېره قهره سور او شين واوښت .

ــ ترورزۍ! دا څه سپيتانه راته کوې؟

ـــرښتيا درته وايم، په تا کې زما د وړلو غاښ نشته، داسې څوک به پيدا کم، چې دا غاښ ولري.

اکبر خان اوږده سا واخيسته :

ــ سيې ده، څه څه چې کېږي نو کېږي به، خو پام دې وي چې دا خبره بيا ونه کې !

سلما او اکبر خان دواړه پر لاره وخوځېدل. سلما د تلو پر مهال د برېښنا دوى کور ته وکتل، لکه هلته ناستې برېښنا ته چې وايي :

ــ دا ټول ستا دلاسه دي .

بيا يې يو دوه ګامه وړاندې روان کليوال، غنم رنګي ننګرهاري، ساده اکبر خان سر تر پښو له نظره په نرمۍ تېرکړ، له ځان سره يې وويل :

ــ دا هم قسمت شو؟

له اکبر خان سره د سلما ناڅاپي تلل د حاجي کورنۍ هم هېښه کړې وه او هم خپه. د عقيدې له خبرو او ناکرارۍ نه د هغې قهر ژلى او مانېجن حالت ښه ځرګندېده. عقيدې ته د برېښنا له تېښتې د سلما تلل دروند ښکارېده، زرغونې او عقيدې په ګډه په دې ګروهمنې وې، چې دا ټول د برېښنا لمسون و. خو د سلطان او حاجي صيب ګروهې بېلې، بېلې وې؛ سلطان عقيده مور ګرمه بلله، چې سلما يې بې ځايه او بې وجې ځوروله، خو حاجي بيا سلطان پر دې خبرې پړ ګاڼه، چې له برېښنا سره يې څو، څو ځلې سلما ترټلې او بې ځايه وهلې وه. سلطان په دې خبره کې بيا هم عقيده مور ګرمه ګڼله، ګنې عقيده وه چې دې يې د سلما وهلو او ټکولو ته هڅاوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلما د تېښتې پېښې د څو ورځو لپاره د حاجي کورنۍ له ځان سره بوخته وساتله او برېښنا یې ترې هېره کړه، خو د ورځو په تېرېدو ورو، ورو د سلما تېښتې خپل ارزښت له لاسه ورکړ او یو ځل بیا برېښنا رایاده شوه. مګر د عقیدې مور له زړه نه دا نه وتل، چې دا دې د برېښنا لمسون نه و، سره له دې یې پر خپل قهر پرده واچوله او پټوله یې، نو څکه خو یې بیا د ځان په سینګار ګوتې پورې کړې. عقیده مور چې لا ځوانه وه، لا ئې د شقیقیو وېښتان سپین شوې وو او نور سر یې تګ تور و، خو مخ یې د ځوانو ښځو په شان ښوی او ښکلی و، څکه خو ډول و ډال ورسره ښه ایسېده. دا د هغې عدت و چې کله به یې غوښتل، په حاجي صیب کومه غټه خبره ومني، نو په سینګار او ډول ډال به یې لاس پورې کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم څپرکی

د نوي کال لسمه ورځ وه، چې یو ناڅاپه برېښنا له کوره بې له څرکه ووته، هغې هېڅا ته څه ونه ویل، په لاره کې یې زړه بې واره ټوپونه وهل، په منډو روانه وه، له دهمزنگه تر وزیر اکبر خان مېنې پورې په پښو ډېره لار وه، هغه هم په منډو روانه وه. که څه هم پر لاره د تورو ډاډسنو د تېز برېښنده تگ له وجې ټکرونو او مرگ ژوبلو خطرونه ډېر وو او همداشان د امر بالمعروف د سړيو له خوا وهلو ټکولو گواښونه خو گړی په گړی وو، مگر برېښنا پر سړک داسې روانه وه، لکه دا هر څه چې هېڅ وي. لنډو سړکونو ته گرځېده، له گړندیو قدمونو څخه یې ناکراره حالت او لېوالتیا اوچته ښکارېده، خو په دغو گړندیو گامونوکې یوې وړې هیلې هم کله، کله سا اخیسته. د برېښنا زړه ته هېڅ دا نه لوېده، چې گنې څوک به د دې دا ننواتې ونه مني. هغې انگېرل چې دا خو د هغوی په گټه هم ده، ځکه خو یې گام پر گام هیله ځواکمنېدله. د هغوی د ښکلي کور په لیدو یې زړه په درزا پیل وکړ؛ لړه ټکنۍ غوندې شوه، شېبه یې قدم هم نه شو اخیستی، خو بیا یې هم سل زړونه یو کړل او د کور د دروازې دننه یې قدم کېښود. همدا چې د هغوی کور ته ننوته، ټول هېښ پېښ پاتې شول، یوه شېبه خو ټول داسې غلی وو، لکه په هېچا کې چې سا نه وي. ټولو ورته په راوتلو رډو سترگو کتل .

د حاجي صیب په سترگو کې یوې عجیبې خوښۍ څرک وواهه، خو د بنې له خطونوڅخه یې بې وسې اوچته ښکارېده. حاجي نو اوس د څو کالو وړاندې تکړه او ځواکمن حاجي نه و، د زړه ناروغۍ زښت ډېرکمزوری کړی و. دنگ او غبرگ حاجي اوس یو موټی شوی و .

عقیدې مور ته یې وکتل، د هغې له سترگو د پخوا په شان هماغه اور تویېده. د زرغونې په بڼه کې ډار او کرکه یو ځای نغښتې وه. زماني له خوښۍ نه پر خپلو لاړ بېزنو شونډو ژبه راتېروله، خو سلطان په ټولو کې غلی او ارام ښکارېده، هغه برېښنا ته په نرمۍ کتل، برېښنا له پخوا نه ډېره خواره ښکارېده؛ زړې جامې یې په تن او زړې څادرۍ یې د سوالگرو په شان غټ، غټ سوري لرل. خو بڼې او ښکلې پژۍ یې د سلطان په سترگو کې خپله بې سارې ښکلا ساتلې وه. د هغې ښکلې د هوسۍ سترگې له پخوا نه ښکلې شوې وې او سلطان د دې وجه دا وگڼله، چې کله ښکلا ویر ځپلې شي، نو بیا خو ترې یو شهکار تابلو جوړ شي او هغه ته برېښنا هم د پنځ یو بې سارې ښکلی تابلو ښکاره شوه؛ ملا یې له پخوا ډېره نرۍ او ماتېدونکې شوې وه، نرۍ سپینه د عاجو غاړه یې لا نوره هم هسکه شوې وه، خو هغه گلابې شونډې یې چې د سلیمان له مرگه وروسته یې د سلطان ټول فکر و ذکر ځانته اړولی و، اوس نو گلابې او تازه نه وې، تکې زېړې وې، داسې زیړې لکه په څو تېرومیاشتو کې ورته څاڅکې وینه نه وي رسېدلې. خولا هم زړه راښکونکې وې او پر ډېرو زړو نوې لا د لمبو گډولو پوره ځواک درلود .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان هڅه کوله چې د برېښنا غوڅ لاس ووويني، خو برېښنا هغه د خپلې زړې څادرۍ لاندې ښه پټ کړی و. حاجي ورته د کېناستو وویل، خو برېښنا نه کېناسته، عقیدې ته یې مخ کړ، په کرارۍ او ننواتو یې وویل :

ــ ما ویل که چېرې...

زر غلې شوه، ټول ورسره غلي وو، یو ځل یې بیا ټولو ته په ډار، ډار وکتل:

ــ ما ویل که زه چېرې دلته... ما ویل که چېرې زه دلته راشم نو...

په دې خبره ټول هېښ شول، ټولو یو بل ته وکتل، خو په دې منځ کې عقیده له قهره له ځایه وارغوچېده، په لوړ قهر ژلي غږ یې په داسې حال کې چې د وجود له ښورېدو سره یې په غاړه او غوږونو کې د سرو زرو غاړکۍ او غوږ والي هم ورسره ښوریېدې وویل:

ــ هغه وخت چې د بیې وې، لکه شینګړۍ وتښتېدې، اوس چې دې هغه مونجړا پلار نه شي ساتلی او تم مرداره لته شوې، راځې. خوار کې خدای پوهېږي، چې طالبانو به دربانديې څه، څه کړې وي .

برېښنا عقیدې مور ته په هېښتیا کتل، په خوله کې یې ژبه وچه شوه، عقیدې مور خپلو خبرو ته نوې کړۍ ورواچولې :

ــ زه د زندانونو له حال نه ښه خبره یم، یوه ښځه هم ولاکه ترې روغه راووځي، ته نو وایې چې ته به ورته داسې سره او سپینه ناسته وې او هغوی به درته کتل، خدای پوهېږي چې څه به یې دربانديې تېر کړې وي .

حاجي پر خپلې ښځې وقهرېده:

ــ جلۍ دا څه بد وایې، دا خو ستا اینږور ده، د دې کور عزت دی، ته ولې په داسې عمر لېونۍ شوې یې؟

ــدا عزت دې د ټول کور سر خوري، دا نوڅه عزت دی، اوس چې یې پلار ورته ډوډۍ نه شي اچولی، راغلې چې ستاسې کور ته راځم .

په تندۍ یې برېښنا ته وکتل :

ــ ته دې کور ته یو قدم هم نه شې اخیستی، ښه دې غوږونه خلاص که، دا خوبونه دې نور نو اوبو ته وواېه !

ټول له هېښتیا نه هېښ پېښ شول، زرغونې له عقیدې سره د هوا! سر وخوځاوه، سلطان بې غږ و غوږه ناست و، حاجي څادر وځانډه له ځایه پاڅېد او له کوټې نه ووت. زماني څه ویلو ته خوله پرانیستله، خو عقیدې ورته پر مخ څپېړه ورکړه او په قهر یې ورته وویل :

ــ ته لیونی په څه پوهېږې چې زه دا هر څه ستا دپاره کوم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښنا لږه تر شا شوه، همدا چې په خپلو زړو بوټونو کې یې پښې ننه ایستې، د عقیدې پر خوا یې لاړې تو کړې او په قهر ژلې ژبه یې وویل :

ـ اوس نو تم په ما خبرې کوې، هغه د پرچمیانو او شورویانوغویمنډ دې لکه چې هېر شوي .

له دې سره په منډه وخوځېده او پرته له دې چې تر شا وګوري، په لوړ غږ یې وویل:

ـ زه سبا قاضي ته حاضرېږم او همداسې په چټکو ګامونو له کوره ووته. د موټر پیسې ورسره نه وې، په پښو وخوځېده. په ځغاسته روانه وه، له پښو سره یې اوښکو هم منډې وهلې. پر ژبه یې کله، کله ځانته یوه، یوه کنځله هم راتله، پر ځان قهرژلې وه، داسې لکه دا ټوله ګناه په دې کې وي ،کور ته په رسېدو سمدلاسه د خپلې هندارې په یوې ورې ټوټې پسې، چې تل به یې د څرک تر بالښت لاندې کېښوده، په لټه کې شوه. همدا چې هینداره یې ومونده، راوایې خیسته، له کوټې نه ووته، یوه شېبه یې د چوترې له پاسه هیندارې ته کتل، له خپلې څېرې یې کرکه وشوه. ناڅاپه یې هینداره پر ځمکې وویشته او له ځان سره یې په قهر وویل :

ـ لعنت دې پر دې څېرې وي، چې خدای ما ته راکړې ده .

بیا یې د هنیدارې ماتو ټوټو ته وکتل، د هیندارې په ټوټو کې یې خپل مخ ولید او له دې سره یې قهر نور هم ډېر شو. له ځایه په چټکۍ جګه شوه او مخ پر وچې منې یې ور منډه کړه؛ له منې یې غېږه تاو کړه، د وچې منې د ماتولو هڅه یې وکړه، د منې تنه کړه وړه شوه، خو ماته یې نه شوه کړای، لکه د برېښنا زړه چې پرې یخ شوی نه وي، داسې یې زور پرې زیات کړ، د منې خواره او وچه تنه، چې له ښځه هسې هم چینجو سکینه کړې وه، د برېښنا په زور راماته شوه او چینجو وهلې ریښې یې د نرمې مځکې له غېږې راووتې .

د ونې راماتېدو برېښنا ته خوند ورکړ، شېبه یې ورته په مزه، مزه کتل، خو قهر یې پرې لږ نه شو، د لېونو په شان یې شا و خوا وکتل، په ټول انګړ کې پرته د هغه درې میاشتني چور ګوړی، چې همدا څو ورځې دمخه یې څرک ته اخیستی و، د هغه له مرغانچې پرته په انګړ کې یې نور څه تر سترګو نه شوه .

په رښتیا هم په انګړ کې وچکالي ګډه وه؛ یو شین بوټی هم په انګړ کې نه ښکارېده. که څه هم څا له اوبو ډکه وه او د اوبو ښه پرېماني وه، خو د انګړ درېیو پلونو ته لوړو درې پوړېزو خاورینو کورنو د لمر وړانګې راایسارولې، ځکه خو په دغه وړوکی انګړ کې، هغه د چا خبره اغزی هم نه شین کېده .

د انګړ لمر پرېواته ته جوړې ورې مرغانچې کې وړوکی درې میاشتنی چرګوړی هم دا دی سیوری ځپلی ښکارېده، د هغه خوار غاړه له پخوا نه نری شوې وه او وزرونه یې ورو، ورو راځوړندېدل، چې یوه دانه به یې خولې ته کړه، نو بس د هغې تېرولو لپاره به یې پوره ګړی صبر کاوه. برېښنا چې وروکتل، نو خوارکی چرګوړی سر په خپلو ځوړندو وزرونو کې ننه ایستی و او په رڼا ورځ ویده ښکارېده، خو د دې عجیبه کرکه ترې وشوه، ورمنډه یې کړه، د مرغانچې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له وړې دروازې نه يې لاس وردننه کړ، خوارکی وزر ځوړندی چرګوړی يې په مرغانچه کې راونيو او همالته يې په نوکارو ترې سر غوڅ کړ. بيا يې بېرته مرغانچې ته ورګوزار کړ، خپله يې د شېنکو په ننداره شوه. د چرګوړې له هرې شېنکې سره يې د قهر کچه ورو، ورو راټيټېده. همدا چې د چرګوړې شېنکې ورو او لږې شوې، نو د دې سترګې هم درنې شوې، مخ پر کوټې وخوځېده او پرته له دې چې د کوټې ټيټې او رسۍ ته ناست زلمی، ګلالۍ سراج او امنې ته وګوري، پر نيولۍ اوږده وغزېده او شېبه وروسته يې خوب د سترو ليمو مېلمه شو. په همدې شېبه کې سراج له کړکۍ نه، چې تر اوسه له هغې نه د دې ننداره کوله، دې له مخ راواړاوه، خو په کرارۍ يې داسې چې يوازې يې امنه واوري وويل:

ـ ځوک ونه وينم چې برېښنا ته يوه خبره هم وکړي، هغه چې هر څه کوي خوښه ئې .

بيا په وېر ژلې او مانېجه بڼه له ځايه پاڅېد او د برېښنا سر ته په کرارۍ کېناست. امنې ته يې وکتل، د هغې سترګې اوښلنې وې، ده ورو وويل:

ـ ښځې دعا ورته کوه که نه... که سبا روغه جګه شوه...

سبا چې برېښنا له خوبه پاڅېده، د منې د ونې په ليدو هېښه پاتې شوه، د منې ډنګروکي سيوري وهلې ونه د ځا تر غاړې له بېخه رالوېدلې وه او چينجو وهلې تورې لنډې، لنډې خوسا شوي ملې يې دې ته هېښوونکې وې. کله چې ګلالۍ ورته د چرګوړي وويل، نو لا له قهر سره او شنه شوه، هغې ګومان کاوه چې دا کار چا په غوښتې کړی، خو چې زلمي ورته ټوله کيسه وکړه، ښه شېبه خو يې باور نه کاوه، خو چې باور يې راغی، نو ځان ته هېښه وه، ګومان يې وکړ ښايي لېونۍ شوې به وي او يا به لېونۍ کېږي. سره له دې هم د هغې په دې خبره هېڅ باور نه راته، چې دې دې منه له بېخه ايستلې وي او يا دې يې د چرګوړي سر ورغوڅ کړی وي. په ذهن کې يې د دې پېښې يوه کليمه هم نه موندله، ځکه خو يې نو دا د زلمي او ګلالۍ ملنډې وګڼلې. برېښنا همداسې د سر غوڅې چرګوړې سر ته ولاړه وه، هغې په ناباورۍ چررګوړي ته کتل، دغه چرګوړي ته يې ځومره هيلې درلودې، چې دا به غټ شي، پټکه به شي، هګۍ به واچوي او دا به يې ځرک ته کله، کله پخوي. بيا به يې چرګوړی وشي او داسې يو دوه افغانۍ به هم ترې ترلاسه شي. خو اوس چرګوړی سر غوڅی پروت و .

برېښنا په همدې فکرونو کې وه، چې سراج پرې غږکړ :

ـ لورې نن خو به محکمې ته ځې، نه چې بيا سړی درپسې راولېږي !

برېښنا د محکمې له نوم سره ډکه وخوړه، خو ژر يې ځان راغونډکړ، دا ځکه، هغې نه غوښتل چې پلار يې د دې په څېره کې بې وسي ووينې او يا داسې حس کړي، چې برېښنا له محکمې نه ډارېږي. د طالبانو څه عجيبې محکمې وې؛ نه سړي ليدلې او نه ترې خبرېدل، يوازې به يې شاهدان او مدعيان راوغوښتل. يوه مولوي به څه ترې پوښتل،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهدانو به د شاهدۍ مراسم پر ځای کړل او بیا به مولویان او قاضیان په یوه کوټه کې راټول شول او پرېکړه به یې وکړه .

قاضیانو برېښنا ځو، ځو ځله راوغوښته او هر ځل به یې ترې پوښتل چې: خپل زوی ته یې شیدې ورکړي او که نه؟

برېښنا به د هغوی د پوښتنو په وړاندې ځوابونه ویل، خو سبا یې بیا راوغوښته. د قاضیانو چلند ورسره نرم و، داسې ښکارېده، چې قاضیان د برېښنا خبرو ته غوږ ږدي. سلطان دوی هم ځو، ځو ځله شاهدان وړاندې کړل، شاهدانو به پر دې ټینګار کاوه، چې برېښنا خپل زوی ته شیدې نه دي ورکړې، قاضیان په عجیبې ځلور لارې کې پاتې وو. شاهدانو چې به هر ځل نوې نوې راتلل، همدا به یې ویل چې: برېښنا د سلیمان له مرګه مخکې په خپل زوی خپلې شیدې اودرولې وې، هغه مهال ځرک یو میاشتنی و او برېښنا د قسم په کولو همدا نارې وهلې، چې خپل زوی ته یې تر یونیم کلنۍ شیدې ورکړي دي. په دې منځ کې یې برېښنا عدلي معایناتو ته اړه کړه. د عدلي معایناتو د خبر په خبرېدو برېښنا یوې عجیبې خوښۍ پسې واخسیته؛ هغې او سراج په دې باور درلود، چې تر عدلي معایناتو وروسته به هر څه روښانه شي، اخر برېښنا خپل زوی ځرک ته یونیم کال مکملې شیدې ورکړي دي. برېښنا ځو، ځو ځله سراج ته وریاده کړه :

ــ تازه منع کولم، وګوره رښتیا نه پټېږي.

هغې دا خبر خپلو ټولو دوستانو ته ورساوه، چې ګنې نور نو د عقیدې له شره خلاصېږي او زوی به هم دې ته پاتې وي، خو دوستانو ته یې دا ډېره عجیبه وه، چې د طالبانو قاضیانو د شاهدانو په خوله نه دي کړي او برېښنا د عدلي کتنې لپاره لېږي. هیچا ته دا خبره باور کړونې نه وه، اخر سلطان دوی خو پنډ، پنډ شاهدان وړاندې کول. په محکمه کې ډېر ملایان او مولویان هم په دې خبرې خواشینې وو، هغوی د دې مسئلې مسوول قاضي مولوي عبدالمجید کمونیست ګاڼه. ځینو خو یې په دې تور ناوه، چې ګنې له برېښنا ورته څه څڅېږي. که څه هم ټول د برېښنا د پلار په اقتصادي حالت خبر وو، ځکه خو ټولو داسې انګېرل، چې ګنې برېښنا د پیسو پر ځای د ځوانۍ مستۍ ور څڅوي. که څه هم دا خبرې مولوي عبدالمجید ته رسېدلې، خو هغه سر پرې نه ګراوه او په یوې نرۍ موسکا به یې وویل :

ــ پروا نه کوي، خو رښتیا باید معلوم سي، دا شاهدان کله، کله درواغ وایي او بل زه پکر کوم، چې دا سلطان دوی دا شاهدان په کوڅه کې پیداکوي، زما خو باور نه راځي، چې دونې خلکو دې دا ښځه په خپلو سترګو لیدلې وي .

دا نو د مولوي عبدالمجید حنفي ګروه وه، هغه پر دې کلک باور درلود، چې دا شاهدان رښتیا نه وایي، ځکه خو یې د عدلي معایناتو امر وکړ، مولوي عبدالمجیدد مصر په الازهر کې لوست کړی و، دغه زده کړی مولوي عجیبه شان پر برېښنا باور پیدا کړی و، هغه تر ورستي بریده هڅه کوله، چې برېښنا بې ګناه ووځي او ځرک برېښنا ته پاتې شي، هغه سراج ته ډاډ ورکړ، چې دا سکالو به له امیرالمؤمنین سره هم که اړه شوه شریکه کړي. مولوي عبدالمجید حنفي به ټوله ورځ د کتابونو پاڼې اړولې او کرښې به یې په نښه کولې، د هغه د دفتر خادم په دې ورځو کې ځو، ځو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځله د هغه له کوټې نه سوړ شوې چای، پرته له دې چې د مولوي شونډې هم وروړسېږي ورېږ وي. هغه به دومره د کتابونو ابو مسلم، بخاري او داسې نور و کتابونو په لوستلو کې ډوب و، چې کله، کله به ډوډۍ هم ترې هېره شوه او وږی به کور ته خوځېده، د هغه دغو هڅو د ډېرو هغو کسانو، چې پر ده یې شک درلود، د هغوی ګومان یې په باور بدل کړی و، خو مولوي عبدالمجید حنفي په دې خبرو پسې نه ګرځېده، برېښنا یې په خپل امر سره عدلي کتنې ته ولېږله .

برېښنا د کتنې پر لور روانه وه، داسې هیلو او خوښیو راچاپېره کړې وه، چې د لارې په اوږدوالې هم ونه پوهېده، چې کور ته راستنه شوه. دومره خوښه وه چې په ځان هېڅ نه پوهېده. همدا چې کور ته ننوته، پرته له دې چې سراج او امنې ته وګوري، په ګډا، ګډا کوټې ته ننوته. پر څرک، چې د ګلالۍ په غېږ کې پروت و، پرېوته او د هغه د مخ و لاسونو په ښکلولو یې لاس پورې کړ، خدازده چې څومره موده به یې ښکلاوه، بیا یې په غېږ کې راجګ کړ او په ګډا، ګډا له کوټې ووته. اوس نو له دباندې نه ځکه ډار نه و، چې اوړی و او هوا هم ښه توده وه، نو د څرک د سړو وهلو ډار نه و او که ساړه هم وای، نو اوس خو برېښنا له ډېرې خوښیه په سړو او تودو نه پوهېده .

برېښنا پر چوترې تاوه راتاوه شوه او بیا دچوترې پر یوې برخې کېناسته، هغه چې به ډېره خوښه وه، نو سمدلاسه به یې سندره پیل کړه، د هغې بس همدا یوه سندره زده وه:

اوګۍ جوړه که

زر شه و زرګره

شیرین یار به مې خدای راولي

پس له غنم لوه .

د هغې د خوښۍ سندره همدا وه او چې خپه به وه، نو که یې کومه سندره پر شونډو څرخېده، هغه به یوازې سپینه سپوږمۍ وایه اشنا به چېرته وینه

ګونګۍ شوې ولې، ګونګۍ شوې ولې نه وایې حالونه .

برېښنا به دا دواړې سندرې داسې په خواږه غږ ویلې، داسې به یې ژوند ورکاوه، لکه چې د هوګۍ جوړېدو ته د رښتیا هم همدومره لېواله وي، لکه چې تیارو ترې څوک لوټلی وي او دا یې له سپوږمۍ پته غواړي. د اوګۍ پر سندره به یې شونډو ته سا ورکړه او وبه یې خندولې. خو د سپوږمۍ سندرې به د اوښکو نیز پرانیست، لکه برېښنا چې ټول ژوند بس دغه دوه سندرې ویلې وي او ټول ژوند یې له همدغو دوو سندرو څخه جوړوي .

خو نن برېښنا خوښه وه، هغې په لوړ غږ د اوګۍ سندره ویله .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سراج او امنې ورته د کوټې له کړکۍ نه کتل، دواړه هېښ پاتې وو، اخر برېښنا هېڅکله هم د مور و پلار تر مخې نه وه نڅېدلې او نه يې د سندرو لپاره خپلې ګلابي شونډې پرانيستې وې. سره له دې چې د برېښنا پلار سراج سندرې او نڅا د نڅاګرو کړنه ګڼله او تل به يې دا کار غانده او ويل به يې چې دا عبسات دی، ژوند، ژوند دی هغه که ښه وي، که بد، په ګډا او سندرو نه ژوند رنګيني مومي او نه انسان اروايې کرارې دا کار د بد سترګو خلکو دی .

برېښنا دا خبرې په وارو، وارو له پلاره اورېدلې وې، ځکه خو يې ګډا نه وه زده، نو يوازې يې لاسونه او پښې په مزه خوځولې. خو د هغې ننۍ ګډا او سندرو سراج ته عجيبه خوند ورکړ، يوې خوږې موسکا د هغه وچې شونډې په خوځښت راوستلې، نن ورته برېښنا بد سترګې ونه برېښېده، بلکې لا يې د هغې د خوږې سندرې په ستاينه خوله خلاصه کړه :

ــ جلۍ! دغه د خلکو د خولو په سندرو کې څه عجيبه ښکلا پرته ده، ته ګوره په څه ساده کليماتو يې څه ښه ښکلی انځور جوړکړی دی:

شين غمی پرې کېږده

مرغلرې ترې چاپيره کړه

زرشه وزرګره

شيرين يار به مې خدای راولي

پس له غنم لو

ــ دبرېښنا دا سندره ډېره خوښېږي، خدای زده چې دا جلۍ ولې بس دغه دوې سندرې وايي.

ــبله کومه سندره وايي؟

سپينې سپوږمۍ وايه اشنا به چېرته وينه

ګونګۍ شوې ولې

ګونګۍ شوې ولې نه وايې حالونه.

ماددې له خولې نه له هغه وخته، چې په سرو سپينو پوهېدلې ده، بله سندره نه ده اورېدلې، چې د دې جلۍ ولې يوازې همدا سندرې پر خوله راځي .

ــ ښايي د دې په خاطر چې برېښنا زما لور ده او زما په شان يې سندرې او ګډاوې نه خوښېږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ نا، داسې نه ده، ته ببخې نه یې پوه شوی، وګوره برېښنا خپله خوښي په دې سندرې ښکاره کوي او د غم سندره خو یې هغه بله ده. کله چې انسان په یو څه خپل احساسات ښکاره کوي، هغه ورته ارزښت لري او هغه ورته له هر څه ګران وي .

ــښځې دا خبره پرېږده، وګوره زمونږ برېښنا بیا د پېغلتوب د وخت په شان خوښه ده، ما ته خو دا خوب ښکاري .

امنې تر سترګو لاندې برېښنا ته وکتل او په کرارۍ یې وویل:

ــ خو زه ډارېږم.

سراج برېښنا نه مخ امنې ته واړاوه او په خندانه ژبه یې وویل:

ــ ښه ته هسې هم د ډار ګوډی یې، ووایه چې بیا دې په زړه کې څه ګرځېدلي؟

ــما ویل که دا دعوه زمونږ برېښنا ونه ګټي؟

سراج لږ په ورو قهر ژلي غږ وویل:

نه، داسې به ونه شي .

ــاو که داسې وشي، نو بیا؟

ــ ته څه وایې ته له دې ډارېږې چې څرک به.......

ــهو! خو څرک به واخلي که نه.

ــوادې یې خلي، نر یې کې، زر یې کې .

ــدا څه وایې، د برېښنا پلاره؟

ــرښتیا وایم، ته وګوره دغه څرک زمونږ برېښنا ته څه ورکړي، ته ورته وګوره د هغه ګل غوندې برېښنا نه د غارونو بګوه جوړه شوې، دا زوی نه دی، د خدای قهر دی، زه یې له لمسي بېزاره کړی یم، هغوی هسې ورته ګوري .

امنې په هېښتیا سراج ته کتل، بیا یې انګړ ته سترګې واړولې، له انګړ خو لا دمخه د برېښنا د مستې خندا غږ راته، خو چې دې وروکتل، نو هېښه پاتې شوه، دا ځکه برېښنا پر څلورو روانه وه او څرک یې پر ملا ناست و، د برېښنا د تورو لونګینو وېښتو اوږده کوڅۍ یې کلکله نیولې او برېښنا ته یې چو، چو ویل.

خو د برېښنا د مستې خندا څپو د څرک د ټیټ غږ چو، چو له ځان سره لوټه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــدا دونه ډېر شاهدان او دا د عدلي معايناتو نتيجه لورې زه داسې فکرکوم، چې دا هر څه پيسو په چپه اړولي، که نه رښتيا خو داسې نه وه .

برېښنا ته يې وکتل، هغې خپل مخ نه و پټ کړی، ځکه خو يې په ښکلو سترګو کې هر څه ښکارېدل، سراج بيا وويل :

ـــ دوی دا ام پلمه ونيوله، چې ګنې مونږ د هلک د لويولو پيسې نه لرو، اوس نو غريبي هم فيصلې بدلوي، که نه نوره څه خبره پاتې نه وه. تر سترګو لاندې يې برېښنا ته وکتل، هغه هماغسې په لوڅ مخ غلې روانه وه، ان د سترګو د نظر ټکی يې هم نه ښکارېده، د دې لپاره چې هغه پر خبرو راولي، سراج بياوويل:

ـــزويه! ته ځوانه يې، لا ډېره ځوانه او بل که اولاد څونه لرې وي، څونه يو بل ونه پېژني، يو بل ونه ويني، د دوی تر منځ دارښته نه تمامېږي. زويه دا رشته پرته له خدايه هېڅ قدرت هم نه شي شلولی .

سراج دا وويل، بيا يې وړاندې وکتل. سلطان او حاجي يو بل سره څنګ پر څنګ روان وو، عقيده له ماشومه سره لږه ترشا روانه وه، چې کله، کله به يې تر شا هم نيم د ملنډو او غروره ډک نظر واچاوه، تر شا يې وکتل، هېڅوک نه و، دهلېز تياره او تش و، بيا يې برېښنا ته وکتل، برېښنا غلې وه، هماغه شان غلې وه. هغې سيده کتل، خو بانه يې نه خوځېدل، سراج بيا وغوښتل چې هغه پر خبرو راولي :

ـ رښتيا زويه! مونږ دونه پيسې کله لرو، چې څرک په ناز و نعمت کې لوی کوو، څه ښه وشو، چې خپل لمسی يې واخيست .

سراج د محکمې تر فيصلې وروسته چې د برېښنا په حق کې يې وکړ، خپل زړه او اوږې يې سپکې احساسولې. که څه هم برېښنا په محکمه کې څرک ته د شيدو په نه ورکولو تورنه شوه او دا خبره عدليې معايناتو هم تائيد کړې وه. برېښنا په دې تور چې د غريب لور ده او څرک په مړه خېټه نه شي ساتلای، له څرک محرومه شوې وه، خو بيا هم سراج خوښ و، هغه څو، څو ځله په زړه کې وويل :

ابې مړه شوه، تبه يې وشکېده .

تر سترګولاندې يې برېښنا ته وکتل، هغه داسې غلې وه، لکه هېڅ هم نه وي پېښ شوي. سراج لږ خوښ غوندې شو، له ځان سره يې وويل :

ـ اوس به نو هم ايله د برېښنا په کولموکې اوبه تودې شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریښنا ورو قدمونه تېزکړل، همدا چې له محکمې راوتله، نو له ټولو دمخه سړک ته ورسېده، تر شا یې وکتل، سراج په خپل مینه ناک نظر ونازوله . دې ترې په کراری مخ واړاوه، بیا یې تر هوایي ډګره پر غزیدلې سړک د نظر نیلی وځغلاوه، پر دغه سړک موټران داسې په منډو وو، هغه د چا خبره لکه اوګره چې سړېږي .

د ځغلنده موټرانوپه مخ کې یوې تورې ډاډسنې د لېونو تګ درلود، هغه له ټولو تېزه وه، بریښنا قدمونه ګړندي کړل،اوس نو ترې څرک او عقیده هم تر شا پاتې وو ، څرک ته یې په یوه ناڅرګند نظر وکتل، لکه یوه بېګانه ته چې ګوري، خود دغو مړو نظرونو تر شا څه شور ماشور پروت و او د دغو بېګانه نظرونو ذهن زړه کومې پرېکړې ته چمتوالی کاوه، په دې نو هېڅوک نه پوهېدل، اخر هغه غلې وه، بې احساسه ښکارېده، لکه هېڅ چې هم ورڅخه نه وي اخیستل شوي، هېڅ او هېڅ نه وي شوې. ماشوم مور ته د ورتلو په هڅه ځان مخ خوا ته ورکش کړ، خو د عقیدې څواکمنو منګولو له یوه قدم ډېر پرېنښود، لکه د مور په لیدو چې د ماشوم زړه ډاډه شوی وي، داسې غلی شو.

بریښنا له څرکه په نرمۍ مخ واړاوه، بیا یې د سړک پر اوږدوالي نظر ښخ کړ، له لیرې څو ډاډسنې په منډه رارواني وې، بریښنا قدمونه چټک کړل، د سړک منځ ته یې وځغاستل، په همدې شېبه کې ډاډسنه د سترې محکمې له مخې په تیزۍ تېره شوه، د ډاډسنې له تېروېدو نه به شېبه نه وه تېره، چې د سړک پر مخ د وینو سرو لیکو د سراج پر سترګو تورې پردې راخورې کړې او له دې سره یوه وژونکې چوپتیا د څو شېبو لپاره راخوره شوه، په دې چوپتیا کې یوازېنی غږ، چې ډېر محسوس و، هغه دا وه چې عقیدې ورو د څرک لاس خوشې کړ او دا وړوکی غږ، دا هغه غږ و چې ټولو واورېد، خو له دې غږ سره سلطان عقیدې ته مخ راواړاوه او تر ژبې لاندې یې وویل :

_مورا! همدا دې غوښتل؟

حاجي په ټیټ غږ ورسره غبرګه کړه:

پام دې وي چې زرغونه هم ورسره وه.

بیا یې څرک ته وکتل، چې له ټولو نه جلا د سړک پر غاړه ولاړ و، اوس یې نو لاس عقیدې نه و نیولی او اوس یې یوه د لاس پسې شا و خوا کتل، هغه به کله شا او کله مخې ته وکتل، ګوندې خپله خواره او ډنګروکې مور بیا مومي.

۱۳۸۱\لیندۍ \ ۱۱

کابل څلورم مکروریان

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**